



# د لنینیزم بنسټونه

لیکوال: جوزف ستالین
ژباړن: لرغون لونګ

# د لنینیزم بنسټونه

**لیکوال: جوزف. ستالین**

**ژباړن: لـرغون لونګ**



И. Сталин

***پرتویی شگرفین در خواهد پاشید***

***بر جان های ملل- رفیق استالین***

احسان طبري

ژباړه ساده چاره نه ده. له ډېرو پخوا وختونو دا خبره دود ده چې «ژباړن خاین وي». د دې خبرې لامل دا دی چې، ډېری وخت ژباړن د ژباړې پر وخت، کله د لیکوال فکر او کله هم د هغې د بیان سبک ته زیان رسوي.

هره ښه ژباړه دوو شیانو ته اړتیا لري. لمړی د اصلي متن د منځپانگې په لېږدولو کې دقت او دویم هغه یې د ژباړې روانوالی دی. دې دوو ته په ادبي نومونو دقت او سلاست ویل کېږي. دقت او سلاست دواړه یو له بل سره په تضاد کې دي. په دې مانا چې که موږ دقت په پام کې نیسو، نو ژباړه مو ټکي پر ټکي او ناسلیسه راځي، خو که بلخوا یوازې د ژباړې په روانوالي پسې ځو، نو د هغې دقت زیانویني. د دغو دوو متضادو قطبونو بهترینه پیوند، چې د یوې ښې ژباړې ځانگړنه ده، ساده چاره نه ده او ډېر اوږده ازمېښت ته اړتیا لري. پر دې سربېره ژباړن باید پر هغه ژبه پوره برلاسی وي، چې غواړي ترې ژباړه وکړي، هم له هغه سکالو سره پوره بلد وي، چې ژباړي یې او هم یې لیکوال وپېژني .

ما د پورته ټکو په پام کې نیولو سره، د ستالین د دغې بې جوړې او ارزښتمن کتاب ژباړې ته لاس واچوه، خپله پوره هڅه مې کړې چې کتاب دقیق خو په ښکلې او روانه پښتو را وژباړم. په پښتو ژبه کې خو اول له لویه سره بیخي علمي او ساینسي کتابونه نشته، بیا د مارکسېستي فلسفې کتابونه خو ډېر زیات کم دي او د لنینېزم اړوند کتاب نو بیا بیخي نه وو. موږ د دې اثر په ژباړې سره هڅه کړې ده چې دا تشه تر یوه ځایه ډکه کړو.

د ستالین له ارزښتمنو آثارو او معنوي میراثونو څخه یو یې همدا «د لنینېزم بنسټونه» اثر دی، چې د ولادیمیر ایلیچ لنین تر مړینې وروسته، د سوردولف پوهنتون کې د ده د ویناوو له ټولگې څخه جوړ سوی دی. د ستالین د هغو ویناوو لیکلی متن د ۱۹۲۴ کال د اپرېل له ۲۶ مې، د مې میاشتې تر ۱۸ مې پورې د «پراودا» په ورځپاڼه کې خپور سو او په پای کې د یوه کتاب په بڼه،

«د لنینېزم بنسټونه» تر سرلیک لاندي چاپ شو. دا اثر چي د کلاسیکو مارکسېستي آثارو په جمع کې راځي، ستالین پکې مارکسېزم ته د ارتقاء ورکونې د یو تکاملي پړاو په توګه، د لنینېزم ونډه او د هغه عمومي اساسات تشریح کړي.

د لنینېزم یا هماغه د (امپریالیزم د پېر مارکسیزم) علم د کارګري طبقې د تشکل، تحزب، سیاسي کیدنې، د مخکښانو د کادري – سیاسي روزنې، سیاسي ځواک اخیستنې د وړتیاوو پیدا کولو او د هغه د ساتنې د څرنګوالي د تیورۍ او تاکتیک علم دی. دا علم د انقلابي او کارګري بهیرونو د سیاسي او انقلابي مبارزو د مخته وړلو لپاره، د یو ډېر مهم تیوریک لارښود په توګه د لوړ ارزښت درلودونکی دی.

تمه مو دا ده چي د دې اثر ژباړه به د پښتانو د علمي، سیاسي او انقلابي شعور په لوړاوي کې اغېزمن تمام شي او د پښتني ټولنې مخکښ انقلابي مبارزین به وکولای شي چې د دې علم له لارښوونو څخه، د ټولنیزو بدلونونو پر مهال په نوښتګر ډول ګټه واخلي.

ژ. [ل.ل]

# لیکلړ

**سرلیک .................................................مخگڼه**

د لنینېزم بنسټونه ............................................................ ۱

د لنینېزم تاریخي شالید .................................................... ۵

تګلاره........................................................................... ۱۵

تیوري ........................................................................... ۲۸

پرولتاري دېکتاتوري ......................................................... ۵۵

بزګري مسأله ................................................................ ۷۵

ملي مسأله .................................................................... ۹۶

ستراتېژي او تاکتیک ...................................................... ۱۱۱

ګوند ............................................................................ ۱۳۸

کاري لاره (سبک) .......................................................... ۱۶۱

# د لنینیزم بنسټونه

هغه ویناوې چې د سوردولف په پوهنتون کې اورول شوي.

***په لنیني بلنه یې وړاندې کوم!***
***ج. ستالین***

د لنینیزم بنســټونه ډېر پراخ بحث دی. که ډېر یې هم را لنډ کړو، نو د رڼاوي لپـاره یې یو بشــپړ کتـاب اړین دی، نه یوازې یو کتاب، بلکې یو لړ کتابونه؛ ځکه نو طبیعي ده چې زما دا لکچرونه، د لنینیزم بشـپړه سپړنه نه شي کېدای. دې لکچرونو ته په خپل هغه بهترین شکل کې، یوازې د لنینستي اصولو یوه لنډکۍ شــننه ویلای شــو. دې مســألې ته په پام، بیا هم د دې لنډکۍ شــننې اورول غوره ګڼم؛ ځکه ځینې هغه لمړنۍ و بنسټیزې مسألې به وشني، چې پر لنینیزم د پوهېدلو لپاره اړینې دي.

د لنینستي اصـولو ښنه دا مانا نه لري، چې د لنین د نړۍ لید اصول وسپړو. د لنین نړۍ لیـد او د لنینېزم اصــول د حجم لـه پلوه یو شـــان نـه دي. لنین مارکسېست دی او څرگنده خبره ده چې د ده د نړۍ لید بنسټ هم، مارکسېزم دی. خو دا مسأله هېڅکله د دې لامل نه شـي کیدای، چې د لنینېزم سپړنه د مارکسـېسـتي اصـولو له سـپړنې را پیل کړو. د لنینېزم بیان د هغو ځانگړنو او نوښــتونو بیان دی، چې د لنین په اثارو کې شــته او لنین هغه د مارکســېزم پر خزانې ور اضافه کړې، نو طبیعي ده چې د لنین له نوم سره تړاو لري. زه به په خپلو وینـاوو کې یوازې پـه همـدې جـاج و مـانا، د لنینېزم پر اصـــولو بحث وکړم.

**ښه نو، لنینېزم څه شی دی؟**

ځېنې وایي چې لنینېزم د روســیې پـه ځـانگړو او جلا شــرایطو بـانـدې، د مارکســـېزم تطبیق دی. په دې تعریف کې د حقیقت یو بځرکی لېدل کیږي، خو ټول واقعیتونه نه. لنین رښتیا هم مارکسـېزم د روسیې په شرایطو کې پلی کړ او دا چاره یې په ډېر مهارت سرته ورسوله. خو که لنینېزم یوازې د روسیې په ځانگړو شــرایطو کې د مارکســـېزم یو ســاده تطبیق وي، نو بیا خو لنینېزم یوازې او یوازې یوې ملي او روسي ښکارندې (پدېدې) ته پاتېږي. په داسې حال کې چې موږ ټول پوهیږو لنینېزم یوه نړیواله پدېده ده؛ نه روســي. او په ټول نړیوال بشــپړتیـایي بهیر کې ریښـــه لري، نو ځکـه زه فکر کوم چې دا تعریف، له دې لامله چې یو اړخیز دی، نیمگړی دی.

یوه ډله نور بیا وایي چې لنینېزم د نولسمې پېړۍ د ۱۸۴۰ - ۱۸۵۰ ز. کلونو د انقلابي مارکسېزم بیا احیاء ده او د هغه وروستیو کلونو له مارکسېزم سره، چې ګوندې منځلارۍ او ناانقلابي شوی وو، سر نه خوري. که د مارکسیستي ښوونو پر دوو انقلابي او اعتدالي برخو له دې سولېدلې او احمقانه وېشه تېر شو، نو بیا هم باید دا اقرار وکړو چې آن په دې نیمګړې او نیمه-خوا تعریف کې هم د حقیقت یو بځرکی شته. د حقیقت هغه بځرکی دا دی چې لنین رښتیا هم د مارکسېزم هغه انقلابي محتویات، چې د دویم انټرناسیونال اپرچونېستانو، تر خاورو لاندې خښ کړي وو، بیرته را ژوندي کړل. خو دا یوازې د حقیقت یو جزء دی. د لنینېزم په اړه ټولیز حقیقت دا دی چې لنینېزم، نه یوازې مارکسېزم یو ځل بیا له سره احیاء کړ، بلکې له هغې یې یو ګام وړاندې هم کېښود او مارکسېزم ته یې د پانګوالۍ او پرولتاریا د طبقاتي مبارزې په نویو شرایطو کې بشپړتیا او پراختیا ورکړه.

نو په پای کې لنینېزم څه شی دی؟

لنینېزم، د امپریالېزم او پرولتاري انقلاب د پېر مارکسېزم دی. په ډېر دقیق ډول:

لنینېزم په ټولیزه توګه د پرولتاري انقلاب تیوري او تاکتیک او په ځانګړې توګه د پرولتاري دېکتاتورۍ، تیوري او تاکتیک دی. مارکس او اینګلز له انقلابه په وړاندې پړاو کې (موخه مې پرولتاري انقلاب دی) د عمل ډګر ته دننه شول، یانې هغه وخت چې پانګوالۍ امپریالېزم ته تکامل نه وو کړی، هغه وخت چې پرولتاریا د انقلاب لپاره په چمتوالي بوخته وه او هغه وخت

چې د پرولتاریا انقلاب لا تراوسه په عملي او سیده ډول شوني نه وو، خو لنین چې د مارکس او اینګلز شاګرد وو، په داسې پړاو کې د عمل ډګر ته دننه شو، چې پانګوالي تر امپریالېزمه بشپړتیا موندلې وه، د پرولتاریا انقلاب ورځ بلې ته پراختیا موندله او نور نو د پرولتاریا انقلاب عملاً په یوه هېواد کې بریالی شوی وو، بورژوازي دېموکراسي یې راپرځولې وه او د پرولتاري دېموکراسۍ او شوراګانو پېر یې پیل کړی وو.
له همدې لامله لنینېزم د مارکسېزم بشپړتیایي (تکاملي) پړاو ګڼل کېږي.

په دودیز ډول ویل کېږي چې لنینېزم فوق العاده جګړه ییز او انقلابي خصلت لري. دا بالکل سمه خبره ده، خو د لنینېزم دا ځانګړنه دوه لاملونه لري: اول دا چې لنینېزم د پرولتاري انقلاب له ژورو څخه راوتلای او نه شي کېدای چې د هغې نښې نښانې دې پر خپله څېره ونه لري. دویم دا چې لنینېزم د دویم انټرناسیونال د اپرچونېستانو پر خلاف جګړه کې، چې د هغوی سره جګړه او مبارزه، د پانګوالۍ ضد مبارزې د بریالیتوب لپاره اصلي و لمړنی شرط وو، روزل شوی او پوخ شوی دی.
د یادولو ده چې له یوې خوا د مارکس او اینګلز ترمنځ او له بلې خوا د اینګلز او لنین ترمنځ مهالپېر داسې وو، چې د دویم انټرناسیونال اپرچونېزم پکې بې سیاله واکمني کوله او د دې اپرچونیزم پرخلاف بېرحمانه مبارزه، د لنینېزم له اړینو دندو څخه یوه وه.

# ۱

# د لنينېزم تاريخي شاليد

لنينېزم د امپرياليزم په شــرايطو کې، کله چې د پانگوالۍ تضــادونه تر خپل وروســتي بريـده رسـيدلي وو، کله چې پرولتاري انقلاب يوه بېړنۍ ورځنۍ موضوع گرځېدلې وه او کله چې د انقلاب لپاره د کارگرې طبقې د چمتوالي تېر شـوی پېر، بل نوې، په پانگوالۍ د سيده (مستقيم) بريد پېر ته اوښت، را زرغون شو او وده يې وکړه.

لنين امپريـاليزم "نيمژوانـدي پـانگوالي" وبللـه. ولې؟ ځکه چې امپرياليزم، د پانگوالۍ تضـادونه تر خپل وروسـتي بريده رسـوي، چې وروسته له هغې نو انقلاب پيليږي. له دغو تضادونو يې درې ډېر مهم تضادونه دا دي:

<u>لمړی تضاد</u> - د کار او پانگې ترمنځ تضاد دی. امپرياليزم په صنعتي هېوادونو کې د ټيکه والو (انحصـاري) ټراســټونو او ســنديکاوو، بانکونو او مالي

الیګـارشــۍ مطلق ځواک ته وایي. د دې مطلق ځواک ســره په مبارزه کې، څرګنـده شــوه چې د کـارګرې طبقې دودیزې لارې چارې لکـه - کارګري ټولنې او کوپراتیفونه، پارلماني ګوندونه او پارلماني مبارزې- هېڅکله بسنه نه کوي. یا د پانګې زړه سوي ته ځان وسپاره او د تېر په څېر د نېستۍ او پستۍ ژوند تـه غاړه کېږده او یـا یوې نوي وســلې تـه لاس کړه. دا همـاغـه بدیل (الترناتیف) دی چې امپریالېزم یې د میلیونونو کارګري پرګنو مخې ته ږدي. امپریالېزم کارګره طبقه پخپله د انقلاب خواته ټېل وهي.

دويم تضــاد – د اومو (خامو) توکو ســرچینو ته د لاســراســي او نورو ډېرو خاورو لاندې کولو لپاره، د بېلابېلو مالي ډلو او امپریالېســتي ځواکونو ترمنځ تضــاد دی. امپریـالېزم د اومو توکو ســرچینو تـه د پـانګې لېږدونـه، د دغو سـرچینو د انحصاري څښتنولي لپاره لېونۍ مبارزه او د وېشل شوي نړۍ د بیا وېش لپاره جګړه ده؛ هغه جګړه چې مالي ډلې او نوې رسېدلي امپریالېستي دولتونه یې په ډېر قهر و غضـــب، د پخوانیو ډلو او دولتونو پر خلاف چې لا پر خپلو قبضــو کلک نښــتي، مخ ته وړي. د بېلابېلو پانګوالو ډلو ترمنځ دغه لېونۍ مبارزه، له دې پلوه هم ډېره د پاموړ ده، چې د یوه هرومرو پېښېدونکي عنصــر په توګه امپریالېســتي جګړې، یانې هغه جګړې چې د بهرنیو خاورو لاندې کولو لپاره ترسره کېږي، له ځانه سره لري. دغه شرایط په خپل وار د امپریـالېســتـانو پـه متقـابلې کمزورۍ تمـامېږي او په ټولیز ډول د پانګوالۍ مورچلونه لړزانده کوي او د پرولتاري انقلاب لپاره لاره هواروي.

دريیم تضـــاد - د یو لړ واکمنو "متمـدنو" ملتونو او د نړۍ د مســتعمره او ناخپلواکو ملتونو د ســلگونو میلیونو خلکو ترمنځ تضــاد دی. امپریالېزم د پراخو مســتعمره او تړلو هېوادونو د ســلگونو میلیونـه خلکو ترټولو ســپین سـترگی زبېښــاک او ترټولو بېرحمـانـه مرییتوب دی. د دې زبېښــاک او زورزیاتي یوازینۍ موخه د اضــافي گټې ترلاســه کول دي. خو امپریالېزم، د دغو هېوادونو د زبېښاک سره سره، اړ دی چې هلته وسپنیزې لارې، فابریکې او ســوداگریز و صــنعتي مرکزونه هم جوړ کړي. د پرولتاریا پیدایښــت، د ځایي (بومي) روڼ اندو راڅرگندېدنه، د ملي اندونو راویښــېدنه، د ازادیپالو غورځنگونو پیاوړي کېدنه؛ دا دي د دې "ســیاســت" پایلې. له یوې مخې په ټولو مستعمره او ناخپلواکو هېوادونو کې د انقلابي غورځنگونو ځواکمنېدل، د دې حقیقت یو څرگند زباد دی. دغه شــرایط د پرولتاریا لپاره له دې پلوه هم ډېر ارزښــمن دي چې د پـانگوالۍ مورچلې لـه ریښــو ویجاړوي او تر استعمار لاندې یا ناخپلواک هېوادونه د امپریالېزم له زېرمو څخه د پرولتاري انقلاب په زېرمو بدلوي.

پـه ټولیز ډول د امپریـالېزم هغـه عمـده تضــادونـه همـدا دي، چې پخوانۍ "غوړېدونکي پانگوالي" په " نیمژواندي پانگوالۍ" بدلوي.

په دې ټولو خبرو ســربېره د امپریالیســتي جگړې ارزښــت، چې لس کاله وړاندې یې اور بل شـو، په دې کې دی چې دا ټول تضادونه یې په یوه غوټه کې را غونـډ کړل، د تلې پـه یوې خوا یې واچول او د پرولتـاریـا جگړې یې چټکې او اسانه کړې.

په نورو ټکو، امپریالېزم نه یوازې د دې لامل شو چې انقلاب یې په یو حتمي پېښېدونکي عمل بدل کړ، بلکې د پانګوالۍ په مورچلونو باندې یې د سیده او مخامخ یرغل لپاره مناسب شرایط هم رامنځ ته کړل.
دا هغه نړیوال وضعیت وو چې لنینېزم پکې وزېږېد.
ښه نو، ښايي تاسو کې یې ځېنې ماته ووایاست چې دا ټولې خبرې سمې دي، خو دا مسایل له روسیې سره څه تړاو لري، هغه چې پخپله یو کلاسیک امپریالېست هېواد نه وو او نه هم کیدلای شو؟ له لنین سره څه اړیکه لري، چې له ټولو وړاندې په روسیه کې او یوازې د روسیې لپاره لګیا وو؟ ولې روسیه په ځانګړې ډول د لنینېزم ټاټوبی او د پرولتاري انقلاب د تیورۍ او تاکتیک وطن وګرځېد؟
ځکه چې د امپریالېزم د دې ټولو تضادونو غوټه روسیه وه.
ځکه چې روسیه له نورو ټولو هېوادونو وړاندې د انقلاب لپاره چمتو شوې وه او ځکه نو یوازې دې کولای شول، چې دا ټول تضادونه له انقلابي لارې حل کړي.
راځئ! له دې یې پیل کړو چې تزاري روسیه په هغه ترټولو ناانساني او بربري بڼه کې د هر ډول - پانګوالي، ښکېلاکي او نظامي- ظلمونو کور وو. څوک نه پوهېږي چې په روسیه کې د پانګې مطلق ځواک (پانګواکي) له تزاري استبداد، د ناروسي ملتونو خلاف د روسي ملتپالنې له جلادي رول، د تزارېزم له لوري د تورکیې، ایران، چین او د دې ټولې سیمې له یو ځایي زبېښاک او نیواکګرانه جګړو سره مل وو؟ لنین په حقه وو چې ویل به یې، تزارېزم

"نظامي- فیوډالي امپریالېزم" دی. تزارېزم د هغه خورا ناوړه امپریالېستي ځانګړنو د راټولېدو ټکی وو، چې ډېرې لوړې کچې ته یې ارتقا کړې وه.
بله دا چې تزاري روسیه پخپله د لویدیځ امپریالېزم لپاره یوه ستره زېرمه وه، یوازې له دې اړخه نه چې د بهرنۍ پانګې (هغه پانګه چې د روسیې ملي اقتصاد د خورا بنسټیزو څانګو لکه د سون توکو او متالورژۍ ( فلز را ایستنې ) د صنعت واګې یې په لاسونو کې وې) پرمخ یې ازادانه لاره پرانېستې وه، بلکې له دې اړخه هم، چې کولای یې شول د لویدیځ امپریالېزم په ګټه میلیونونه سرتېري ورکړي. هغه ۱۴ میلیوني ځواکمن روسي پوځ در یاد کړئ چې د برتانیایي او فرانسوي پانګوالو د سترو ګټو خوندي کولو لپاره یې په جبهو او مورچلونو کې وینې تویولې.
او بله دا چې تزارېزم نه یوازې په ختیزه اروپا کې د امپریالېزم ساتونکی سپی وو، بلکې د لویدیځ امپریالېزم لاسپوڅی هم وو، ځکه دوی د هغو پورونو په بدل کې چې په پارېس، لندن، برلېن او بروکسل کې ورکول کېدل، له خپلو خلکو څخه [د بیا ادایني په موخه] سلګونه میلیونه اخېستلې.
او په پای کې تزارېزم د تورکیې، ایران، چین او داسې نورو سیمو د ویشنې په برخه کې د لویدیځ امپریالېزم تر ټولو کلک او وفادار ملګری وو. څوک نه پوهېږي چې تزارېزم امپریالېستي جګړه، عملاً د انتانت له امپریالېستانو سره په ګډه مخ ته وړله او روسیه د دې جګړې یو مهم عنصر وو؟ ځکه نو د تزارېزم او امپریالېزم ګټې سره تړلې او په پای کې د امپریالېستي ګټو په یوه واحده کړۍ کې یو له بل سره یو ځای کیدې.

ایا لویدیځ امپریالېزم کولای شول چې په ختیځ کې د دوی د دومره غښتلي تکیه‌ځای او د تزاري روسي بورژوازۍ غوندې د ځواکونو او وسایلو د دومره بډایه زیرمې له لاسه ورکولو ته غاړه ایښې وای؟ هرګوره چې نه یې شول کولای! نو دوی باید خپل ټول ځواک د روسي انقلاب پر ضد، د یوې برخلیک ټاکونکي او خونړۍ جګړې لپاره را غونډ کړي او د تزارېزم د دفاع او ساتنې لپاره یې کارولای وای.
له همدې ځایه دا په ډاګه کېږي، چې که چا د تزارېزم را پرځول غوښتلای، نو دا یې ارومرو له امپریالېزم سره پنجه نیوله، یانې څوک چې د تزارېزم پر ضد پاڅون کوي، باید د امپریالېزم پر ضد هم پاڅون وکړي، ځکه څوک چې تزارېزم را پرځوي، باید امپریالېزم هم را وپرځوي. په دې توګه د تزارېزم پر ضد انقلاب، د امپریالېزم ضد انقلاب او پرولتاري انقلاب ته ورنژدې کېږي او باید د خپلې ودې سره همهاله په هغې بدل شي.
همدا وخت په روسیه کې ترټولو لوی ملي انقلاب په راپورته کېدو وو او په سر کې یې د نړۍ ترټولو انقلابي پرولتاریا ولاړه وه، چې د روسیې د انقلابي بزګرانو غوندې ټینګ ملګری (متحد) یې هم ترڅنګ ولاړ وو.
ایا دا خبره کوم زیاد ته اړتیا لري، چې دغه ډول انقلاب نو نه شو کېدلای چې په نیمه لارې کې پاتې شي او د بریالیتوب په حالت کې لا وړاندې تګ ونه کړي او د خپل پاڅون بیرغ د امپریالېزم پر ضد پورته نه کړي؟
ځکه نو روسیه اړ وته چې د امپریالېستي تضادونو په مرکز بدله شي. د دې لامل یوازې دا نه وو، چې دا تضادونه د خپل هغه بدرنګ او نه نازغمېدونکي

ماهیت له کبله د نورو ټولو ځایونو څخه په روسیه کې اسانه را څرګندېدل، یا دا چې روسیه د لویدیځ امپریالېزم ترټولو ارزښمن تکیه‌ځای او د لویدیزې مالي پانګې او د هغوی د ختیزو مستعمرو سیمو نښلوونکي وه، بلکې ترټولو مهم لامل یې دا وو، چې یوازې په روسیه کې یو داسې رښتینی ځواک چې د انقلاب له لارې د امپریالېزم تضادونو حل کړي، موجود وو.

له دې ټولو خبرو دا پایله ترلاسه کېږي، چې د روسیې انقلاب باید په پرولتاري انقلاب بدل شوی وای، د خپلې پراختیا له لمړۍ ورځې څخه یې نړیوال اړخ پیدا کړی وای او د نړیوال امپریالېزم جرړې یې ایستلې وای.

ایا روسي کمونېستانو په دغسې وضعیت کې کولای شول، چې خپلې ټولې چارې یوازې د روسیې د ملي انقلاب په لنډه و تنګه اډانه کې ایسارې کړي؟ البته چې نه! سرچپه، ګرد سره وضعیت، هم داخلي (ژور انقلابي کړکېچ) او هم بهرني (جګړې) هغوی دې ته څنډه وهل چې په خپلو چارو کې له دغو تنګو پولو څخه تېری وکړي او مبارزه نړیوال ډګر ته ولېږدوي، په ټولو ځایونو کې د امپریالېزم ټپونه بربنډ کړي، د پانګوالۍ حتمي ماتي په زباد ورسوي، سوسیال شوونېزم او سوسیال پاسیفېزم تس نس کړي او په پای کې پانګوالي په خپل هېواد کې را وپرځوي او د پرولتاریا د مبارزې لپاره یوه نوې وسله چې د پرولتاري انقلاب تیوري او تاکتیک ده، وتوږي او د نورو ټولو هېوادونو پرولتاریانو لپاره د پانګوالۍ را پرځول اسانه کړي. روسي کمونېستانو له دې چارې پرته بله هېڅ لاره نه درلوده، ځکه یوازې له همدې لارې، په نړیوالو شرایطو کې د یو لړ ټاکلو بدلونونو د منځ ته راتلو تمه

کېدای شوه، چې روسيې ته د بورژوازي رژيم د بيا ورگرځېدنې پر وړاندې خونديتوب ورکړي.

همدغه لاملونه وو چې روسيه د لنينېزم مرکز او د روسي کمونېستانو لارښود لنين، د هغې پنځوونکی جوړ شو.

د روسيې او لنين په اړه کابو هماغه "تصادف" پېښ شو چې د تېرې پېړۍ په ۱۸۴۰ - ۱۸۵۰ ز. کلونو کې د جرمني او مارکس- اينگلز په اړه پېښ شوی وو. جرمني هم په هغه وخت کې، د روسيې د شلمې پېړۍ د پيل غوندې، د بورژوازي انقلاب لپاره چمتو وه. مارکس هغه وخت "په کمونېست مانوفېست" کې ليکلي وو چې:

«کمونېستان ځکه خپل ټول پام د جرمني لور ته اړوي چې، دا هيواد د بورژوازي انقلاب پر درشل ولاړ دی او دا انقلاب به د اروپا په يوه پرمختللي چاپيريال کې، د هغو پرولتارياوو په مرسته چې د انگلېستان د ۱۷ مې او فرانسې ۱۸ مې پېړۍ د پرولتارياوو څخه پرمختللي دي، تر سره کړي. ځکه نو د جرمني بورژوازي انقلاب کېدلای شي، چې له واره د پرولتري انقلاب پيلامه وگرځي [1].»

په نورو ټکو د انقلابي غورځنگ مرکز، جرمني ته په لېږديدو وو.

بې له شکه همدغه حالت، چې مارکس يې په خپله ليکنه کې يادوي، د دې لامل وو، چې جرمني د علمي سوسيالېزم ټاټوبی وگرځېد او مارکس- اينگلز

---

۱- وگورئ: "د کمونېست گوند مانوفېست".

- د جرمني پرولتارياوو لارښوونکي- پکې وپنځېدل. همدغه خبره بايد په لږ ډېر ټينگار سره، د روسيې د شلمې پېړۍ د پيل په اړه هم وويل شي. په دغه پېر کې روسيه د بورژوازي انقلاب پر درشل ولاړه وه او بايد چې دغه انقلاب يې د اروپا په پرمختللو شرايطو کې او د نولسمې پېړۍ د څلوېښتمو کلونو له جرمني څخه (فرانسه او انگلېستان هم خپل ځای لري) د پرمختللي پرولتاريا په لاس سرته رسولای وای. ټولو شته دليلونو دا زبادوله چې دغه انقلاب بايد د پرولتاري انقلاب څپه او پيلامه وگرځي.

دا حقيقت نابېري (تصادفي) نه شو گڼلای چې لنين آن پر ۱۹۰۲ ز کال، هغه وخت چې د روسيې انقلاب لا په جينيني حالت کې وو، په خپله رساله "څه بايد وکړو؟" کې دغه معجزه ډوله خبرې ليکلي:

« تاريخ اوس زموږ (ياني د روسي مارکسېستانو، ج. ستالين) په مخه کې ترټولو نژدې دنده، چې د بل هر هېواد د پرولتارياوو له نژدې دندو په وارو-وارو انقلابي ده؛ ايښي ده. د دې دندې سرته رسول به، ياني د ارتجاع تکيه‌ځای وېجاړول، چې نه يوازې په اروپا، بلکې په اسيا کې هم ترټولو پياوړی تکيه‌ځای دی، د روسيې پرولتاريا د نړيوالې انقلابي پرولتاريا په سرلاري بدله کړي.» (وگورئ د روسي چاپ ۴ ټوک، ۳۸۲ مخ)

په بله وينا، د انقلابي غورځنگ مرکز بايد روسيې ته ولېږدي. څنگه چې پوهېږو، په روسيه کې انقلابي بهير د لنين دغه وړاندېينه، له هغې هم ډېره چې تمه يې کېده، په زباد ورسوله.

کله چې يو هېواد دغسې انقلاب سرته ورسوي او بيا دغسې پرولتاريا ولري، نو دا هېښنــــده نـه بريښـــي چې ووايو دا هېواد څنگـه د پرولتاري انقلاب د تيورئ او تاکتيک وطن جوړ شوی دی؟

په دې کې څه شـی د هېښ وړ دي چې د روسـي پرولتاريا سـرلاری لنين، د دې تيورئ او تـاکتيـک پنځوونکی او همهاله د نړيوالې پرولتاريا ســرلاری جوړ شوی دی؟

# ۲

# تګلاره

پورتــه مې وويــل چې له يوې خوا د مارکس او اينګلز ترمنځ او له بلې خوا د اينګلز او لنين ترمنځ وختونو کې، د دويم انترناســيونال اپرچونېزم واکمن وو. د دې خبرې د لا ســپيناوي لپاره بايد زياته کړم، چې دلته مســأله د دغه اپرچونېســتي ولکې د رســموالي پر ســر باندې نه ده، بلکې د دغې ولکې د رښتينوالي پر سر باندې ده.

په رسـمي ډول د دويم انترناسـيونال په سـر کې "پرهيزګاره" مارکسـېسـتان او "ارتدوکس" مارکســېســتان لکه کايوتســکي او داســې نور ولاړ وو، خو په حقيقت کې، د دويم انترناســيونال چارې د اپرچونېزم پر ليکه مخ ته رواني وې. اپرچونېسـتانو د خپل سـازښتکارنه او ووړ بورژوازي خصلت پر بنسټ، له بورژوازۍ سره جوړجاړی کاوه.

"ارتدکسانو" هم په خپل وار یوازې د "یووالي ساتلو" او په گوند کې "د سولې تامینولو" په پلمه، له اپرچونېستانو سره جوړجاړی کاوه. په دې ډول نو د اپرچونېستانو تسلط عملي بڼه خپلوله، ځکه د زنځیر هغه دواړه سرونه چې د بورژوازي سیاست او د "ارتدکسانو" د سیاست ترمنځ کښل شوي وو، له یو بل سره یو ځای کېدل.

په پرتلیز ډول دا د پانگوالی د تکامل سوله ییز پېر وو، د جگړې له پیلېدو څخه وړاندې پېر، یانې هغه وخت چې د امپریالېزم ناوړه تضادونه لا په بشپړه توگه نه وو راڅرگند شوي، هغه وخت چې د کارگرانو او کارگري ټولنو اقتصادي اعتصابونه، لږ او ډېر "عادي" پر مخ تلل، هغه وخت چې انتخاباتي مبارزو او پارلماني فراکسیونونو "هېښنده" بریاوې خپلولې، هغه وخت چې د مبارزې د علني او قانوني بڼو بې خرته ډېره ستاینه کېده او داسې اند موجود وو، چې پانگوالي د علني کار له لارې "وژلای" شو. لنډه دا، یو داسې وخت وو چې د دویم انترناسیونال گوندونه، پرلپسې غټېدل او څوربېدل، خو نه یې غوښتل چې په ټینگه سره د انقلاب، پرولتاري دېکتاتوری او د خلکو د انقلابي روزنې په اړه فکر وکړي.

د یوې بشپړې انقلابي تیوری پر ځای، له تضادونو ډک تیوریک قواعد ښکته پورته کېدل، چې د خلکو له ژوندی انقلابي مبارزې لرې او په زړو سولېدلو دوگمونو بدل شوې ول. البته د جولې او بڼې د ور برابرولو لپاره به یې د مارکس د تیوری یادونه هم پسې ځړوله، خو دا یوازې د دې لپاره، چې د هغې ژوندی انقلابي روح ترې په غدی ووهي.

د انقلابي سیاست پر ځای، د ورستې لنډ اندی، منځدریځو سیاسي کړتو او چنو وهنو او د پارلماني دیپلوماسۍ د تګی برګی بازار تود وو. البته د ظاهري ښکلا د ساتنې لپاره، انقلابي پریکړه لیکونه او شعارونه هم رامخې ته کېدل، خو یوازې د دې لپاره چې بیا یې د تاخونو په سوړو کې د ارشیف په بڼه خوندي کړي.

د ګوندي روزنې او ګوند ته د خپلو تېروتنو له مخې د سم انقلابي تاکتیک د ورښوونې پر ځای به یې، له دغو ستونزمنو او ناندریزو مسألو ځانونه تېرول او په هغو به یې ستر او پرده ور اچوله. البته بیا به هم د ظاهري رنګ و روغن د ساتنې لپاره دې سره مخالفت نه کېده، چې د ناندریزو او ستونزمنو ربړو په اړه خبرې اترې وشي، خو یوازې د دې لپاره چې بیا خپلې چارې د یو ربړن (الاستیکي) پریکړه‌لیک په صادرولو سره پای ته ورسوي.

دغه وه د دویم انترناسیونال رښتیني څېره او قیافه، د کار مېتود او د وسلو زېرمه تون یې.

په همدې منځ کې د نویو امپریالیستي جګړو او د پرولتاریا د انقلابي اخ و ډب پېر په رانژدې کېدو وو، د مطلقې مالي پانګې د ځواک پر وړاندې، د مبارزې پخوانۍ لارې- چارې په څرګند ډول بس نه وې او کمزوري برېښېدې.

پکار وه چې د دویم انترناسیونال په ټولو فعالیتونو او کاري میتود له سره بیاکتنه شوې وای. شته لنډ اندي، پخ مغزي، سیاسي بېلاري او ټګماري، سوسیال- شوونېزم او سوسیال- پاسېفیزم له مخې پورته شوي وای. پکار وه

چې د دویم انترناسیونال ټول سلاکوټ پلټل شوی وای، زنګوهلي او له موده لوېدلی شیان ترې لرې غورځول شوي او نوي ډول وسلې تیارې شوې وای. د یو دغسې پیلیز کار له سرته رسولو پرته، د پانګوالی سره جګړې ته وتل، ځان وژنه وه. له دې پرته شوني وه چې پرولتاریا، د نویو انقلابي ټکرونو پر وړاندې د وسلو له کمښت او یا بشپړ بې وسلې والي سره مخ شي.

د دویم انترناسیونال د دغو اوګیاسي غوجلو[1] د بشپړې پاکونې ویاړ، د لنینېزم په برخه شو. په همدغسې شرایطو کې، لنینېستي تګلاره منځته راغله او بیا پسې پوخ والي ته ورسېده. که یې لنډه ووایو، نو هغه څه چې دا تګلاره یې غوښتونکي ده، څه شی دي؟

اول، د ولسي انقلابي مبارزو په اور او د ژوندي پراټیک په لمبو کې، د دویم انترناسیونال د تیوریکو دوګمونو ازمایل، یانې د تیوری او پراټیک ترمنځ د مات شوي یووالي بیارغاونه او د دغو دوو ترمنځ پیدا شوی درز بیا پیوندول، ځکه یوازې له همدې لارې، یو رښتینی په انقلابي تیوری سمبال پرولتاري ګوند، پنځولای شو.

۱- اوګیاس- انګلیسي(Augeas): په پخوانیو یوناني اسطورو کې د ایلیس ښار پاچا وو. اوګیاس ډېرې لویې لویې غوجلې درلودې، چې تر دریو زرو پورې غواګانې به پکې پنډې وې. خو هېښنده دا وه چې پوره دېرش کاله نه وې پرېولل شوي، تر هغې چې "**هېرکلیس**" د خپل پینځم شاهکار په توګه، د یوې ورځې په اوږدو کې، د دوو سیندونو د اوبو په ور سمولو، دغه غوجلې له یوې مخې پاکې او ومینځلې. [ډورانټ، وېل، د تمدن تاریخ، پخوانی یونان (دوهم ټوک) ژباړه: امیر حسین آریان پور.] د اوګیاسي غوجلو نومونه (اصطلاح) د هماغې اسطورې په پیروۍ، ډېر چټل شي ته ویل کېږي. په ځینو هېوادونو کې له فساده ډکو دولتي ادارو او مرکزونو ته هم دا میتالوژیک ترکیب کارول کېږي. (ژ.ل.ل)

دویم، د دویم انترناسیونال د ګوندونو د سیاست ازمایل، نه د دوی د شعارونو او پرېکړه لیکونو لـه مخې (چې د بـاور وړ نـه دي)، بلکې د هغوی د عملي کار او فعالیت پر بنسټ، څکه یوازې له همدې لارې، د پرولتاري پرګنو باور ګټلای او د دې باور وړ کېدلای شو.

دریم، د انقلابي مبارزې لپاره د خلکو د روزلو او چمتو کولو پر بنســټ، په نوي انقلابي مېتود، د ټولو ګوندي چارو بیا سـمبالونه. څکه یوازې له همدې لارې خلک د پرولتاري انقلاب لپاره تیارولای شو.

څلورم، پـه پرولتاري ګوندونو کې له ځان ځخه د انتقاد اصـــل دودول او د خپلو تېروتنو لـه مخې د هغوی روزل، څکـه یوازې له همدې لارې د ګوند رښتیني کادرونه او رښتیني سرلاري روزولای شو.

همدغه د لنینیستي تګلارې، بنسټ او جوهر دی.

خو تګلاره په عمل (پراتیک) کې څه ډول پلي کېږي؟

د دویم انترناسیونال په اېرچونېستانو کې یو لړ جزمي ګروهې (دوګمونه) دود دي، دوی همېشه له هغې ګرد تاویږي. یو څو یې تر نظر تېروو.

**لمړی دوګم:** د پرولتاریا په وسېله، د حکومت نیونه ده.

اېرچونېســتان ټینګار کوي چې ترڅو پرولتاریا په یوه هېواد کې بشــپړ ډېری (مطلق اکثریت) ونه لري، نه شـــي کولای او نه باید حکومت په لاسونو کې واخلي. د دې خبرې لپـاره هېڅ ډول دلیـل نه وړاندې کېږي، څکه چې دغه بې مانا او چټې تز نه د تیورۍ له مخې او نه هم په عمل کې زبادولای شـــي.

د دویم انترناســیونال د دغو ښــاغلیو په ځواب کې لنین وایي: وانګیرئ چې

همداسې ده. خو که کوم وخت داسې تاریخي شرایط (لکه: جګړه، کرنیز کړکېچ او داسې نور) مخې ته راشي او پرولتاریا ته، سربېره پر دې چې د نفوسو لږه کی (اقلیت) جوړوي، د دې کابو په لاس ورکړي، چې د خوارېکښو سترې پرګنې پر ځان را غونډې کړي، نو ولې باید پرولتاریا د سیاسي ځواک یا حکومت له ترلاسه کولو ډډه وکړي؟ ولې باید پرولتاریا له مساعدو نړیوالو او داخلي شرایطو څخه، د پانګوالۍ د مورچل ماتونې لپاره ګټه وانه خلي او ټولیزو موخو ته رسیدنه چټکه نه کړي؟ ایا مارکس د تېرې پېړۍ په پینځوسمو کلونو کې نه ویل، چې کېدلای شي په جرمني کې د پرولتاري انقلاب ټولې چارې په "ځلانده توګه" مخ ته ولاړې شي، البته که شوني وه چې د «بزګري جګړې د دویمي ډول په توګه»[1] یې ملاتړ وشي؟ ایا دا بیخي څرګند رښتیا نه دي چې د هغو وختونو د جرمني پرولتاریاوو شمېر همدومره کم وو، لکه په ۱۹۱۷ ز کال کې چې د روسیې وو؟ ایا د روسیې د پرولتاري انقلاب پراټیک ونه ښودله، چې د دویم انترناسیونال د اتلانو دغه مینه وړی دوګم، د پرولتاریا په نظر له هر ډول حیاتي اهمیته خالي

---

۱- د بزګري جګړې موخه د جرمني په سوېل (تورینګن، اوتریش او سوېس) کې بزګري پاڅونونه دي. په دې پاڅونونو کې بزګرانو د لمړي ځل لپاره خپل دوولس ماده ییزې غوښتنې وړاندې کړې. د جرمني د دغو بزګري جګړو عیني دنده دا وه چې ، هغه فیوډالي مناسبات په وسله والې مبارزې سره له منځه یوسي، چې د پانګوالي پراختیا په لاره کې یې خنډونه اچولي وو او په دې توګه یو مرکزي ملي بورژوازي دولت رامنځ ته کړي. د فرېدرېښ اېنګلز په خبره: د جرمني ستره بزګري جګړه د فیوډالېزم پرخلاف د اروپایي بورژوازۍ لمړنۍ برخلیک ټاکونکي جګړه وه. (ژ.ل.ل)

دی؟ ایا دا په ډاګه نه شوه چې د خلکو د انقلابي مبارزې پراتیک، دغه وروست دوګم ردوي او له مخې یې لرې غورځوي؟

**دویم دوګم:** تر هغې چې پرولتاریا په پوره اندازه داسې روښاندي او وړ اداري کارمندان ونه لري چې هېوادنی چارې اداره کړي، حکومت په خپلو لاسونو کې نه شي ساتلای. نو ځکه باید اول دغه کادرونه د پانګوالی په شرایطو کې چمتو کړي او بیا حکومت په لاس کې واخلي. لنین د دې خبرې په ځواب کې وایي: وانګېرئ چې همداسې ده. خو ولې باید دا کار سرچپه نه کړو؟ په دې ډول چې لمړی حکومت په لاس کې واخلو، د پرولتاریا د پرمختګ لپاره مساعد شرایط رامنځ کړو او بیا د خوارېکښو خلکو د فرهنګي کچې لوړولو او د کارګرانو له منځه د لاربښوونکو کادرونو تیارولو لپاره په لویو -لویو ګامونو مخکې ولاړ شو؟ ایا د روسیې پراتیک ونه ښودله چې د پرولتاري حکومت په شرایطو کې د کارګرانو له منځه غوره شوي کادرونه، د پانګوالي حکومت له شرایطو څخه سل وارې ډېر چټک او ډېر بنستیز پرمختګ کوي؟ ایا دا څرګنده نه ده چې د ولسي انقلابي مبارزې پراتیک، د اپرچونېستانو دغه تیوریک دوګم هم په ډېرې بېرحمی ردوي.

**درېیم دوګم:** د پرولتاریا لپاره د عمومي سیاسي اعتصاب مېتود د منلو وړ نه دی، ځکه چې د تیوری له انده بې بنسټه (د اینګلز نقد وګورئ) او په عمل کې خطرناک دی (شوني ده چې د هېواد د اقتصادي ژوندانه عادي تګلوری ګډوډ او د کارګري ټولنو صندوقونه تش کړي) او نه شي کېدلای د پارلماني

مبارزې، چې د پرولتاریا د طبقاتي مبارزې بهترینه بڼه ده، ځای ناستي وګرځي. لنینېستان د دې خبرې په ځواب کې وايي: ډېر ښه، اول خو دا چې اینګلز هر ټولیز اقتصادي اعتصاب نه دی غندلای، بلکې یوازې د اعتصابونو یو معلوم ډول یې، یانې عمومي اقتصادي اعتصاب چې د انارشېستانو له لوري، د پرولتاریا د سیاسي مبارزې پر ځای رامخې ته شوی وو، غندلای دی. دا خبره له ټولیز سیاسي اعتصاب سره څه تړاو لري؟ دویم دا چې، دا چا او چېرته زباد کړې ده چې د پارلماني مبارزې بڼه، د پرولتاریا د مبارزې بهترینه بڼه ده؟
ایا د انقلابي غورځنګ تاریخ دا نه زباد وي، چې پارلماني مبارزه یوازې د یو ښوونځي په توګه، له پارلمانه د بهر مبارزو د سازمانولو چوپړ سرته رسوي او د پانګوالۍ په پېر کې د کارګري غورځنګ بنسټیز مسایل، یوازې د قهر او زور په کارونې، د پرولتري پرګنو په سیده مبارزې او په پای کې د دوی په ټولیز اعتصاب او پاڅون سره حل کیږي؟ درېیمه خبره دا چې د ټولیز سیاسي اعتصاب د مېتود پر ځای، د پارلماني مبارزې په مخه کول له کومه ځایه سرچینه اخلي؟ چېرته او کله د ټولیز سیاسي اعتصاب پیروانو دا هڅه کړې ده چې د پارلماني مبارزې بڼه، له پارلمانه د بهر مبارزو په بڼه بدله کړي؟ څلورمه خبره دا چې ایا د روسیې انقلاب ونه ښوده چې ټولیز سیاسي اعتصاب، د پرولتاري انقلاب تر ټولو ستر ښوونځی او د پانګوالۍ په مورچل د برید په درشل کې، د پرولتاري پرګنو د سمبالونې او راغونډونې یوازینۍ وسیله ده؟ بیا نو نور د اقتصادي ژوندانه د عادي تګلوري د ګډوډۍ او د

کارګري ټولنو د صـــندوقونو په اړه، بې ځایه ګیلو- منو او خواخوږیو ته څه ځای پاتېږي؟ ایا ښکاره نه ده چې د انقلابي مبارزې پراټیک، د اپرچونېستانو دغه دوګم هم ټوټې ټوټې کوي او نه یې مني؟

او داسې نور او نور.

ځکـه خو بـه لنین ویـل چې "انقلابي تیوري دوګم نـه دی" او دغـه تیوري "یوازې د خلکو د رښتیني او انقلابي غورځنګ له پراټیک سره د ټینګ اړاو تړاو په درلودلو سره، خپله نهایي بڼه اخلي.[۱] تیوري باید د پراټیک په چوپړ کې وي، ځکه چې "تیوري باید هغه پوښـتنو ته، چې پراټیک یې را مخې ته کوي، ځواب ووایي"[۲] ځکه تیوري باید د عملي ازماېښــتونو پر بنســټ، تر غور لاندې ونیول شي.

خو د دویم انترنـاسـیونال ګوندونو د سـیاسـي شـعارونو او اعلامیو په اړه همدومره بسنه کوي چې " د جګړې پر ضد د جګړې" شعار را په زړه کړو، چې د دغو ګوندونو د سیاسـي پراټیک هغه ټول دروغ و فسـاد، چې خپل د انقلاب ضد چارې یې په پرتمینو انقلابي نارو او اعلامیو پټولې، څرګند شي. موږ ټول هغه له دبدبې ډکه ننداره په یاد لرو، چې دویم انترناسـیونال د بال[۳]

۱- کتاب: ( "کینې اړخی" کمونېزم، یوه ماشومانه ناروغي-لنین )

۲- کتاب: "د خلکو دوستان څوک دي" او څه ډول د سوسیال دېموکراتانو پر خلاف جنګیږي؟- لنین )

۳- د دویم انترناسـیونال د بال کنګره د ۱۹۱۲ ز. کال د نوامبر پر ۲۴-۲۵ مو نېټو ترسـره شـوه. دا کنګره د بالکان جګړې د پېښېدو او د نړیوالې جګړې د ګواښ له لامله رابلل شوې وه. کنګرې پر نړیوالو شرایطو او د جګړې خلاف د ګډې مبارزې په اړه بحث وکړ. دوی یو پرېکړه لیک تصـویب کړ او په هغې کې یې

په کنګره کې وړاندې کړه او امپریالېستان یې د جګړې د پریکړې په ترخ کې په پاځون کولو وګواښل او "د جګړې پر وړاندې یې د جګړې" لړزونکې شعار را مخې ته کړ. خو دا به چا هېر کړې وي چې لږه موده پس، د جګړې له پیلېدو سره سم، د بال پرېکړه لیک هېر شو او کارګرانو ته یو نوی شعار- د پانګوال وطن په ویاړ یو بل له منځه یوسئ- ورکړ شو؟ ایا دا ځرګنده نه ده چې کله انقلابي نارې او اعلامیې، له عمل سره مل نه شي، په یوې انې هم نه ارزي؟ د دې لپاره همدومره بسنه کوي چې د لنین، د امپریالېستي جګړې په داخلي جګړې د اړونې تګلاره، د دویم انترناسیونال له خاینانه تګلارې سره پرتله شي، چې د اپرچونېستو سیاست والو په رزالت او د لنینیستي تګلارې په عظمت مو سم سهي سترګې خلاصي شي.
په دې اړه مې ډېر زړه کېږي چې د لنین د "پرولتاري انقلاب او مرتد کایوتسکي" له کتاب څخه یو پاراګراف را واخلم. لنین هلته د دویم انترناسیونال د سرلاري ک. کایوتسکي هغه اپرچونیستي هڅې په بېرحمانه ډول نقدوي، چې ویل به یې، د ګوندونو په اړه باید د دوی د کاغذونو او لاسوندونو پر مخ د پراتو شعارونو له مخې قضاوت وکړو، نه د دوی د کړنو له مخې.
«کایوتسکي په دې بهانه... چې ګوندې د شعار په وړاندې کولو سره شرایطو ته بدلون ورکولای شو، خپل لنډ اندی او ووړ-بورژوا خصلته

کارګران دې ته راوبلل، چې خپل سازمانونه او ځواکونه د جګړې د ګواښ پر وړاندې، د انقلابي مبارزې لپاره وکاروي او "د جګړې خلاف، جګړه" اعلان کړي.

سیاست مخ ته بیایي. خو د بورژوازي دېموکراسۍ ټول تاریخ د دې توهم له مخه پرده پورته کوي: بورژوا دېموکراتانو تل د خلکو غولولو لپاره بېلابېل "شعارونه" را ایستلي او راوباسي يې. خو اصلي خبره دا ده چې موږ باید د هغوی صداقت وازمايو، عمل يې له خبرو سره پرتله کړو، په خیال پلوه او دروغجنو جملو یې قناعت ونه کړو، تل په طبقاتي واقعیتونو پسې ولاړ شو.»
(وګورئ د روسي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۷۷ مخ)

زه نور د هغې وېرې په اړه، چې د دویم انترناسیونال ګوندونو له خپل ځان څخه د انتقاد په اړه درلوده، یا د هغه خویونو په اړه چې دوی به خپلې تېروتنې پټولې، په ناندریزو مسایلو به یې پرده ور اچوله او خپلې نیمګړتیاوې به یې په ښکلو او غولوونکو پوښونو کې نغښتلې، هېڅ نه وایم، ځکه چې ژوندی فکر پخوي او د خپلو تېروتنو له مخې د ګوند د انقلابي روزنې په لاره کې خنډونه ایجادوي. دا ټول خویونه لنین ریشخند کړي او د رسوایۍ داغ یې پرې لګولای دی.

لنین په پرولتاري ګوندونو کې، له خپل ځانه د انتقاد په اړه، په خپله رساله ("کیڼ اړخی" کمونېزم، یوه ماشومانه ناروغي) کې لیکلي دي:

«د خپلو تېروتنو پر وړاندې د یو سیاسي ګوند چلند، د ارزونې هغه ارزښمنه او ډاډمنه لاره ده چې معلوموي ګوند څومره رښتینی او څنګه په عمل کې د خپلې طبقې او خواریکښو خلکو پر وړاندې خپل مسؤلیتونه ترسره کوي. په زغرده د خپلو تېروتنو منل، د هغې لاملونه پلټل، د هغه شرایطو شنل او څېړل، چې دغه تېروتنه یې رامنځته کړې او بیا د هغو د سمولو د لارو چارو

دقیقه مطالعه. همدا د یو ګوند د جدي اوسیدلو نښه ده، همدا د ګوندي دندو د سرته رسولو نښه ده، همدا د طبقې او بیا د خلکو د روزلو او تربیه کولو نښه ده.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۰۰ مخ)

ځینې وایي چې د خپلو تېروتنو ډاګیزه کول او له خپل ځان څخه انتقاد، د ګوند لپاره خطرناک دي، ځکه شونې ده چې دښمن ترې د پرولتاري ګوند خلاف ګټه واخلي. لنین دا ډول نیوکې خوشې او ناسمې ګڼي. لنین آن په ۱۹۰۴ ز کال کې، چې زموږ ګوند لا کمزوری او ډېر کوشنی وو، پر دې مسأله په خپله اوځاره رساله "یو ګام پر وړاندې، دوه شاته" کې داسې لیکلي: «هغوی (یانې د مارکسېستانو مخالفین-ج ستالین) زموږ پر شخړو خوښ او یو بل ته سترګک وهي. البته هغوی به د خپلو موخو لپاره زما له رسالې څخه، چې زموږ د ګوند د تېروتنو او نیمګړتیاوو په اړه ده، ځینې جلا جلا برخې راوباسي. خو نور د روسیې سوسیال دېموکراتان په دغه ډول شخړو کې پوره پاخه شوي، د دغه ډول فشارونو څخه نه دي ویرېدلي او د دې فشارونو سره سره به له خپل ځان څخه د انتقاد اصل او د خپلو تېروتنو بېرحمانه افشاء، چې د کارګري غورځنګ وده به بېشکه او هرومرو هغه جبران کړي، تعقیبوي.» (د روسي چاپ ٦ ټوک، ۱٦۱ مخ وګورئ)

همدا په ټولیز ډول د لنینېستي مېتود بېلوونکي ځانګړنې دي.

هغه څه چې په لنینستي تګلاره کې راځي، د اصولو له مخې د مارکس په ښوونو کې (هغه ښوونې چې د مارکس په وینا "په خپل ذات کې انتقادي او انقلابي"[۱] دي) هم شته او په ځانګړې توګه همدغه انتقادي او انقلابي روح

۱- د "کاپیټال" لومړي ټوک، د دویم چاپ پیلیزه وګورئ.

دی چې سرتر پايه يې، په لنينستي تګلاره کې ريښې ځغلولي دي. خو که په دې اند يو چې د لنين تګلاره، د هماغه شـــيانو بيا نويونه ده چې مارکس وړانـدې کړې، تېروتنه کوو؛ ځکه په واقعيت کې د لنين تګلاره نه يوازې بيا نويونه، بلکې د مارکس د انتقادي- انقلابي تګلارې او ديالکتيک ماترياليزم راتلونکې بشپړتيا (تکامل) هم ده.

# ۳

# تیوري

موږ له دې بحث څخه درې مسألې غوره کوو:

الف) د پرولتاري غورځنګ لپاره د تیورۍ اهمیت
ب) د خپلسري حرکت په "تیورۍ" باندې نقد
ج) د پرولتاري انقلاب تیوري

۱) د تیورۍ اهمیت: ځینې فکر کوي چې لیننېزم، مانا په تیورۍ باندې د پراتیک وړاندې والی. یانې د لیننېزم اصلي دنده، په عمل کې د مارکسېستي اصولو تطبیق او پلي کول دي، خو د تیورۍ په اړه ګمان کوي چې ګني لیننېزم په دې اړه بشپړه بې پروایي کوي. موږ پوهېږو چې پلخانوف څو پلا د تیورۍ او په ځانګړې ډول د فلسفې په اړه د لنین "بې پروایي" غندلې. همدارنګه په دې هم پوهېږو، چې د نن ورځې ډېری عملي لیننیست

کارګران، تیورۍ ته دومره پام نه کوي او د دې لامل هم د هغه کار ډېروالی دی چې خپلو موقعیتونو پر دوی تپلی. زه باید دا خبره په ډاګه کړم چې د لنین او لنینېزم په اړه دا هېښنده باور په بشپړه مانا ناسم دی او له حقیقت سره هېڅ اړخ نه لګوي او هم د عمل‌پالو دغه له تیورۍ د لاس اخیستنې تمایل، په بشپړه مانا د لنینېزم له روح سره په ټکر کې دی او د چارو ډېرې ناوړه پایلې ورسره مل دي.

تیوري د ټولو هېوادونو د کارګري غورځنګ ګډه تجربه ده. څرګنده ده چې کله تیوري له انقلابي پراتیک سره مل نه شي، په یو بې موخې شي بدلیږي، په ورته ډول که پراتیک هم خپله لاره د انقلابي تیورۍ په رڼا روښانه نه کړي، ړوند او لارورکی کیږي. خو که چېرې تیوري له انقلابي پراتیک سره نه شلیدونکی تړاو ولري، نو د کارګري غورځنګ په خورا ستر ځواک بدلېدای شي، ځکه یوازې او یوازې تیوري ده چې غورځنګ ته ډاډینه او ځواک ور ورکولای شي او هغوی ته د لوري موندنې ځواک او د شاوخوا پیښو د دننني اړیکو پوهاوی ورکوي، ځکه یوازې او یوازې تیوري پراتیک په دې پوهوي چې اوسنۍ طبقې څنګه او پر کوم لوري حرکت کوي او په نژدې راتلونکي کې به څنګه او پر کوم لوري حرکت وکړي. دا یوازې لنین وو چې تل یې دا لاندې مشهوره قاعده پر خوله وه او بیا بیا به یې تکراروله: «له انقلابي تیورۍ پرته، انقلابي غورځنګ هم نه شته»[1] (د روسي چاپ ۴ ټوک، ۳۸۰ مخ وګورئ)

---

۱- په کلماتو ټینګار زما دی. ج.ستالین.

لنین تر بل هر چا ډېر د تیورۍ اهمیت ته ځیر وو، بیا په ځانګړي ډول د یو داسې ګوند لپاره، لکه زموږ ګوند چې د نړۍ د ټولو زیارایستونکو د مخکښ مبارز رول یې په برخه شوی وو او ډېر پیچلي و سخت داخلي او نړیوال شرایط ترې را چاپېر وو. زموږ د ګوند د همدغه ځانګړي رول د وړاندېینې له لامله لنین آن پر ۱۹۰۲ز. کال کې دا اړینه ګڼله چې موږ ته ووایي:

«د یو مخکښ مبارز رول یوازې هغه ګوند مخ ته وړلای شي، چې په یوې پرمختللي تیورۍ سره رهبري کېږي» (د روسي چاپ، څلورم ټوک، ۳۸۰ مخ وګورئ)

فکر نه کوم د دې خبرې زبادولو ته دې اړتیا وي چې اوسمهال، یانې په داسې ترخ کې چې زموږ د ګوند په اړه د لنین وړاندېینې د حقیقت او عمل جامې اغوستې، د لنین دغه تز ډېر ځانګړی اهمیت و ځواک مومي.

ښایي د دې خبرې تر ټولو ښکاره دلیل چې لنین تیورۍ ته ډېر ارزښت ورکاوه، دا حقیقت وبولو چې له لنین پرته بل هېچا دې مسألې ته په دومره ټینګه وخت بېل نه کړ، چې د اینګلز له وخته نیولې، بیا تر لنین پورې، د مادي فلسفې په اړه د ټولو لیکل شویو کتابونو جاج واخلي او ټول هغه ماتریالیستي ضد حرکتونه، چې د مارکسیستانو په منځ کې را پیدا شوي، نقد کړي.

اینګلز به ویل:

«ماتریالېزم باید په هر نوي لوی کشف سره، پخپله نوې بڼه واخلي»[۱]

۱- وګورئ: "لودوېک فویرباخ او د کلاسیکې جرمني فلسفې پای" اینګلز.

دا یوازې لنین وو چې پر وخت یې یاده شوې دنده، په خپل ځلیدونکي نومیالي اثر "ماتریالېزم او امپرکریتېزم" کې سرته ورسوله. په دې هم ټول خبر دي چې د پلخانوف غوندې سړي، چې ډېر یې زړه غوښتل فلسفې ته د لنین ناپامي ریشخند کړي، آن د دې جرات هم نه درلود چې دغسې یوه کار ته لاس واچوي.

۲) د خپلسري حرکت په "تیورۍ" باندې نقد یا په غورځنګ کې د مخکښې ډلې رول. د خپلسري حرکت "تیوري" یوه اپرچونیستي تیوري ده، یانې د خپلسري کارګري غورځنګ د نمانځنې تیوري، چې په واقعیت کې د کارګرې طبقې یا د کارګرې طبقې د ګوند له مخکښ لارښوونکي رول څخه د انکار تیوري هم ورته ویلای شو.

د خپلسري غورځنګ د نمانځنې تیوري، په ټینګه د کارګري غورځنګ د انقلابي خصلت خلاف ده او نه غواړي چې غورځنګ د خپلې مبارزې پر تګلوري، د پانګوالي اصولو خلاف رهنمایي شي. دا تیوري د دې پلوي کوي چې غورځنګ یوازې او یوازې د پانګوالۍ د"منلو وړ" او "پلې کولو وړ" غوښتنو پر تګلوري باندې حرکت وکړي او په ټوله مانا "د هغې لارې پلوي ده چې تر ټولو لږ خنډونه ولري". د خپلسري غورځنګ تیوري، په اصل کې د ټرېډ یونینېزم یا کارګري ټولنو ایډیالوژي ده.

د خپلسري غورځنګ د نمانځنې تیوري، په ټینګه د دې خلاف ده، چې خپلسري غورځنګ ته یو اګاهانه او نقشه لرونکی شخصیت ورکړ شي،

ګونـد د کـارګرې طبقې پـه لمړۍ لیکـه کې کې حرکـت وکړي، خلکو تـه پوهـاوی ورکړي او غورځنـګ پـه خپـل ځـان پسـې روان کړي. دا تیوري غواړي چې د غورځنګ باخبره او اګاه عناصر، د دې غورځنګ په خپلسري تګلوري کې خنډونه جوړ نه کړي، ګوند یوازې د خپلــــــسري غورځنګ پیروي وکړي او د هغې شا ته ولاړ شي. د خپلـــــــسري حرکت تیوري په غورځنګ کې د اګاه عناصرو د رول کوشني ګڼلو او "پیروۍ" تیوري ده او د هر ډول اپرچونېزم منطقي بنسټ جوړوي.

دغه تیوري، چې له هماغه لمړي انقلاب وړاندې د روسـیې هېواد په صـحنه کـې راڅـرګـنـده شــوي وه، عملاً د دې لامـل شــوه چې د هغې پیروان "اکونومېستان" په روسیه کې د یو خپلواک کارګري ګوند د شته والي له اړتیا څخـه انکـار وکړي او د تزارېزم د راپرځولو لپـاره د کارګرې طبقې له انقلابي مبارزې سره مخالفت وکړي. دوی په بشپړ ډول په کارګري غورځنګ کې د "ټریډ یونینېزم (کارګري ټولنو)" سیاست دوداوه او په ټولیز ډول یې کارګري غورځنګ د لیبرالي بورژوازۍ سلطې ته ورڅکاوه.

د پخوانۍ "ایسکرا" مجلې مبارزه او هغه ځلیدونکي نقدونه چې لنین "په څه بـایـد وکړو؟" کتـاب کې لـه "پیروۍ" تیورۍ څخـه کړې وو، نه یوازې یې د "اکونومېزم" عقیـدې تـه مـاتي ورکړه، بلکې همهـالـه یې د روســي کارګري طبقې د رښتیني او انقلابي غورځنګ علمي اصول هم ایجاد کړل.

له دې ډول مبارزې پرته، په روسـیه کې د یو خپلواک کارګري ګوند د ایجاد او بیا په انقلاب کې د هغې د لارښــوونکي رول په اړه چا تصــور هم نه شــو

کولای. خو د خپلســـري حرکت تیوري یوازې په روسیې پورې تړلې پدیده نه ده. دغه تیوري، په لږه بدله بڼه، له یوې مخې د دویم انترناسیونال گوندونو په منځ کې خپره ده.

زما موخه د "تولیدي ځواکونو" تیوري ده، چې د دویم انترناسـیونال سـرلارو ډېره بدمخي او سـولولې ده، هغه تیوري چې هر شـی توجیه او ټول له یو بل سـره پوخلا کوي او د واقعیتونه یادونه او توضـیح یوازې هغه وخت کوي، چې ټولو د بېزارۍ تر کچې لیـدلې وي او بیـا پـه همـدې تش یـادولو باندې خپل زړه ته ډاډینه ورکوي. مارکس به ویل چې ماتریالېسـتي تیوري یوازې د جهان شــننې په اډانه کې نه شــــــي پاتېدی، باید چې هغې ته بدلون هم ورکړي.[1]. خو د کایوتسـکي او د ده د ملگري له دې مسـألو سـره څه کار، هغوی خو غوره گڼي چې د مـارکس د فارمول، په هماغه لمړۍ برخه بســـنه وکړي.

دلتـه د دې تیورۍ لـه هغو گڼشـــمېره کارونو یوه بېلگه را اخلو. وایي چې له امپریالېستي جگړې وړاندې د دویم انترناسیونال گوندونو دا گواښنه کړې وه چې که امپریالېستانو جگړه پیل کړه، هغوی به هم د "جگړې خلاف جگړه" اعلان کړي، خو د جگړې لـه پیلېـدو لږ وړانـدې دغو گونـدونو "د جگړې خلاف د جگړې " شـعار هېر کړ او د دې شعار ضد " د امپریالېستي وطن په لاره کې جنگېدل" یې د پلي کېدا لپاره رامخې ته کړ. د شعارونو دې بدلونې

۱- «دا نړۍ بېلابېلو پوهانو راز راز شـنلې، خو آره خبره یې د بدلانه ده!» مارکس: ("د فیورباخ په باره کې تزسونه" وگورئ!

په میلیونونو کارګران د مرګ کومې ته ولیږل. دا خبره به ناسمه وي، که ووایو چې دلته ځینې ګوندونه تېروتل، یا دا چې له کارګرې طبقې یې مخ واړوه او خیانت یې ورسره وکړ. هیڅ داسې شی نه وو! هر څه هماغه ډول مخ ته ولاړل، چې څنګه باید تللي وای. اول په دې دلیل چې دویم انټرناسیونال لکه څنګه چې پوهېږو، "د سولې اوزار" بلل کېده، نه د جګړې او دویم په دې دلیل چې د هغو وختونو د "تولیدي ځواکونو په کچې باندې" له دې پرته بل ډول اقدام کېدلای هم نه شو. ځکه نو "ګناهګار"، "تولیدي ځواکونه" دي. د ښاغلي کایوتسکي د "تولیدي ځواکونو تیوري" په دقیق ډول "زموږ لپاره" همدا شی تشریح کوي او که بیا څوک په دې "تیورۍ" ایمان ونه لري، مارکسیست نه دی. ښه نو، اوس دلته د ګوندونو رول څه شو؟ په غورځنګ کې د هغوی اهمیت چېرې ولاړو؟ او په پای کې "د تولیدي ځواکونو د کچې" په شان د یو ټاکوونکي لامل پر وړاندې، د ګوند څه په وسه پوره دي؟...

د مارکسېزم اړونې (تحریف) په اړه، دغه ډول نورې هم ډېرې بېلګې شته.

د دې زباد ولو ته هیڅ اړتیا نه شته چې دغه جعلي "مارکسېزم"، چې د اپرچونېزم د بربنډو اندامونو د پټولو لپاره ډیزاین شوی، د هماغه "پیروۍ" تیورۍ اوښتې اروپایي بڼه ده او لنین آن د روسیې له لومړي انقلاب څخه پخوا، د هغې خلاف جنګېدلای وو.

او دا هم زباد ته اړتیا نه لري چې د دغې تیوریک تقلب نړول، په لویدیځ کې د ربتینو انقلابي ګوندونو د پنځونې لمړنی شرط دی.

۳) د پرولتاري انقلاب تیوري. د پرولتاري انقلاب لنیني تیوري، درې بنسټیز اصول لري.

لمړی اصل: په پرمختللو پانګوالو هېوادونو کې د مالي پانګې ولکه؛ د ارزښت لرونکو پاڼو پېر او پلور چې د مالي پانګې اصلي معاملات ګڼل کېږي؛ د اومو توکو سرچینو ته د پانګې لېږد، چې د امپریالېزم یو مهم اصل دی؛ د مالي الیګارشۍ مطلق ځواک، چې د مالي پانګې د برلاسۍ پایله ګڼل کېږي، - دا ټول د ټېکدارۍ (انحصاري) پانګوالۍ پارازیټ ډوله ځانګړنې لا بربنډوي او د پانګوالو ټراسټونو او سنډیکاوو فشار سلګونه واره درنوي. همدارنګه د پانګوالي اصولو خلاف د کارګرې طبقې ورځ په ورځ ډېریدونکي هېجان ته لا ځواک ورکوي او په پای کې پرګنې د خلاصون د یوازېنۍ لارې په توګه، له پرولتاري انقلاب سره مخ کوي. (۱)

لمړنۍ پایله (استنتاج) چې له دې ځایه ترلاسه کېږي: په پانګوالو هېوادونو کې دننه د انقلابي کړکېچ شدت او د ښکېلاکګر هېوادونو په پرولتاري جبهه کې دننه، د چاودیدونکو عناصرو وده ده.

دویم اصل: مستعمرو او ناخپلواکو هېوادونو ته د پانګې په لېږد کې ډېروالی؛ د "نفوذي سیمو" پراخونه او ښکېلاکګرانه تصرفات، تر هغه ځایه چې ټوله خاورینه کُره ویوښي؛ پانګوالي د مالي مرییتوب او ښکېلاکي ظلم او زورزیاتي په یو داسې نړیوال سیستم بدلول، چې د یو لړ "پرمختللیو" هېوادونو له لوري د خاورینې کرې په ډېری اوسیدونکو باندې پلی کېږي، -

---

۱- وګورئ لنین: "امپریالېزم، د پانګوالۍ لوړ پړاو"

دې ټولو لـه یوې خوا، خواره واره ملي اقتصـــادونـه او ملي حـاکمیتونـه د یو واحد زنځیر پر حلقو، چې نړیوال اقتصاد نومېږي، اړولي او له بلې خوا یې د خاورینې کُرې ټول نفوس په دوه پنډغالو (کمپونو) وېشــلی دی. یوه لوري ته: څېنې "پرمختللي" پانګوال هېوادونه دي چې پراخه ناخپلواک او مستعمره هېوادونو یې د خپـل ظلم او زبېښــاک تر یوغ لانـدې نیولي او بل لوري ته، ډېری نـاخپلواک او مســتعمره هېوادونـه دي چې د امپریـالېســتي ظلم و زورزیاتي څخه د خلاصـون لپاره په مبارزې کولو محکوم دي. (وګورئ لنین: "امپریالېزم د پانګوالۍ لوړ پړاو")

دویمه پایله (استنتاج) چې له دې ځایه ترلاسـه کېږي: په مستمعره هېوادونو کې د انقلابي کړکیچ شـــدت او د امپریـالېزم خلاف پـه بهرنۍ جبهـه یـانې مستعمرو کې د یاغیګرو عناصرو وده ده.

<u>درېیم اصــل:</u> "د نفوذي سـیمو" او مسـتعمرو انحصـاري ملکیت: د پانګوالو هېوادونو نـاانـډولـه وده، چې پایله یې د نړۍ د بیا وېش لپاره د هغو هېوادونو چې له وړاندې یې سیمې نیولي او هغو هېوادونو چې غواړي دوی هم خپلې برخې ترلاســه کړي، ترمنځ لېونۍ جګړې دي؛ امپریالېســتي جګړې د مات شـوي "انډول" د بیا ټینګولو لپاره د یوازینۍ وسېلې په توګه، - دا ټول درېیمه جبهـه یـانې په خپله د پانګوالو ترمنځ د مبارزې جبهه ځواکمنوي او هغه هم پـه خپـل وار امپریـالېزم کمزوری کوي او د دوو لمړنیو جبهو یانې د انقلابي پرولتـاریـا جبهې او د امپریـالېزم پر ضــد د ازادیپـالـه جبهې اتحـاد تـه لاره هواروي. (وګورئ لنین: "امپریالېزم د پانګوالۍ لوړ پړاو")

دریمه پایله چې له دې ځایه ترلاسه کېږي: د امپریالېزم په پېر کې د امپریالېستي جګړې پېښېدل حتمي دي او هم د نړیوالې امپریالیستي جبهې خلاف په یوه نړیواله انقلابي جبهه کې، د ختیځ له ازادیپاله انقلاب سره، د اروپایي پرولتاري انقلاب ایتلاف حتمي دی.

لنین دا ټولې پایلې په یوه ټولیزه پایله کې داسې چې "امپریالېزم د سوسیالیستي انقلاب درشل دی" [1] راغونډوي. (وګورئ د روسي چاپ ۱۹ ټوک، ۷۱ مخ)

په دودیز ډول پخوا د پرولتاري انقلاب د مقدماتو شننه، د دغې یا هغې هېواد د اقتصادي شرایطو له نظره په جلا ډول تر مطالعې لاندې نیول کیده. خو نور نو دغه ډول جاج بسنه نه کوي. اوسمهال اړینه ده چې د ټولو یا ډېری هېوادونو د اقتصادي شرایطو له نظره او د نړیوالو اقتصادي شرایطو له نظره مسأله تر غور لاندې ونیول شي، ځکه چې ځانته جلا هېوادونه او ځانته جلا ملي اقتصادونه نور نو بېل خپلواک اقتصادي واحدونه نه دي، بلکې د یو واحد زنځیر په حلقو باندې چې نړیوال اقتصاد نومیږي، بدل شوي، ځکه چې له کاره لوېدلې زاړه "متمدنه" پانګوالي د خپلې ودې سره همهاله، تر امپریالېزم رسیدلي او امپریالېزم د مالي مریيتوب او ښکېلاکي ظلمونو هغه نړیوال سیستم دی چې د یو لړ "پرمختللیو" هېوادونو له لوري، د خاورینې کُرې په بشپړ ډېری (مطلق اکثریت) اوسیدونکو باندې واکمن دی.

---

۱- په کلیماتو ټینګار زما دی ج. ستالین.

ېخوا پـه ځـانتـه جلا هېوادونو کې، یـا کـه لږ دقیق ووایو پـه دغې یـا هغې پرمختللي هېواد کې، د پرولتـاري انقلاب د عیني شــرایطو د شـتـه والي یـا نشتوالي په اړه خبرې اترې یو منل شوی اصـل وو. خو نور دا لیدلوری بسنه نـه کوي. اوس پکـار ده چې د یوې واحـدې ټولګې پـه توګـه، د نړیوال امپریالېستي اقتصـاد په ټول سیستم کې، د عیني انقلابي شرایطو د شته والي خبره وشي. له دې سره جوخت باید دا هم ووایو چې هرکله یا په دقیق ډول همدا چې دغه سیستم په ټولیز ډول د انقلاب لپاره چمتو او تیار شو، نو بیا د دغې سیستم په سیوري کې د ځینو هغو هېوادونو موجودیت، چې صنعتي پرمختـګ یې کم دی، د دې انقلاب په لاره کې، د یو نه ماتیدونکي خنډ په توګه نه شي واقع کېدای.

ېخوا دا معمول وه چې د پرولتـاري انقلاب پـه اړه، پـه دې یـا هغه پرمختللي هېواد کې، د یو خپلواک کمیت په توګه خبرې وشـي، چې د هماغه هېواد د ځـانته جلا پانګوالې جبهې پر وړاندې یې، د یوه تضــاد په بڼه ټیکاو درلود، خو نور نو دا نظریـه هم بســنه نه کوي. اوس باید د نړیوال پرولتاري انقلاب خبرې وشي، ځکه چې د پانګې ځانته ملي جبهې، د یو واحد زنځیر په حلقو باندې چې نړیواله امپریالېستي جبهه نومېږي، بدلې شـوي. د دغې نړیوالې امپریـالېســتي جبهې پرخلاف بـایـد د ټولو هېوادونو د انقلابي غورځنـګ ټولیزې جبهې پرانېستل شي.

ېخوا پرولتاري انقلاب یوازې او یوازې د یو ځانګړي هېواد د داخلي تکاملي پایلې له لیدلوري ارزول کېده، خو نور دا نظریه هم بسـنه نه کوي. اوسـمهال

باید پرولتاري انقلاب له هرڅه وړاندې، د نړیوال امپریالېستي نظام د داخلي تضــادونو تکـاملي پـایلـه او پـه دې یـا هغـه ځـانګړي هېواد کې د نړیوالې امپریالېستي جبهې د زنځیرونو ماتونې پایله وګڼو.

انقلاب بـه لـه کومه ځایه را پیل شــي؟ چېرې او په کوم هېواد کې به له ټولو وړاندې د پانګې په جبهه کې درز رامنځ ته شي؟

هلته چې صـنعت وده کړې ده، هلته چې پرولتاریا (ډېرى) اکثریت جوړوي، هلته چې مدنیت ډېر دى، هلته چې ډېره دېموکراسي شته، دا هغه ځوابونه وو چې په دوديز ډول به پخوا دې پوښتنو ته ورکول کېدل.

مګر د انقلاب لنیني تیوري دا ځوبونه ردوي. وایي نه؛ اړینه نه ده چې دا دې هرومرو داسې ځای وي چې هلته صنعت ډېره وده کړې وي او همداسې پســې دا نور در واخلـه. پـه اصــل کې د پـانګوالۍ جبهـه په هغه ځای کې ماتېږي، چې هلته د امپریالېزم زنځیر زموللی او ســست وي، ځکه پرولتاري انقلاب په تر ټولو کمزوري ځای کې، د نړیوالې امپریالېستي جبهې د زنځیر مـاتیـدنې پـایلـه ده، له همدې لامله شــوني ده هغه هېواد چې انقلاب پکې کېږي او هغـه هېواد چې د پـانګوالۍ جبهـه مـاتوي، د پـانګوالۍ له لیده یې وده، له نورو هغه هېوادونو څخه چې د پانګوالۍ د زیاتې ودې سره - سره د پـانګوالۍ پـه اډانـه کې پـاتې دي، لږه وي. پر ۱۹۱۷ ز کـال، د نړیوالې امپریالېستي جبهې زنځیر د نورو هېوادونو په پرتله، روسیه کې ښه ماتېدنې ته جوړ وو، ځکه نو همدلته دغه زنځیر مات شــو او پرولتاري انقلاب ته یې د وتلو لار ورکړه. ولې؟ ځکه چې همدا مهال په روســیه کې ترټولو ســتر ملي

انقلاب په را پورته کېدو وو چې په سر کې یې انقلابي پرولتاریا روانه وه او د میلیونونو بزګري پرګنو غونډې ارزښــمن متحد یې هم - چې د ځمکوالو (فیوډالانو) د ظلم او زبېښــاک لانـدې ماته ملا روان وو - ترڅنګ ولاړ وو. ځکـه چې دلتـه د انقلاب په مخالف اړخ کې د امپریالېزم یو چټل اســتازی (تزارېزم)، چې له هر ډول اخلاقي پرســتېژ او حیثیت بې برخې او ټول خلک ترې کرکجن وو، موجود وو. که څه هم روسیه د پانګوالۍ له پلوه د فرانسې، جرمني، انګلېســتان یا امریکا په پرتله لږه پرمختللې وه، خو بیا هم دغه زنځیر له هغه ځایونو څخه په روسیه کې کمزوری وخوت.

پـه نژدې راتلونکي کې به دغه زنځیر په کوم ځای کې مات شــي؟ بیا هم په هماغه ځایونو کې چې کمزوري هغه دي. د بېلګې په توګه لرې نه ده چې د زنځیر کړۍ پـه هېنـد کې مـاتـه شــي. ولې؟ ځکه چې هلته ځوانه انقلابي او جنګیـالی پرولتـاریـا چې د ملي ازادیپـالـه غورځنـګ غونـدې ارزښــمن او ځواکمن متحد هم ورسره مل دی، شته. ځکه چې هلته د انقلاب په مخالف اړخ کې د بهرني امپریـالېزم غوندې یو بدنومی دښــمن ولاړ دی چې له هر ډول اخلاقي حیثیت څخه خلاص دی او د هېند تر ظلم او زبېښــاک لاندې خلک ترې وینې اچوي.

ان دا هم شــوني ده چې زنځیر په جرمني کې مات شــي. ولې؟ ځکه چې د هېند غوندې اغېزښندونکي لاملونه، په جرمني کې هم سر را پورته کوي، خو دې ســره جوخـت دا هم ښــکـاره ده چې د پرمختـګ د کچې لـه پلوه د

هېندوستان او جرمني ترمنځ ستر توپير شته او دا ټکی هرومرو د جرمني د انقلاب پر تګلوري او پایلو خپله اغېزه پرې باسي.

ځکه خو لنین وايي:

«د لویدیزې اروپا پانګوال هېوادونه به د سوسیالیزم پر لور خپل تکامل... په دې بڼه سرته ونه رسوي چې په دغه هېوادونو کې به سوسیالېزم په موزون ډول "پوخ او ورسېږي" بلکې دغه وده به د یوې ډلې دولتونو په لاس د بلې ډلې د زبېښاک له لارې او په امپریالېستي جګړه کې د لومړني مات شوي هېواد د زبېښاک له لارې سرته رسوي، چې د ټول ختیځ له زبېښاک سره غاړه غړی دی. له بله پلوه پخپله ختیځ هم د همدغه لمړنی امپریالېستي جګړې په پایله کې، په غوڅ ډول دغه ټولیز نړیوال انقلابي غورځنګ ته را ښکل شوی دی.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۷ ټوک، ۴۱۵-۴۱۶ مخونه)

لنډه دا چې:

د یوې قاعدې په توګه باید د امپریالېستي جبهې زنځیر په هغه ځای کې غوڅ شي، چې د زنځیر کړی پکې ډېرې سستې وي او دا خبره پکې هېڅ شرط نه ده چې دا دې داسې ځای وي چې پانګوالی پکې ډېره وده کړې وي او یا دا مسأله چې پرولتاریا د نفوسو دومره سلنه جوړوي او بزګران دومره سلنه او داسې نور.

ځکه نو د ارقامو ډېرول او کمول په دې اړه چې پرولتاریا د پلاني هېواد د نفوسو په سلو کې دومره جوړوي، نور نو خپل هغه ځانګړی ارزښت چې د پرولتاري انقلاب مسألې د حل په وخت کې ورسره د دویم انترناسیونال

ډکترېنران[۱] یانې هغوی چې د امپریالېزم په رول یې چندان سر نه خلاصیده او له انقلابه لکه وبا داسې ویرېدل، له لاسه ورکړی دی.
د دویم انترناسیونال اتلانو ادعا کوله (او تراوسه هم ادعا کوي) چې د بورژوا-دېموکراتیک انقلاب او پرولتاري انقلاب ترمنځ، ډېر اوږد واټن، یا په هره توګه د چین دېوال ولاړ دی چې دغه دوه له یوه بل څخه په ډېر لرې واټن جلا کوي. د دغې واټن په اوږدو کې، بورژوازي چې حکومت یې په لاس کې دی، پانګوالي ته وده ورکوي. پرولتاریا هم د خپل ځواک په را ټولولو بوخته ده او د پانګوالي پر ضد د یوې "برخلیک ټاکونکي جګړې" لپاره تیاری نیسي. دوی د معمول په ډول دغه واټن که له لسګونو کلونو څخه ډېر نه وي، نو کم خو یې نه ګڼي. خو دا موږ ټول په غړولو سترګو وینو چې د امپریالېزم په شرایطو کې، دغه چیني دېواله "تیوري" له هر ډول علمي مفهوم خالي ښکاري او یوازې د انقلاب ضد بورژوازي موخو او غوښتنو باندې د پردې ور اچولو هڅه ده او له دې پرته بل څه کېدلای نه شي. دا خبره هیڅ زباد ته اړه نه ده چې د امپریالېزم په شرایطو کې، چې له ګڼو ټکرونو او جګړو مالامال دي، هغه شرایط چې د "پرولتاري انقلاب درشل" یې بولي، هغه شرایط چې "غوړېدونکي او پراخېدونکي" پانګوالي پکې په "مړژواندي" پانګوالي بدلیږي (لنین) او ورسره همهاله انقلابي خوځښت د نړۍ په ټولو هېوادونو کې خواریږي، هغه شرایط چې امپریالېزم پکې ګردسره

۱ - (Doctrinaire): هغه تیوریسن چې واقعیتونو ته پام نه کوي، په یوې ځانګړې نظریې ټینګ ولاړ وي او په دې ګروهمن چې د ده تر نظریې بل بهتره نظر نه شته.

له ټولو شــاتګپاله (ارتجاعي) ځواکونو، آن تزاریزم او ســرواڅ ســره لاس یو کوي او پــه همـدې ډول د لویدیځ له پرولتاري غورځنګ نیولې، د ختیځ تر ازادیپاله ملي غورځنګ پورې، د ټولو انقلابي ځواکونو اتحاد ته لاره پرانیزي او په پای کې هغه شرایط چې پکې له امپریالېزم سره د انقلابي مبارزې پرته، د فیوډال-سـرواڅ رژیم د پاتې شـونو له منځه وړل، په ناشـوني چاره بدلیږي، ټیک په همدغسې شرایطو کې باید بورژوا-دېموکراتیک انقلاب لږ تر لږه په یو پرمختللي هېواد کې پرولتـاري انقلاب ته نژدې او یا په بله وینا، اول یې په دویم هغه بدل شـي. د روسـیې انقلاب تاریخ په ډېرو څرګندو شـواهدو سره وښوده، چې دغه تز سم او انکار ترې نه شي کېدای.
ځکـه خو لنین د ۱۹۰۵ ز کـال د روســیې د لمړني انقلاب پرمهال، په خپل اوڅار (مشــهور) کتاب "دوه تاکتیکه..." کې، بورژوا دېموکراتیک انقلاب او سوسیالېستي انقلاب دواړه د یوه زنځیر د دوه کړیو په بڼه او د روسي انقلابي پراختیا د یوې واحدې او بشپړې تابلو په څېر انځور کړې دي:

«پرولتـاریـا بـاید د بورژوا-دېموکراتیک انقلاب په دې ډول تر وروســـتي بریده ورســوي، چې بزګري پرګڼې له ځان ســره یو ځای کړي، د مطلقه حکومـت مقـاومت په زور مات کړي او د بورژوازي بې ثباتي فلج کړي. پرولتاریا باید سـوسـیالېسـتي انقلاب په دې ډول سـرته ورسـوي، چې نیمه پرولتاري عناصـر له ځانه سره یو ځای کړي، په زور د بورژوازي مقاومت مات کړي او د بزګرانو او کوشـنۍ بورژوازي بې ثباتي فلج کړي. همدا د پرولتاریا رښـتیني دندې دي چې د نوي ایسـکرا کارکوونکي پرې، د انقلابي

پراختیا په اړه په خپلو ټولو بحثونو او پرېکړه لیکونو کې سترګې پټوي.» (وګورئ د روسي چاپ ۸ ټوک، ۹۶ مخ)

زه نور د لنین د یو شمېر نورو هغو اشارو په اړه، چې د بورژوازي انقلاب په پرولتاري انقلاب باندې د اړولو نظریه پکې له "دوه تاکتیکه..." کتاب څخه هم ډېره روښانه انځور شوي او د انقلاب په اړه د لنیني تیورۍ بنسټ جوړوي، خبرې نه کوم.
ځینې ملګري په دې عقیده دي چې لنین یوازې پر ۱۹۱۶ ز کال کې دې مسألې ته ځیر شو او پخوا له دې یې فکر کاوه چې د روسیې انقلاب به د بورژوازۍ په اډانه کې پاتې شي او په همدې بنسټ به دولتي ځواک د پرولتاریا او بزګرانو د دېکتاتورۍ له اورګان څخه د بورژوازي لاس ته ولوېږي، نه د پرولتاریا. ویل کېږي چې دغې ادعا آن زموږ په کمونیستي ادبیاتو کې هم اغېزه کړې ده. زه باید ووایم چې دا خبره په ټوله مانا ناسمه ده او هیڅ حقیقت نه لري.
کولای شم د ګوند په درېیمه کنګره کې(۱۹۰۵) د لنین هغه مشهورې وینا ته اشاره وکړم چې دی هلته د پرولتاریا او بزګرانو دېکتاتوري او یا په بله وینا د دېموکراتیک انقلاب برې د «یو منظم سازمان په بڼه نه، بلکې د یو جنګي سازمان په بڼه تعریفوي.» (وګورئ د روسي چاپ ۷ ټوک، ۲۶۴ مخ)

همدارنگه کولای شـم د لنین د (۱۹۰۵ ز کال) د یو لړ مشـهورو مقالو څخه یې یوه"د لنډمهـالي حکومـت په اړه" [1] یاده کړم چې دی هلته د روســیې انقلاب د پراختیایي اړانې د انځورولو ترڅنگ گوند د دې چارې په ترســره کولو هم گماري چې:

« باید ځان په دې باندې ډاډمن کړي چې د روسیې انقلاب یو څو میاشتنی غورځنگ نه دی، بلکې د اوږدو کلونو غورځنگ دی او دغه انقلاب یوازې د واکمن هیئت یو څو دانې جزیي امتیـازات لـه منځـه نـه وړي، بلکې دغـه واکمن هیئت په بشپړ ډول له پښو غورځوي.»

په دې پسې جوخت د دې سـکالو د لا نورې څرگندتیا او د اروپا له انقلاب سره یې په نښلولو، داسې ادامه ورکوي:

«او که چېرې دا چاره ســرته ورســېږي،-... نو به په ټوله اروپا کې د انقلابي اورونو لمبې بلې شــي؛ اروپـایي کارگران چې د بورژوازي ارتجاع د ظلم او فشار لاندې ټیټه ملا روان دي، نور نو راپورته کیدونکي دي او موږ ته به یې هم وښـایي چې "په څه ډول دا چاره سـرته ورسـوو"؛ هغه وخت به د اروپا د انقلابي بغـاوت څپه پر روســیه باندې هم خپله اغېزه وشــیندي او څو کلن انقلابي پېر به په څو لسیز انقلابي پېر باندې بدل کړي...» (وگورئ هماغه ټوک، ۱۹۱ مخ)

---

۱- د سـتالین موخه دغه لاندې مقالې دي چې لنین په ۱۹۰۵ ز کال کې لیکلې: سـوسـیال-دېموکراسـي او لنډمهالی انقلابي حکومت چې دغه پراگراف هم له همدې لیکنې اخېسـتل شـوی، "د پرولتاریا او بزگرانو دېموکراتیکه انقلابي دېکتاتوري" او "د لنډمهالي حکومت په اړه".

د لنين يوې بلې مشـهورې مقالې ته چې د ۱۹۱۵ ز په نومبر کې خپره شـوې، هم کولای شم اشاره وکړم چې هلته ليکي:

«پرولتـاريـا مبـارزه کوي او پـه راتلونکي کې به هم په ډېرې ســرښــندنې او زړورتيا ســره مبارزه وکړي، د دې لپاره چې دولتي ځواک لاس ته راوړي، د دې لپـاره چې خپله يو جمهوريت جوړ کړي، د دې لپاره چې ټولې ځمکې مصــادره کړي... د دې لپـاره چې د خلکو "نـاپرولتاري پرگنو" ته د نظامي- فيوډالي "امپرپـالېزم" يانې (تزارېزم) له منگولو څخه د روســي بورژوازۍ په ازادولو کې برخه ورکړي او پرولتاريا به ســملاســي [1] د تزارېزم او د فيوډالي ملاکينو د حکومت له لاسونو، د روسي بورژوازۍ د دغه خلاصون څخه گټه واخلي او دا گټنـه به د کليوالي کارگرانو پر ضــد مبارزه کې د بډايه بزگرانو ســره د چوپړ پـه پـار نه وي، بلکې د اروپايي پرولتاريا ســره به په گډه د يو سوسياليستي انقلاب د ترسره کولو په پار وي».

(وگورئ روسي چاپ ۱۸ ټوک، ۳۱۸ مخ)

او په پای کې کولای شــم د لنين له «پرولتاري انقلاب او مرتد کايوتســکي " رسـالې څخه هغه مشهوره عبارت د دليل په پار راولېږدوم. دی هغو کرښو ته چې ما پورته د روسـيې انقلابي دايرې د پراخوالي په اړه له "دوه تاکتيکه... " کتاب څخه راخيستې وې، اشاره کوي او بيا دغې لاندې پايلې ته رسيږي:

---

۱- په کليماتو ټينگار زما دی. ج. ستالين.

«هر څه هماغه شـان مخ تـه ولاړل چې موږ ویل. د انقلاب بهیر، زموږ د قضاوت سموالی تأیید کړ. لمړی د ټولو بزگرانو په ملتیا د استبدادي سلطنت او مالکینو او د منځنیو پېړیو د رژیم پر ضـد (تر دغه ځایه انقلاب بورژوازي او بورژوا-دېموکراتیک انقلاب دی) او ورپسـې د تش لاسـو بزگرانو سـره په گډه او د نیمه پرولتاریا او ټولو زېښـلو شـویو په ملگرتیا، د پانگوالۍ خلاف او همهاله د کلیوالي شـتمنو، کولاکانو او سـودخورو پرخلاف، چې له دې وروسته نو انقلاب په سوسیالېستي هغه بدلیږي. هغوی چې د دغه انقلاب او هغـه انقلاب ترمنځ یو مصـنوعي د چین دېوال پورتـه کوي او دا دوه په دې مسـالو سـره جلا کوي چې پرولتاریا څومره چمتوالی لري او له تش لاسـو بزگرانو سـره په کومه کچه متحده ده، نو په حقیقت کې د مارکسـېزم بیخي سـترې اړونې (تحریف) تـه لاس اچوي، هغـه مبتـذلوي او غواړي چې یوه لیبرالیستي اشا ترې جوړه کړي.» (وگورئ روسي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۹۱ مخ)
زه فکر کوم چې همدومره بسنه کوي.

ښـایي موږ ته وویل شي چې ډېر ښـه؛ که چېرې داسې ده، نو بیا ولې لنین د تلپاتې انقلاب له نظریې سره جگړه وکړه؟

ځکـه د لنین وړانـدیز دا وو چې د بزگرانو لـه انقلابي وړتیـا او د هغوی لـه انقلابي انرژۍ څخه، د تزارېزم د بشـپړې ویجاړونې او پرولتاري انقلاب ته د تېریدنې لپاره گټه واخېسـتل شـي، په داسـې حال کې چې د دایمي انقلاب پیروانو د روسـیې په انقلاب کې د بزگرانو ارزښـمن رول ته پام نه کاوه، دوی د روسـي پرولتاریا دا ځواک او وړتیا چې بزگران یې په ځان پسـې روانولای

شــول، نـه منـه او پـه دې ډول یې د بورژوازۍ لـه اغېزې څخـه د بزگرانو د خلاصون او په پرولتاریا باندې د بورژوازي د راټولولو چارې له خنډ سره مخ کولې.

د پرمېنېـت یـا تلپـاتې انقلاب له پلویانو ســره د لنین جگړه، د انقلاب د پرله پسې والي پر سر نه وه، ځکه لنین خپله هم پر دغه انقلاب باور درلود، بلکې د دې پر ســر وه چې هغوی بزگرانو ته، چې د پرولتاریا ترټولو لوی زېرمه یېز لښـکر ځنې جوړېده، ارزښـت نه ورکاوه او د پرولتاریا د برلاسۍ (هېژمونۍ) په نظریې یې سد نه رسیده.

د تلپـاتې انقلاب نظریه، کومه نوي نظریه هم نه وه. دا نظریه اوله پلا مارکس د ۱۸۴۰-۱۸۵۰ ز لسیزې په وروستیو کلونو کې د "کمونېستانو ټولنې " ته په خپـل مشــهور پیغـام کې وړانـدې کړه او د همدغې لاســوند له مخې زموږ پرمېنېنســتانو (د تلپاتې انقلاب پیروان) هم د پرله‌پســې انقلاب نظریه را دود کړه. خو پـاموړ ټکی دا دی چې زموږ پرمېنېنســتـانو له مارکس څخه د دې نظریې په راخیستلو سره تر ډېره بریده په هغې کې بدلون راوست او په دې بدلون سره یې هغه "کمتوانه" او د گټه اخېستنې له ښمره وغورځوله. همدلته د لنین تجربـه کـار لاس اړین وو چې دا تېروتنـه ســمه کړي او د مارکس د تلپاتې انقلاب نظریه له خپل اصـلي شکل سره را واخلي او د خپل انقلاب د بنسټیزې تیورۍ په ارکانو کې یې ځای پر ځای کړي.

وروسته له هغې چې مارکس په خپل "پیغام" کې یو شمېر انقلابي او دېموکراتیکې غوښتنې په گوته کړې او بیا یې کمونېستانو ته د هغې د لاسته راوړلو لپاره بلنه ورکړه، د پرله‌پسې (پرمېنېت) انقلاب په اړه یې داسې وویل:
«په داسې حال کې چې دېموکرات خویه کوشني بورژوزان غواړي د یادو شویو ډېریو غوښتنو له پلي کېدا وروسته، انقلاب ژر تر ژره پای ته ورسوي، خو زموږ گټې او دندې دا راته وایي، چې ترڅو پورې لږ تر لږه بډایه پوړونه (طبقات) له حاکمیت نه وي را پرځول شوي او تر هغې چې پرولتاریا دولتي ځواک نه وي تر گوتو کړی او پرولتاري پرگنې نه یوازې په یوه هېواد کې، بلکې د نړۍ په ټولو واکمنو هېوادونو کې، تر هغه بریده پرمختگ (ترقي) نه وي کړی، چې د دغو هېوادونو د پرولتاریاوو ترمنځ سیالي له منځه تللي وي او لږ تر لږه هغه تولیدي ځواکونه چې غوڅ رول لوبوي، د پرولتاریا په لاسونو کې نه وي راغونډ شوي، باید پرې نه ږدو چې د انقلاب لړۍ غوڅه شي.»(۱)
په بله وینا:
الف) د مارکس وړاندیز، زموږ د روسي "پرمېنېنستانو" د کړنلارو پرخلاف، هېڅکله دا نه وو چې د ۱۸۵۰ لسیزې د جرمني انقلاب چارې سیده د پرولتاري حکومت له لوري پیل شي.
ب) د مارکس وړاندیز یوازې دا وو چې د پرولتاریا انقلاب، د دولتي ځواک په ترلاسه کولو سره سرته ورسیږي او بیا گام په گام د بورژوازي فراکسیونونه

---

۱- وگورئ: "د کمونېستانو ټولنې ته د مرکزي کمېټې پیغام" مارکس او اینگلز.

یو پر بـل پســې د حکومـت لـه لوړو پوړونو را پرځول شــي، تر هغې چې پرولتـاریـا حکومت په لاس کې واخلي او بیا په ټولو هېوادونو کې د انقلاب اورونه بل کړي، او دا کټ مټ هماغه څه دي چې لنین موږ ته راښــوول او زموږ د انقلاب له بهیر سره یې همهاله، د پرولتاري انقلاب د تیورۍ په تعقیب سره، د امپریالېزم په شرایطو کې پلي کول.

څکه نو څرګندېږي چې زموږ روســي "پرمېنېنســتانو" نه یوازې د روســیې په انقلاب کې د بزګرانو رول او د پرولتاریا د هېژموني مفکورې ته د ارزښت په ســترګـه ونـه کتل، بلکې د دایمي انقلاب په اړه یې د مارکس نظریې ته هم (ډېر بې خونده) بدلون ورکړ او د پراتیک له ښمره یې ووېسته.

همدا لامل وو چې لنین زموږ د "پرمېنېنســتانو" تیوري ریشــخند کړه او هغه یې پـه ملنډو"توښــتیزه" او "ډېره عالي" تیوري وبلله، هغوی یې په دې تورن کړل چې دوی پر دې پوهېـدلو تـه هیڅ لېوالتیا نه ښــیي چې" ولې پوره لس کلونه دا عالي تیوري له ژوندانه یوې لرې څنډې ته پاتې شــوې" (د لنین مقاله پر ۱۹۱۰ ز کال په روســیه کې د "پرمېنېنســتانو " د تیورۍ له څرګندیدو لس کلونه پس لیکل شوې، د لوستو لپاره یې د لنین د اثارو ۱۸ ټوک، ۳۱۷ مخ وګورئ!)

څکـه نو لنین دغـه تیوري نیمه منشــویکي تیوري بلله او ویل یې چې دغه تیوري:

«له بلشـویکانو ټینګې انقلابي مبارزې ته، د پرولتاریا راغوښـتل او د سـیاسي څواک ترلاســـه کول غواړي او له منشــویکانو څخه د بزګرانو د رول "نفي کول."

("وګورئ هماغه ټوک، "د انقلاب د دوو لارو په اړه" د لنین مقاله)

دغـه وه د بورژوا-دېموکراتیـک انقلاب، پـه پرولتـاري انقلاب د اړولو او پرولتاري انقلاب ته د "سملاسي "لیږد لپاره له بورژوازي انقلاب څخه د ګټه اخیستنې په اړه، د لنین نظریه.

ښـه نو بیا. پخوا په یوه ځانته جلا هېواد کې د انقلاب بریا، ناشوني ګڼل کیده او داســې فکر شــتـه وو، چې پـه بورژوازي بـاندې د برلاســې لپاره د ټولو پرمختللو (مترقي) هېوادونو یـا د ډېری هغو، د کـارګرانو یو ډلـه ییز پـاڅون اړین دی. دا نظریه هم نور له حقیقت سره اړخ نه لګوي.

اوس پکار ده چې دغســې یوه سـوبه (فتح) کېدوني وګڼو، ځکه د امپریالېزم پـه شــرایطو کې د بېلابېلو پـانګوالو هېوادونو د نـاانـډولـه ودې ځـانګړنه، د امپریـالېزم پـه دننـه کې د ویجـاړونکو تضــادونو پراخېـدنـه، چې پایله یې د جګړو هرومرو پېښیدنه ده، د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د انقلابي غورځنګونو وده؛ دا ټول نـه یوازې د پرولتـاریـا بری پـه ځانته جلا هېوادونو کې شــونی کوي، بلکې هغـه په یوه هرومرو او اړین حکم بدلوي. د روســیې د انقلاب تاریخ د دې مسألې د زباد لپاره یو سیده دلیل دی، خو په ورته حال کې باید دې ته هم ځیر وو چې د بورژوازي راپرځونه، یوازې هغه وخت په بریالیتوب سـره سـرته رسېدای شي چې یو شمېر اړین او حتمي شرایط شته وي. د دغو شـرایطو له شـتون پرته، باید د پرولتاریا په لاس د حکومت نیونې تصـور هم ونه کړو.

د دې شــرایطو پـه اړه لنین په خپل نومیالي کتاب (کیڼ اړخی کمونېزم، یوه ماشومانه ناروغي) کې داسې لیکي:

«د انقلاب بنسټیز قانون چې ټولو انقلابونو او په ځانګړي ډول په شلمه پېړۍ کې د روســـیې درې واړو انقلابونو د هغې پخلی وکړ، پـه دې ډول دی: د انقلاب لپاره دا بسنه نه کوي چې تر ظلم و زبېښاک لاندې خلک په پخواني ډول د ژوندانه ناشـونتیا ته ځیر شي او د هغې بدلون وغواړي؛ د انقلاب لپاره اړینه ده چې په خپله زبېښـاککګر هم ونه شي کولای نور په هغه پخواني ډول ژونـد وکړي او حکومـت وچلوي. یوازې هغـه وخت چې "لاندیني پوړونه" نور نو زوړ او لـه کـاره لوېـدلی نظام ونه غواړي او "پورتني طبقات" هم له خپل هغه پخوانۍ تګلارې څخه پیروي ونه شـي کولای، ټیک په همداســې شـرایطو کې کیدلای شـي چې یو انقلاب سـوبمن راووځي. دا رښتیا په نورو ټکو داسې هم بیانولای شو چې:

انقلاب له یوه داسې ټولیز ملي بحران څخه پرته (چې هم د زبېښاک لاندې خلکو لمن او هم د زبېښـاکګرو لمن ونیسي) ناشونی دی.[1] پر دې بنسټ د انقلاب لپـاره لمړی اړینـه ده چې ډېری کـارګران (یـا په هره توګه ډېری هغه کارګران چې طبقاتي پوهاوی لري، فکر کوي او په سیاسي ډول فعال دي) د انقلاب اړتیـا ته پوره ځیر وي او چمتو واوســـې چې د هغې په لاره کې ځان بلهـاري کړي؛ پـه دویم ګـام کې اړینـه ده چې واکمنه طبقه په یوه دغســـې حکومتي کړکېچ کې ښـکېله شـوې وي، چې آن هغه ترټولو وروســته پاتې وګړي هم د ســـیاســـت لور ته را ځکوي... حکومت له پښـــو غورځوي او

---

۱- په کلماتو ټینګار زما دی. ج. ستالین.

انقلابیونو ته د دې شـــونتیا په لاس ورکوي چې په بېړني ډول یې راپرځوي.»
(وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۲۲ مخ)

خو پـه یوه هېواد کې د بورژوازي حکومـت راپرځول او پر ځـای یې د پرولتاري حکومت ټینګول؛ تراوسـه د سوسیالېزم د بشپړ بري په مانا نه ده. د بریـالي شـــوي هېواد پرولتـاریـا د خپـل حکومت له ټینګولو او د خپل ځان خواته د بزګرانو د ورخپلولو وروســته کولای شـــي او دنده لري چې په خپل هېواد کې ســـوســـیـالېســـتي ټولنه جوړه کړي. خو ایا دا په دې مانا ده چې پرولتـاریـا بـه پـه دې ډول د ســـوســـیالېزم جوړولو بشـــپړې او نهایي بریا ته ورســـېږي؟ یانې هغه به وتوانېږي چې یوازې د یوه هېواد په ځواک ســـره، د سـوسـیالېزم بنسټ په بشپړ ډول ټینګ کړي، هېواد به له بهرنۍ لاس وهنې او په دې ډول د تېر راپرځول شـوي رژیم له بیا نوي کېدنې څخه په بشـپړ ډول خونـدي کړي؟ نـه، دا په دې مانا نه ده. د دې مســـألې لپاره، لږ تر لږه په څو هېوادونو کې د انقلاب برۍ اړین دی. ځکه نو پراختیا او د نورو هېوادونو له انقلابونو ســـره همکـاري د هغـه انقلاب ترټولو عمـده دنـده ده، چې بریالی شـــوی دی. د بریـالي شـــوي هېواد انقلاب باید خپل ځان نه د یو خپلواک واحـد پـه توګه، بلکې د نورو هېوادونو د کارګري پرګنو د بریالیتوب لپاره، د یوه اوزار او ملاتړي رول اداء کړي او د هغوی هر اړخیزه ملا ور وتړي.

لنین دغه موخه په دوو جملو کې بیانوي او وایي:

«د بریالي شوي انقلاب دا دنده ده چې لږ تر لږه هغه هڅه او کوښښ چې د یوه هېواد پـه توانایۍ پورې اړه لري، د پرمختګ او همکارۍ لپاره او په ټولو

هېوادونو کې د انقلابونو د را پورته کولو لپاره په کار واچوي. » (وګورئ د روسي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۸۵ مخ)

په ټولیز ډول د لنین د پرولتاري انقلاب د تیورۍ بېلوونکي ځانګړنې، همدغه وې.

# ۴

# پرولتاري دېکتاتوري

زه له دې بحث څخه درې بنسټیزې مسألې غوره کوم:

الف) پرولتاري دېکتاتوري، د پرولتاري انقلاب د وسېلې په توګه

ب) پرولتاري دېکتاتوري، په بورژوازۍ باندې د پرولتاریا د برلاسۍ په توګه

ج) شوروي ځواک، د پرولتاري دېکتاتورۍ د دولتي شکل په توګه

۱) پرولتاري دېکتاتوري، د پرولتاري انقلاب د وسېلې په توګه. د پرولتاري دېکتاتورۍ مسأله له ټولو وړاندې د پرولتاري انقلاب بنسټیز مضمون جوړوي. د پرولتاریا انقلاب، د هغې خوځښت، پراختیا او بریالیتوبونه یې، یوازې د پرولتاري دېکتاتورۍ له لارې منځ ته راځي. پرولتاري دېکتاتوري د پرولتاري انقلاب وسېله، اورګان یې او د هغې تر ټولو ارزښمنه تکیه‌ځای دی او په همدې پار رامنځ ته شوي چې په اول ګام کې د راپرځولو شویو

ښکېلاگرو مقاومت مات کړي او خپلې لاس ته راوړنې لا ټینگې کړي او په دویم گام کې پرولتاري انقلاب ته د ســوســیالېزم تر نهایي بریالیتوب پورې پایښت ورکړي.

انقلاب له پرولتاري دېکتاتورۍ پرته هم کولای شي چې په بورژوازي باندې برلاســـی شـــي او د هغوی حکومت را وپرځوي، خو د بورژوازي د مقاومت ټکونه (سـرکوب)، د لاس ته راغلو بریاوو سـاتنه او بیا د سوسیالېزم جوړونې تر بشــپړې بریا پورې مخکې تگ، نور نو د انقلاب لپاره شــوني خبره نه ده، مگر دا چې د خپـل پرمختـگ په یوه ټاکلي پړاو کې د پرولتاري دېکتاتورۍ په بڼه، یو تکیه ځای او ځانگړی اورگان د خپل ځان لپاره جوړ کړي.

«د حکومت مسـأله، د هر انقلاب بنسـټیزه مسأله ده» (لنین). ایا د دې جملې مانا دا ده چې دلته مسـأله یوازې د حکومت په ترلاسه کولو سره پای مومي؟ نه، داســـې نه ده. د حکومت نیونه یوازې د کار پیل دی. په یوه هېواد کې را پرځول شوې بورژوازي، د ډېرو لاملونو په پایله کې، تر ډېرې مودې له هغې پرولتاریا ځواکمنه پاتېږي چې دا یې رانســـکوره کړې. ځکه نو د دې خبرې ځانگړنه دا ده چې د حکومت سـاتلو ځواک ولرو، بنسـټ یې ټینگ کړو او هغه نه ماتیدونکی کړو. دغې موخې ته د رسیدو لپاره څه شی اړین دي؟

دې موخې تـه د رســـیـدو لپـاره لږ تر لږه بـاید درې اړین کارونه چې له بریا څخـه همـاغـه "یوه ورځ وروســـتـه" د پرولتـاري دېکتـاتورۍ پر وړانـدې را ولاړیږي، سرته ورسیږي:

الف) د هغو ځمکوالو (فیوډالانو) او پانګوالو مقاومت ماتول چې د انقلاب په پایله کې د پاچاهۍ له برجونو را پرځول شوي او مالونه یې ضبط شوې دي او د بیا ځلي پانګوالي حکومت د ټینګولو لپاره د هغوی هر ډول هڅې او کوښښونه شنډول؛

ب) د جوړښتونو دا ډول سمبالونه چې ټول زیارکښ د پرولتاریا شاوخوا را ټول کړي او چارې یوه داسې اورګان ته وسپاري، چې د طبقاتو د له منځه وړنې او نابودونې اوزار تیار کړي.

ج) د انقلاب وسله وال کول، د بهرنیو دوښمنانو او امپریالېزم پر خلاف د مبارزې لپاره، د انقلابي لښکر تیارول.

پرولتاري دېکتاتوري د همدې لپاره اړینه ده، چې پورته یادې شوې دندې پر خپل وخت عملي او پلي کړي.

لنین وایي:

«له پانګوالۍ څخه سوسیالېزم ته تېریدل، یو بشپړ تاریخي پېر دی. تر هغې چې دا پېر بشپړ شوی نه وي، زبېښاکګر هرومرو د پخواني رژیم د بیا را ګرځیدلو هیله لري او دغه هیله به د پخواني حالت د بیا ټینګولو لپاره په اقدام او هڅې هم بدله کړي. له لمړنۍ سختي ماتي وروسته، راپرځول شوي زبېښاکګر، چې هېڅکله یې د خپلې راپرځېدنې تمه نه درلوده او په هغې یې باور او آن فکر یې هم نه شو کولای، په لس برابره سختۍ او په ډېر وېرونکي حرص، کینې او رخې سره چې سل برابره زیاته شوې، خپل هغه "جنت" ته د بیا ورګرځېدلو لپاره چې ترې شړل شوي او د خپلو هغو کورنیو لپاره چې تر

دې دمـه يې ډېر خوړ ژونـد درلود او اوســمهـال "رزيـل او لوچک رعيت" هغوی پـه بربـادۍ او غريبۍ (يـا پـه "عـادي" کـار او زيار...) محکوم کړي، جګړې ته دننه کېږي. د دې ترخنګ په زېښـاکګرو پانګوالو پسـې، د وړې بورژوازۍ پراخې پرګنې روانې دي، همـاغـه پرګنې چې د ټولو هېوادونو د لسګونو کلونو تاریخي ازمېښتونو پر اساس، تل د تزلزل او دوه زړۍ په حال کې دي، دوی یوه ورځ د پرولتـاريـا تر شـــا حرکـت کوي، خو بلـه ورځ د انقلاب لـه کړاوونو وېرېږي او د کـارګرانو لـه لمړنۍ ماتي يا نيمه ماتي څخه ويرجن کېږي، غوسـه وي، بېړه کوي، سـا يې لنډه لنډه کېږي او له يوه کمپ څخه بل کمپ ته تښتي» .

(وګورئ د روسي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۵۵ مخ)

بورژوازي حق لري چې د خپـل پخواني رژيم د بيـا ټينګولو لپـاره هڅې او منډې ترړې وکړي، ځکه چې له خپلې راپرځېدنې وروســته بيا هم تر ډېره وختـه، لـه هغې پرولتـاريا څخه چې دا يې راپرځولي، ځواکمنه پاتېږي. لنين وايي:

«کلـه چې زېښــاکګر يوازې په يوه هېواد کې ماتي خوري؛ څنګه چې پوهېږو دا يوه دود قـاعده هم ده، ځکه چې په ځو هېوادونو کې د انقلاب يو ځايي پېښــيدل ډېر کم پېښــيږي؛ نو په دې حالت کې هغوی له زېښـاکګرو څخه بيا هم ځواکمن پاتېږي.» (وګورئ هماغه ټوک، ۳۵۴ مخ)

د راپرځېدلي بورژوازۍ ځواک په څه شي کې دی؟

اول: «د نړیوالې پـانګې پـه ځواک او د نړیوالې پانګوالۍ په ټینګو او کلکو اړیکو کې» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۷۳ مخ)

دویم: «د انقلاب څخه وروســته هم هرومرو له زبېښـاکګرو سـره تر ډېرې مودې، یو لړ لوی امتیازات پاتېږي: پیسـې (ځکه پیسـې نه شو کولای چې یو واري له منځه یوسو)، خوځنده (منقول) څیزونه، اړیکې، اداري او تشکیلاتي مهـارتونـه، پر ټولو اداري "رازونو" (عادتونه، تګلارې، اوزار او اســانتیاوې) پوهه، معلومات او لوړې زده کړې، له هغه وګړو ســره نژدې والی چې عالي حرفوي معلومات لري (او د بورژوازي په سـبک ژوند او فکر کوي)، د نظام او جګړې په چارو کې بشـپړ مهارت (چې دا مسـأله د ډېر اهمیت وړ ده) او داسـې نور؛ دا ټول د دوی په لاســونو کې پاتېږي». (وګورئ د روسـي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۵۴ مخ)

درېیم،: «د عـادت ځواک او د کوشـــني تولیـد پیاوړتیا، ځکه له بده مرغه تراوســه هم کوشــنی تولید، په نړۍ کې خورا زیات دی او دا کوشــنی تولید دی چې پرله پسې، هره ورځ او هره ګړۍ خپل پخپله په زیاته اندازه پانګوالي او بورژوازي منځ ته راوړي.. ځکه چې:
«د طبقـاتو لـه منځـه وړل یوازې دا نه دي چې ځمکوال او پانګوال له منځه یوسو، چې دا کار موږ په ډېرې اسانۍ سره ترسره کړ؛ بلکې د کوشنیو توکو د مولدینو کار هم باید یوې خواته شـي، خو هغوی نه شو کولای له مېنځه یوسـو، نه شو کولای چې ویې ټکوو، له هغوی سره باید په همغاړي توګه

ژوند وکړو، هغوی یوازې کولای شو (او پکار ده) چې د یوه اوږده او ورو کار په پایله کې، په ډېر پام سره د سازماني کار له لارې له سره بیا وروزو.» ( وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۷۳ او ۱۸۹ مخونه)

ځکه نو لنین وایي:

«پرولتاري دېکتاتوري، د یوه ځواکمن دوښـــمن یانې بورژوازۍ پرخلاف، چې له راپرځیدو وروســـته یې مقاومت لس برابره ډېر شـــوی، د نوې طبقې خورا سرښندونکی او بېرحمانه جنګ دی.»

او:

«پرولتـاري دېکتـاتوري د زړې ټولنې د ځواکونو او دودونو پر خلاف، یوه سرسخته خونړۍ او ناخونړۍ، تاوتریخجنه او سوله ییزه، نظامي او اقتصادي، ښوونیزه او سازماني مبارزه ده.» (وګورئ هماغه، ۱۷۳ او ۱۹۰ مخونه)

فکر نه کوم دا دې زباد ته اړتیا ولري چې په لږه موده کې د دغو موخو عملي کول او د څو کلونو پـه اوږدو کې د دغو ټولو چـارو ســرتـه رســول، بیخي ناشوني دي. ځکه نو پرولتاري دېکتاتوري او له پانګوالۍ څخه کمونېزم ته د تېریدنې پېر، نه باید د یو لړ "خورا انقلابي" حکمونو او فرمانونو په بڼه یو ژر تیریـدونکی پېر وګڼو، بلکې هغـه بـایـد د داخلي جګړو او بهرنیو ټکرونو، سـرسـختو سـازماني کړنو او اقتصـادي ودانۍ جوړولو، بریدونو او شاتګونو، سوبو او ماتو څخه ډک یو بشپړ تاریخي پېر وګڼو. دغه تاریخي پېر نه یوازې د دې لپاره اړین دی چې په اوږدو کې یې، د ســوســیالېزم د بشـپړ بري لپاره اقتصـادي او فرهنګي بنسـټونه کېښـول شـي، بلکې د دې لپاره هم اړین دی

چې پرولتاریا د دې کابو پیدا کړي چې، اول؛ خپل ځان د یو داسې ځواک په توګه وروزي او پوخ کړي چې د هېواد د اداره کولو وړتیا ولري او دویم؛ د وړې بورژوا طبقې بیا ښوونه او روزنه په داسې لیکه باندې، چې د سوسیالیستي تولید تنظیم باوري کړي.

مارکس به کارګرانو ته ویل:

«تاسو باید په خپل ژوند کې پینځلس، شل او پینځوس کاله داخلي جګړې او نړیوال ټکرونه پر سر تېر کړئ، تر څو په پای کې بریالي شئ چې نه یوازې شته اړیکې (مناسبات)، بلکې همهاله خپلو ځانونو ته هم بدلون ورکړئ او د سیاسي ځواک د ساتلو وړتیا پیدا کړئ» (وګورئ د ک. مارکس او ف.اینګلز کلیات، ۸ ټوک، ۵۰۶ مخ، روسي چاپ)

لنین د مارکس د نظریې په بشپړولو او پراخولو سره وایي:

«د پرولتاري دېکتاتورۍ په شرایطو کې باید په میلیونونو بزګران او کوشني مالکان، سلګونه زره اداري کارمندان، دولتي مامورین او د بورژوازۍ روڼ اندي له سره بیا وروزو، د پرولتاري دولت او پرولتاري رهبرۍ تر غاړې اینسوون لاندې یې راولو او د دوی په وجود کې د بورژوازي خویونه او عادتونه مات کړو «لکه څه ډول چې باید»... په خپله د پرولتاریا روزنې ته هم د یوې اوږدې مبارزې په پایله کې، د پرولتاري دېکتاتورۍ پر بستر باندې بدلون ورکړو. ځکه هغوی هم خپلې د وړې-بورژوازۍ وسواسې یو واریز د معجزې په وسیله یا په اسماني وحي او یا د شعار، پریکړه لیک او فرمان له لارې نه پرېږدي او د دې لپاره د خلکو په منځ کې د وړې بورژوازۍ

د ډېر نفوذ او اغیزې پر خلاف، یوه اوږده خلقي او سـخته مبارزه پکار ده.»
(وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۴۷ او ۲۴۸ مخونه)

۲) پرولتاري دېکتاتوري، په بورژوازۍ باندې د پرولتاریا د برلاسۍ په توګه.

لـه همـدغو ټکو څخـه چې پورتـه یـاد شـول دا څرګنـدېږي چې پرولتـاري دېکتاتوري یوازې د اشـخاصـو، دولتي غړو او "کابینې" د بدلون او داسې نورو ساده بدلونونو او د زاړه اقتصـادي او سیاسي نظم او ترتیب د ساتنې په مـانـا نـه ده. منشـویکان او د ټولو هېوادونو اپرچونېسـتان، چې د پرولتاري دېکتاتورۍ له نوم څخه د اور غوندې وېرېږي او له ډېرې وېرې د دېکتاتورۍ د مفهوم پر ځـای د "ځواک نیونې" مفهوم کـاروي، پـه دودیز ډول "ځواک نیونـه" هم د "کابینې" د بدلون او د حکومت په سـر کې د نویو وزیرانو لکه شـېدمان او نوسـکې، مېک دونلد او هندرسـن د راڅرګندېدو په مانا سـره تعبیروي. فکر نه کوم دا دې شـنني ته اړتیا ولري چې دغه د کابینو بدلون او دې ته ورته مسـایل له پرولتاري دېکتاتورۍ او د رښـتیني پرولتاریا په لاس د رښـتیني حکومـت له نیونې سـره هیڅ ورته والی نه لري. مېک دونلدان او شـېدمانان چې د بورژوازۍ د زاړه نظم د پاتېدنې په شـرط واک ته رسـېدلي، تش په نوم حکومتونه یې د بورژوازۍ په لاسـونو کې د یوې غاړایښـونکي اوزار او د امپریالېزم په ټپونو باندې د پردې اچونې او د کرېدلو او اسـکېرلو خلکو د انقلابي غورځنګ پر خلاف د بورژوازۍ په لاس کې، د یوې وسلې پرته بل څه نه شـي کېدای. دغو حکومتونو ته هغه وخت چې کله د پانګې لپاره مناسب او ګټور نه وي او ستونزمنه وي چې خلک بې پردې وزبېښي، د یوې پردې او پوښ پـه توګـه اړتیـا پېښـېږي. البتـه د دا ډول حکومتونو را

ځرګندېدنه د دې نښــه ده چې "هلته" (یانې د پانګوالو په پنډغالي کې) هر څه د "شــیپکا غوندې"[1] په ارامۍ مخ ته نه دي روان، خو په هر توګه دغه ډول حکومتونـه بیا هم هماغه د پانګې حکومتونه دي، بس یو نوی رنګ و روغن یې پر ځان وهلای. د میک دونلد یا شــېدمان حکومت او د پرولتاریا حکومـت د ځمکې او اســمـان هومره توپیر لري. پرولتاري دېکتاتوري یو حکومتي بـدلون نـه دی، بلکې پـه ښــار او کلیو کې د نوي حکومـت لـه اورګانونو سـره مل، یو نوی د پرولتاریا دولت دی چې د بورژوازۍ د پخواني دولت په ویجاړیو باندې را زرغونیږي.

پرولتاري دېکتاتوري د بورژوازي د نظم پر بنســټ منځ ته نه راځي، بلکې د هغې د مـاتولو او د بورژوازي د را پرځولو څخـه وروســته او تر څنګ یې د پانګوالو او ځمکوالو د ملکیت له ســلبولو، د ارزښــمنو تولیدي وســایلو د ټولنیز کولو او پـه پـای کې د پرولتـاریـا د قهرجن انقلاب په بهیر کې منځ ته راځي. پرولتاري دېکتاتوري یو انقلابي ځواک دی چې د بورژوازي خلاف د زور کارونې پر بنسټ ولاړ دی.

دولت، د واکمنې طبقې په لاسونو کې د خپلو طبقاتي دوښـمنانو د مقاومت ټکولو ماشــین دی. پرولتاري دېکتاتوري له دې پلوه په حقیقت کې د نورو طبقاتو له دېکتاتوریو سره هېڅ توپیر نه لري، ځکه چې پرولتاري حکومت د

---

۱- "هر څه د شــیپکا غوندې په ارامۍ مخ ته نه ځي"دا اصـطلاح د ۱۸۷۷-۱۸۷۸ ز کلونو په اوږدو کې، د روسیې او تورکیې ترمنځ جګړې ته ورګرځي. د شیپکا په نوم دره کې یوه خونړۍ او سخته جګړه پېښه شوه چې روسانو پکې دورند زیان ولید، خو د تزاري اوردو کوماندان په خپله اعلامیه کې لیکلي وو: «د شیپکا په دره کې ارامه ارامي ده.»

بورژوازي د ټکولو ماشین دی. خو دلته یو بنسټیز توپیر شته. دغه توپیر دا دی چې ټول طبقاتي حکومتونه چې تراوسه پورې منځ ته راغلي، پر ډېرې زبېښېدونکو باندې د لږه کیو زبېښاکګرو دیکتاتوري وه، په داسې حال کې چې اوسنی پرولتاري دیکتاتوري، پر لږه کیو زبېښاکګرو باندې د ډېرې زبېښېدونکو دیکتاتوري ده.

لنډه دا چې:

«د پرولتاري دیکتاتورۍ حکومت پر قانون بې بریده برلاسی لري او د بورژوازۍ پر وړاندې د پرولتاریا په زور باندې ډډه لګوي، چې د ډېرو زبېښېدونکو او خواریکښو خلکو له خواخوږۍ او ملاتړ څخه برخمن دی.»

(لنین "دولت او انقلاب")

له دې ځایه دوې بنسټیزې پایلې په لاس راځي:

لمړۍ پایله. پرولتاري دیکتاتوري نه شي کېدلای چې یوه "بشپړه" دیموکراسي، د ټولو لپاره دیموکراسي، هم د بډایو لپاره او هم د تش لاسو لپاره واوسي.

«پرولتاري دیکتاتوري باید په نوي بڼه دیموکراتیک دولت (د پرولتاریا او په ټوله کې د بې وزلو لپاره) واوسي او په نوي بڼه (د بورژوازي پر خلاف) دیکتاتوري.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۱ ټوک، ۳۹۳ مخ)

د ټولنیز عدالت په اړه د کایوتسکي او د ده د نورو ملګرو د "سوچه" دیموکراسۍ، "بشپړې دیموکراسۍ" چټي او بې ځایه اوتې بوتې یوازې په دې څرګند حقیقت باندې بورژوا شکله پوښ اچونه ده، چې د زبېښېدونکو

برابري له زبېښاکګرو سره ناشوني ده. د "نږه يا سوچه" دېموکراسۍ تيوري د کارګرې طبقې د لوږ قشـــــر تيوري ده، چې د امپرياليسـتي لوټ مارانو په لاسـونو روزل شـوې او د دوی لخوا تغذيه کېږي. د دې تيورۍ موخه دا ده چې د پـانګوالۍ ټپونـه پـټ وسـاتي، امپريـاليزم تـه يو پسـول ورکړي او د زبېښيدونکو خلکو خلاف په مبارزه کې هغوی ته اخلاقي ځواک ور وبښي. د پانګوالۍ لاندې، د زبېښـيدونکو خلکو لپاره رښـتيني "ازادي" نه شـته او شـوني هم نه ده. آن هغه ټولې ودانۍ، چاپخونې، کاريدونکي پاڼې او داسې نور چې د "ازادۍ" د کلمې لپاره ترې ګټه اخيسـتل کېږي، هم د زبېښاکګرو پـه انحصـــار کې دي. پـه پـانګوالي رژيم کې د هېواد پـه اداره کولو کې د زبېښيدونکو خلکو رښتينی ګډون او برخه اخېستنه نه شته او نه هم شوني ده. د پانګوالۍ په شـرايطو کې، که حکومتونه هر څومره دېموکراتيک واوسـي، بيا هم د ولسونو لخوا نه ټاکل کېږي، بلکې روتشېلدان، راکفلران او مورګانان يې ټاکي. د پانګوالۍ په شرايطو کې دېموکراسي، د پانګوالۍ دېموکراسي او د لږه کيو (اقليت) زبېښـاکګرو دېموکراسـي ده، چې د ډېرۍ زبېښـيدونکو خلکو د حقونو را تنګونې پر بنسـټ او د دغو ډېرۍ (اکثريت) پر ضد باندې ټينګـه شـوې ده. يوازې د پرولتـاري دېکتـاتورۍ تر حـاکميـت لانـدې، د زبېښـيدونکو خلکو لپاره رښـتيني ازادي منځ ته راځي او د هېوادنيو چارو په اداره کولو کې، د کـارګرانو او بزګرانو لپـاره رښـــتينی ګـډون شـــونی کېږي. دېموکراسي د پرولتاري دېکتاتورۍ پرمهال، پرولتاري دېموکراسي او د ډېرۍ

زبېښېدونکو دېموکراسي ده، چې د لږه کيو زبېښاکګرو د حقونو را تنګونې پر بنسټ باندې ټينګيږي او د دغه لږه کي پر ضد ده.

دويمه پايله. پرولتاري دېکتاتوري نه شي کېدلای چې د بورژوازي ټولنې او بورژوازي دېموکراسۍ د سوله ييزې بشپړتيا (تکامل) په پايله کې منځ ته راشي، بلکې يوازې د بورژوازي د دولتي ماشين، بورژوازي پوځ، د بورژوازي د اداري دستګاه او بورژوازي پوليسو د ماتولو په پايله کې منځ راتلای شي.

مارکس او اينګلز د "کمونېست ګوند مانېفسټ" کې وايي:

«کارګره طبقه نه شي کولای چې په ساده ډول تيار دولتي ماشين ترلاسه کړي او بيا د خپلو موخو لپاره هغه وکاروي.» مارکس د دې ترځنګ پر ۱۸۷۱ ز کال، کوګلمان ته په خپل يو ليک کې ليکي: «د پرولتاري انقلاب دنده دا ده چې د تېر خلاف نظامي- بېروکرات ماشين يوازې له يو لاس څخه بل لاس ته ونه لېږدوي، بلکې هغه مات کړي...، د دې کُرې د هر ربښتيني ولسي انقلاب لمړنۍ شرط همدا دی.»[1]

د مارکس په کُرې پورې تړلي عبارت، د ټولو هېوادونو منشويکانو او اپرچونېستانو ته پلمه په لاس ورکړه چې چغې او نارې سورې ګډې کړي او ووايي، چې دا دی له دې ځايه ځرګنده شوه چې مارکس پرولتاري دېموکراسۍ ته د بورژوازي دېموکراسۍ سوله ييز تکامل او لېږد، لږ تر لږه د ځينو هغو هېوادونو په برخه کې، چې د اروپا له لويې وچې څخه نه دي

---

۱- وګورئ "د مارکس او اينګلز د ليکونو غورچاڼ".

(انګلیستان او امریکا)، شونې ګڼي. رښتیا هم مارکس دغسې یو شونتیا منله او دلیل یې هم درلود چې د تېرې پیړۍ د اویایمو کلونو د انګلیستان او امریکا لپاره یوه داسې چاره ممکنه وګڼي. په هغو وختونو کې چې لا انحصاري پانګوالي منځ ته نه وه راغلې، امپریالېزم نه وو او د دغو هېوادونو د تکاملي تګلوري د ځینو ځانګړو شرایطو پر بنسټ، تراوسه هلته مېلیتارزېم او بېروکراتېزم وده نه وه کړې. د پرمختللي امپریالېزم تر را څرګندېدو پورې، کیسه په همدې ډول پاتې وه. خو وروسته له دېرشو او څلوېښتو کلونو، کله چې په دغو هېوادونو کې حالت له اصل او ریښې بدلون وموند، کله چې امپریالېزم پوره وده وکړه او له یوې مخې یې ټول پانګوال هېوادونه ونیول، کله چې مېلیتارېزم او بېروکراتېزم په انګلیستان او امریکا کې هم را څرګند شول او کله چې په انګلیستان او امریکا کې د پرمختګ ځانګړي سوله ییز شرایط له منځه ولاړل؛ نو د دغو هېوادونو په اړه هغه محدودیت هم باید خپله پخپله له منځه تللای وای.

لنین وایي:

«اوسمهال، پر ۱۹۱۷ ز کال، د لمړنۍ لویې امپریالېستي جګړې په پیر کې، نور نو هغه محدودیت چې مارکس پرې باور درلود، د بحث وړ نه دی او دواړه انګلیستان او امریکا، - د مېلیتارېزم او بېروکراسۍ د نشتوالي له پلوه -په ټوله نړۍ کې- د انګلوساکسون د "ازادۍ" هغه ترټولو لوی او وروستي استازي دي چې په بشپړ ډول د اروپا د نظامي او بېروکراتیکو بنسټونو چټل او خونړي ډنډ ته، چې هرڅه یې د خپل ځان تابع کړي او هر څه ټکوي، ور

ښـویدلې دي. نن ورځ په انگلیسـتان او امریکا کې هم " د هر ډول رښـتیني خلقي انقلاب لمړنی شـرط" د هغه "تیار دولتي ماشـین" ماتونه او ویجاړونه ده (چې د ۱۹۱۴-او ۱۹۱۷ ز کلونو ترمنځ یـانې د ټولیز "اروپایي" امپریالېزم له بشـپړیدو څخه وړاندې هلته تیار شـوی دی.)» (وگورئ د روسـي چاپ ۲۱ ټوک، ۳۹۵ مخ)

پـه بلـه وینـا، د تـاوتریخجن پرولتـاري انقلاب قانون او د بورژوازۍ د دولتي ماشین د ویجاړونې قانون، چې د دغه ډول انقلاب لمړنی شرط دی، د نړۍ د امـپـریـالـېسـتـي هـېوادونو د انقلابي غورځنگونو لپـاره، یو حتمي قـانون گرځېدلای.

البته پـه یوه لږې راتلونکي کې، چې هر کله پرولتاریا د پانگوالۍ په اصـلي هېوادونو کې برلاسـي شـي او د پانگوالۍ اوسـنۍ کلابندي (محاصـره) په سـوسـیالېستي کلابندۍ بدله شي، په هغه وخت کې به دا په بشپړ ډول شوني وي چې په یو لړ پانگوالو هېوادونو کې د "ناوړه" نړیوال وضـعیت په پام کې نیولو سـره، پـانگوال خپـل خیر پـه دې کې ووینې چې "پـه خپلـه خوښـه" پرولتاریا ته ارزښـمن امتیازونه ورکړي او په دې سره یو "سوله ییز" تکامل او لیږد په دغه هېوادونو کې سـرته ورسیږي. خو دا یوازې په یوه لرې او اټکلي راتلونکي پورې تړلې انگیرنـه ده او پـه نژدې راتلونکي کې د دې انگیرنې لپاره هیڅ دلیل نه شته.

ځکه نو لنین په حقه دی چې وایي:

«پرولتاري انقلاب، د بورژوا د دولتي ماشین له قهرجنې ویجاړونې او په نوي دولتي ماشین د هغې له بدلونې پرته ناشونی دی.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۳ ټوک، ۳۴۲ مخ )

۳) شوروي حکومت، د پرولتاري دېکتاتورۍ د دولتي شکل په توګه.

د پرولتاري دېکتاتورۍ د بریا مفهوم، د بورژوازۍ د ټکولو، د بورژوازي د دولتي ماشین د ویجاړولو او د بورژوازي دېموکراسۍ په پرولتاري دېموکراسۍ د بدلولو مانا لري. دا خو ځرګنده ده. مګر دا کوم ډول تشکیلات دي، چې په وسیله یې دا لوی کار سرته رسولای شو؟ د دې کار لپاره د پرولتاریا پخوانی سازماني بڼې، چې د بورژوازي پرلمانېزم پر بنسټ یې وده کړې ده، بسنه نه کوي، په دې کې هم شک نشته. ښه نو د پرولتاریا کوم نوي تشکیلات دي چې نه یوازې د دې وړتیا لري چې د بورژوا دولتي ماشین د ګورکېندونکي رول ولوبوي، نه یوازې دا ماشین تس نس کړي او د بورژوازي دېموکراسۍ پر ځای پرولتاري دېموکراسي ټینګه کړي، بلکې د پرولتاري دولت اساس او بنسټ هم وګرځي؟

د پرولتاریا دغه د نوي بڼې تشکیلات، شوراګانې دي.

د پرولتاریا د پخوانیو تشکیلاتي بڼو په پرتله، د دغو شوراګانو ځواک په څه شي کې دی؟

شوراګانې د پرولتاري پرګنو ترټولو پراخ بنسټه تشکیلات دي، ځکه چې یوازې همدغه شوراګانې دي، چې له یوې مخې ټول کارګران په غېږ کې رانغاړي.

شــوراګانې یوازینې ولســي تشــکیلات دي چې ټول اســکېرلي او زبېښــاک ځپلي، کارګران، بزګران، سرباذان او ماښوګان (بېړۍ چلوونکي) سره متحدوي او ځکه نو دلته د خلکو د مخکښ یانې (پرولتاریا) لخوا، د خلکو د سیاسي مبارزې لارښوونه، له بلې هرې بنې څخه په ترټولو اسانه او ترټولو بشپړ ډول سرته رسېدای شي.

شــوراګانې د خلکو د انقلابي مبارزې، ســیاســي فعالیتونو او خلقي پاڅونونو ترټولو ځواکمن اورګان دی، داسې اورګان چې کولای شــي د مالي پانګې ستر ځواک او د هغې سیاسي ضمایم دړې وړې کړي.

شــوراګانې په خپله د خلکو بې واســطې تشکیلات یانې د خلکو دېموکرات ترینه او په همدې بنسټ ترټولو باوري تشکیلات دي، داسې تشکیلات چې د نوي دولــت پــه جوړولو او د هغې پــه اداره کولو کې، د خلکو ونډه په پوره ډول اســانوي او د خلکو انقلابي انرژۍ، د هغوی نوښــتیز ځواک او خلاقانه وړتیا تــه، د پخواني رژیم د ویجاړولو او د نوي پرولتاري رژیم د جوړولو په مبارزه کې پوره پراختیا ورکوي.

شـــوروي دولت په یوه ټولیز دولتي ســـازمان کې، د ســـیمه ییزو شـــوراګانو راټولونـه او تشــکـل دی، د پرولتاریا یو داســـې دولتي ســـازمان، چې هم د مظلومو او زبېښــاک ځپلو خلکو مخکښ او هم واکمنه طبقه واوســي، په بله وینا د شوراګانو په جمهوریت کې د هغوی راټولونه ده.

د شـــوروي حکومـت جوهر پــه دې کې دی چې ترټولو خلقي او ترټولو انقلابي سازمانونه، په ځانګړي ډول د هغو طبقو سازمانونه چې د پانګوالو او

ځمکوالو تر ظلم او زبېښــاک لانـدې وو، اوس " د ټول دولتي ځواک او دولتي دســتگاه بشــپړ او دايمي "تکيه ځايونه" گرځېدونکي دي او "هغه خلـک چې آن د بورژوازۍ پـه هغـه دېموکرات ترينـه جمهوريتونو کې" د قـانون له پلوه د مســاوي حقونو درلودونکي وو، خو "په عمل کې د زرگونو حېلو او وســېلو په مرســته په ســياســي ژوند کې له برخې اخيســتنې او د دېموکراتيکو ازاديو او حقونو لـه گټنې څخـه بې برخې کېدل، اوســمهال د دغه دېموکراتيک دولت په اداره کې، د تلپاتې او غوڅې" برخې اخېســتنې لپاره راغوښتل کېږي"[۱] (وگورئ د روسي چاپ ۲۴ ټوک، ۱۳ مخ)

ځکه نو شـوروي حکومت د دولتي تشکيلاتو يوه نوي بڼه ده، چې د اصولو له مخې د بورژوازي دېموکراسۍ او د پارلمانېزم له پخوانيو اصولو سره توپير لري. د حکومـت يو نوی ډول دی چې د زبېښــاک او زيارکښــو خلکو د ټکولو لپاره نه، بلکې د هر ډول ظلم او زبېښــاک څخه، د هغوی د بشــپړې ازادۍ او د پرولتاري دېکتاتورۍ لپاره ټينگيږي.

لنين په حقه وو چې ويل به يې، د شوروي حکومت په را پيدا کېدو سره:

«د بورژوا-دېموکراتيـک پارلمانېزم پېر پای ته رســيدلای او د نړۍ په تاريخ کې نوی څپرکی، چې د پرولتاري دېکتاتورۍ پېر دی، پيل شوی دی.»

د شوروي حکومت بېلوونکي ځانگړنې کومې دي؟

---

۱- د کليماتو ټينگار په ټولو ځايونو کې زما دی. –ج. ستالين

تر هغې پورې چې طبقې وي، شــوروي حکومـت د ټولو ممکنـه دولتي ســـازمـانونو پـه منځ کې، ترټولو پراخ بنســـټـه او ترټولو ډیموکراتیک دولتي ســـازمـان دی، ځکـه چې دغـه دولت د زبېښـــاکګر پر خلاف مبارزه کې د کارګرانو، بزګرانو او ټولو زبېښـــاک ځپلو د اتحاد او همکارۍ ډګر دی او په خپلو فعـالیتونو کې پر دغـه اتحـاد او همکارۍ باندې ډډه لګوي. ځکه نو د ډېرى خلکو حکومـت پر لږه کیو بـانـدې او د دغه ډیریو دولت او د دوی د دیکتاتورۍ ښکارندوی ګڼل کېږي.

همدا راز د شــوروي حکومت په طبقاتي ټولنه کې، د ټولو دولتي ســازمانونو پـه منځ کې تر ټولو انترنـاســیونالیســـت ســـازمان دی، د دې لپاره چې دغه حـکومـت هر ډول ملي زورزیـاتی لـه منځـه وړي او د بېلابېلو ملتونو د خواریکښو خلکو په همکارۍ باندې ډډه لګوي او په دې سره د دغو خلکو راټولونه په یو واحد دولتي اتحاد کې، اسانه کوي.

د دې حکومت بله ځانګړنه دا ده چې په خپله د شــوروي حکومت د ودانۍ جوړښت داسې دی، چې د اسکېرلو او زبېښاک ځپلو خلکو د رهبرۍ چارې د هغوی د مخکښ (پرولتـاریـا) لـه لوري، چې د شـــوراګانو خورا متحده او خورا هوښیاره هسته جوړوي، ساده کوي.

لنین وایي:

«د ټولو انقلابونو تجربـه، د ټولو مظلومو طبقو د غورځنګونو تجربه او د ټول نړیوال ســـوســـیـالیســـتي غورځنـګ تجربه، موږ ته را زده کوي چې یوازې پرولتاریا کولای شي د سره پاشل شویو او وروسته پاتې زیارکښو او زبېښاک

ځپلو خلکو قشــرونه په خپل ځان باندې را ټول او په خپل ځان پســې روان کړي.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۴ ټوک، ۱۴ مخ)
بلـه ځـانګړنـه يې دا ده چې شــوروي حکومـت، قـانون جوړونکي او پلي کوونکي ځواکونـه (مقننـه او اجرائيـه) پـه واحـدو دولتي تشــکيلاتو کې راغونډوي، ســيمه ييزې انتخاباتي حوزې په توليدي واحدونو يانې فابريکو او کـارخـانو بـانـدې بـدلوي او پـه دې ډول ســره کـارګران او پـه ټوليز ډول خواريکښـه خلک سيده په دولتي اداري جوړښتونو پورې تړي او هغوی ته د هېواد د اداره کولو لاره ور ښيي.
بله دا چې يوازې شــوروي حکومت کولای شــي چې ټول پوځ او اوردو د بورژوازي د کوماندې له غاړايښوونې څخه خلاصه کړي او دغه پوځ چې په پانګوالي رژيم کې د خلکو د ټکونې يوه آله ده، د بورژوازي له ظلم څخه د هغوی د خلاصونې په آله بدل کړي.
ځکه نو:
«يوازې د شوروي دولتي تشکيلات کولای شي چې پخوانۍ دستګاه يانې د بورژوازي اداري او قضايي جوړښتونه، وار له واره مات او په غوڅ ډول دړې وړې کړي.» (وګورئ هماغه کتاب)
په همدې ډول يوازې د دولت شـوروي بڼه ده، چې د زيارکښـو او زبېښـاک ځپلو خلکو تشــکيلات د دولـت ادراې تـه، پـه تلپـاتې او بې قيـده ونـډې اخيســتنې ســره را غواړي او پـه دې ډول د دې وړتيـا لري چې د دولـت د

ورکيدنې بهير، چې د راتلونکي بې دولته او کمونېستي ټولنې يو بنسټيز توکی دی، چمتو کړي.
ځکه نو د شوراګانو جمهوريت هغه په زړه پورې سياسي او په پای کې لاس ته راغلي بڼه ده، چې د هغې په اډانه کې بايد د پرولتاريا اقتصـادي هوسـايي او د سوسيالېزم بشپړ برى سرته ورسېږي.
"پارېس کمون" د دغه بڼې نطفه وه. شوروي حکومت د هغې تکامل او اوج دی.
ځکه نو لنين ويل:

«د کارګرانو، ســرتېرو او بزګرانو د اســتازو شــوروي جمهوريت، نه يوازې د دېموکراتيکو موسسو يوه ترټولو عالي بڼه ده... بلکې يوازېنۍ بڼه هم ده چې کولای شـي، سـوسـيالېزم ته د تېريدنې يوه ترټولو بې درده لاره هواره کړي.»
(وګورئ د روسي چاپ ۲۲ ټوک، ۱۳۱ مخ)

# ۵

# بزګري مسأله

له دې بحث څخه زه څلور مسألې غوره کوم:

الف) د مسألې طرحه؛

ب) بزګران د بورژوا-دېموکراتیک انقلاب پرمهال؛

ج) بزګران د پرولتاري انقلاب پرمهال؛

د) بزګران د شوروي حکومت له ټینګېدو څخه وروسته؛

۱- د مسألې طرحه: ځینې خلک فکر کوي چې د لنینېزم بنسټیز ټکی د بزګرانو مسأله ده. مانا دا چې د لنینېزم اصلي موضوع بزګران، رول یې او د هغې د پرتلیز (نسبي) اهمیت مسأله ده. دا اند په ټوله مانا ناسم دی. د لنینېزم بنسټیزه مسأله او د هغې اصلي موضوع بزګري مسأله نه ده، بلکې پرولتاري دېکتاتوري او د هغې د لاس ته راوړلو او ټینګولو د شرایطو مسأله ده. د

بزګرانو موضـــوع، د پرولتـاريـا لپاره د واک نيونې په مبارزه کې، د يوه متحد موضوع ده، نو ځکه يوه فرعي مسأله ورته ويلای شو.
خو دغه ټکی هېڅکله د برګرانو مسـأله له خپل هغه غوڅ او حياتي ارزښـت څخه، چې بې له شـــکه يې د پرولتاري انقلاب لپاره لري، نه غورځوي. ټولو تـه څرګنـده ده چې د بزګرانو پر مســألې بـانـدې ټينـګ غور د روســـي مارکســېســـتانو لخوا، په ځانګړي ډول د (۱۹۰۵) ز کال د لمړني انقلاب په درشـــل کې پيـل شـــو، يانې هماغه وخت چې ګوند د تزارېزم راپرځونې او پرولتاري برلاسـی (هېژمونی) د رښـتيانې او پلي کيدا له مسـألې سره په ټولو برخو کې مخامخ شو او د پرولتاريا د متحدينو موضوع، د بورژوازي په نژدې پيښـېدونکي انقلاب کې، پرېکنده ارزښـت پيدا کړ. دا هم ټولو ته ښکاره ده چې د پرولتاري انقلاب پر مهال، کله چې د پرولتاري دېکتاتوری مســأله، د هغې لاس تـه راوړل او بيـا د هغې ســـاتنـه، په نژدې پېښـــېدونکي پرولتاري انقلاب کې، د پرولتاري متحدينو د چمتوالي پر موضـوع بدله شـوه، يانې دا چې څوک د پرولتاريا متحدين دي؟ نو همدلته د روسـي بزګرانو موضوع لا ډېر ارزښـــت ومونـد. د دې خبرې دليـل هم څرګند وو؛ څوک چې د واک نيونې لپـاره چمتو کېږي او د حکومت و خوا ته حرکت کوي، نه شـــــــي کېـدلای د دې پوښـــتنې پـه اړه، چې د دوی رښـــتيني متحدين څوک دي؟ لېوالتيا ونه لري.

له همدې لامله د بزگرانو مســأله د پرولتاري دېکتاتورۍ د ټولیزې او عمومي مسئلې یو جزء دی او په همدې بڼه د لنینېستي مسایلو یوه ترټولو ارزښمنه برخه جوړوي.

د بزگري مسألې په اړه د دویم انترناسیونال گوندونو د بې پروایۍ او آن ځېنې وختونه د هغوی د منفي چلند لامل، یوازې د لویدیزو هېوادونو د تکامل په ځانگړو شرایطو سره نه تشـریح کېږي. د دې خبرې لامل له هر څه وړاندې دا دی چې، دغه گوندونه د پرولتاریا په دېکتاتورۍ باندې ایمان نه لري، له انقلاب وېرېږي او دا هوډ نه لري چې پرولتاریا تر واکه پورې ورسوي او هغوی چې له انقلاب وېرېږي او هوډ نه لري چې پرولتاریا د حکومت و خوا ته بېل وهي، نو رښتیا هم په انقلاب کې د پرولتاریا د متحدینو په اړه لېوالتیا نه شي درلودلای. د هغوی لپاره د متحدینو مسأله یوه نااړینه او له واقعیتونو لرې مسأله ده. د دویم انترناسیونال د اتلانو چلند، چې پر بزگري مسأله باندې به یې یو ډول ملنډې وهلې، د دوی په خپل اند د یوې ښې روزنې او "رښتیني" مارکسېزم نښه گڼل کېده. خو رښتیا دا دي چې د دوی په دې چاره کې د مارکسېزم یوه زره او څرک هم نه لیدل کېږي، ځکه د پرولتاري انقلاب په درشل کې د بزگرانو غوندې یوې ارزښمنې مسألې ته نه پام، په حقیقت کې د پرولتاري دېکتاتورۍ نفي او له هغې څخه کورټ انکار دی چې بې له شکه د مارکسېزم سره څرگنده درغلي (خیانت) گڼل کېږي.

پوښتنه په دې ډول رامخې ته کېږي: ایا له هغو پټو انقلابي توان زېرمو (بالقوه وړتیاوو) څخه چې بزگري پرگنو د ژوندانه د ټاکلو شرایطو پر بنسټ، د خپل

وجود په ژورو کې ساتلي، بشپړه ګټه اخېستل شوې او کنه؟ که چېرې دې پوښتنې ته ځواب "نه" وي، نو ایا کومه هیله او دلیل شته چې له دغو توان زېرمو څخه د پرولتاري انقلاب لپاره ګټه واخېستل شي او همدا راز بزګري پرګنې او ډېرى زبېښاک ځپلي هغه يې د بورژوازي له زیرمه ییز (ذخیروي) لښکري حالت څخه، چې دا رول يې د لویدیځ په بورژوازي انقلابونو کې وو او اوس هم دی، د پرولتاریا په زیرمه ییز لښکر او د هغې په یو متحد بدل کړو؟

لنینېزم دغې پوښتنې ته مثبت ځواب وایي، یانې د ډېرى بزګري پرګنو په لیکو کې، د انقلابي توانزېرمو شته والی تاییدوي او د پرولتاري دېکتاتورۍ لپاره له هغې څخه ګټه اخیستنه شوني ګڼي.

د روسیې د دریو انقلابونو تاریخ د لنینېزم ټولې پایلې په دې اړه تاییدوي.

ځکه نو هغه عملي پایله چې له دې ځایه لاس ته راځي، دا ده چې د ظلم او زبېښاک پرخلاف مبارزه کې، باید له زیار ایستونکو بزګري پرګنو سره د ازادۍ او خلاصون لپاره، د دوی لاسنیوی وشي. البته دا په دې مانا نه ده چې پرولتاریا باید د هر ډول بزګري خوځښت ملاتړ وکړي، دلته زموږ موخه هغه غورځنګ او هغه د بزګرانو مبارزه ده چې په سیده یا ناسیده ډول د پرولتاریا د ازادیپاله غورځنګ کار اسانه کړي او په یوه نه یو ډول د کارګرې طبقې په زیرمې او متحد باندې، د بزګرې پرګنې اوړیدل تایید کړي.

۲ - بزګران د بورژوا–دېموکراتيک انقلاب پرمهال.

دغه پېر د روسيې له لمړي انقلاب (۱۹۰۵) ز څخه، تر دويم انقلاب (۱۹۱۷ فېبروري) ز. پورې واټن په غېږ کې رانغاړي. د دې دورې څرګندې ځانګړنې د لېبرال بورژوازي لـه اغېزې څخـه د بزګرانو خلاصـــون، د کادېټيانو[۱] څخه لرې کيدل او د پرولتاريا او بلشـــويکانو د ګوند و خواته د هغوی مخه کول دي.

د دغـه پېر تـاريخ، د بزګري پرګنو پر سـر، د کادېټيانو (لېبرال بورژوازي) او بلشويکانو (پرولتاريا) ترمنځ د مبارزې تاريخ دی. د دې مبارزې پايله د دوما د جرګې پړاو وټاکلـه، ځکـه چې د روســيې د دومـا د جرګې څلور پړاوه د روســي بزګري پرګنو لپـاره د عبرت درس شـــو او دې درس بزګرانو تـه پـه څرګنده ور وښوده چې هغوی د کادېټيانو له لاسـه نه ځمکه، نه ازادي او بل هيڅ شـــی تر ګوتو کولای نـه شـــي او تزار پـه خپل ټول ځواک د فيوډالانو پلوي کوي او کادېټيان هم په خپل وار د تزار ننګه کوي، خو يوازينی ځواک چې دوی پرې ډډه لګولای شـــي، ښـــاري کـارګران يـانې پرولتـاريـا ده. امپريـالېســـتي جګړې هم د دوما د پړاو درســـونه تاييد کړل او له بورژوازۍ څخـه د بزګري پرګنو د لرې والي او د لېبرال بورژوازۍ ګوښـــي پـاتېدنه يې بشـپړه کړه، ځکه د جګړې کلونو په بشـپړ ډول وښوده چې له تزار او د هغې له بورژوا متحدينو څخه د سولې د لاسته راوړلو هېله، په بشپړه ډول بې بنسټه

۱- کادېټيان - د روسي سـلطنت پاله لېبرال بورژوازۍ د "مشـروطيت غوښـتونکي دېموکرات ګوند" لنډکی نوم دی. د د کادېټيانو ګوند د ۱۹۰۵ ز کال په اکتوبر کې جوړ شو.

او یو ســوچه فرېب دی. د دوما د پړاو له څرګندو درســونو پرته، د پرولتاریا هېژموني ناشوني وه.

په دې ډول په بورژوا-دېموکراتیک انقلاب کې، د کارګرانو او بزګرانو اتحاد ټینـګ شــو. پـه دې ډول د تزار د راپرځونې په ټولیزه مبارزه کې د پرولتاریا هېژموني (برلاسـي) منځ ته راغله. هغه هېژموني چې پایله یې د ۱۹۱۷ ز کال د فبرورۍ انقلاب وو.

موږ او تاسو پوهېږو چې د لویدیځ (انګلیستان، فرانسې، جرمني او اوتریش) بورژوا انقلابونه په نورو تګلورو باندې مخ ته ولاړل. هلته د انقلاب لارښوونه د پرولتـاریا پر غاړه نه وه، ځکه چې د خپلې کمزورۍ له لامله لا یو خپلواک سیاسي ځواک نه وو او نه هم کیدلای شو. نو د دغو انقلابونو مشري د لیبرال بورژوازۍ په برخه شــوه. هلته بزګرانو د فیوډالیزم (ســرواژ) له رژیمونو څخه خپله ازادي، نه د پرولتاریا په لاسـونو چې کوشـنۍ او نامتشـکله وه، بلکې د بورژوازي په وسـیله لاسـته راوړه. هلته بزګران د لیبرال بورژوازۍ سـره څنګ پر څنګ د پخواني نظم پرخلاف را پورته شــول. هلته بزګرانو د بورژوازۍ د زېرمو رول لوباوه. ځکه نو د انقلاب په پایله کې هلته د بورژوازي ســیاســي اغېزه په بې ساري ډول لوړه شو.

د دې سرچپه په روسیه کې، د بورژوازي انقلاب بیخي بل ورې پایله درلوده. د روسـيې انقلاب، بورژوازي د یو سـیاسـي ځواک په توګه ځواکمنه نه، بلکې کمزورې کړه، د بورژوازي ســیاســي زېرمې یې څو برابره نه، بلکې د هغوی دغـه ارزښــمنې زېرمې، یـانې بزګران یې بیخي ترې واخیســتل. د روســيې

بورژوازي انقلاب، لیبرال بورژوازۍ تـه پـه خپلـه لمړۍ لیکـه کې ځـای ورنه کړ، بلکې انقلابي پرولتـاریا یې رامخې ته کړه او میلیونونه بزگران یې د هغې پر شاوخوا راغونډ کړل.

همدغه مسـأله د دې لامل شـوه چې د روسیې بورژوازي انقلاب د څه نا څه لنډې مودې په اوږدو کې، تر پرولتاري انقلاب ورسید. د پرولتاریا هېژموني، د پرولتاري دېکتاتورۍ خوا ته تېرېدونکی پړاو وو.

څه ډول کولای شـو چې د روسیې په انقلاب کې دغه هېښنده ښکارنده چې د لویـدیځ د بورژوازي انقلابونو پـه تـاریخ کې یې مخینـه نـه لیـدل کېږي، تشریح کړو؟ په اصل کې دغه ځانگړنې له کومه ځایه را پیدا شوې؟

دا مسـأله باید په دې واقعیت سره تشـریح کړو چې په روسیه کې بورژوازي انقلاب پـه داســې وخـت کې پېښ شـــو، چې د طبقاتي مبارزو شـــرایطو د لویـدیځ پـه پرتله ډېره وده او پرمختگ کړی وو او روســـي پرولتاریا تر دغه وخت پورې بریالي شوي وه چې په یو خپلواک سیاسي ځواک بدله شي. په ورتـه حـال کې لیبرال بورژوازي، چې د پرولتـاریـا لـه انقلابي روحیې څخـه وېریـدلي وه، خپلـه هر ډول انقلابي ځـانگړنـه یې لـه لاســـه ورکړې وه (پـه ځانگړې ډول د ۱۹۰۵ ز کال له درسونو څخه وروسته) او د انقلاب، کارگرانو او بزگرانو پر ضد یې د تزار او فیوډالان اتحاد ته مخ اړولی وو.

مونږ باید لاندې شـــرایطو ته ځیر شـــو چې، د روســـیې د بورژوازي انقلاب بیلوونکي ځانگړنې یې وټاکلې:

الف) د انقلاب په درشل کې د روسیې د صنایعو کمساري را غونډېدنه (تمرکز). د بېلګې په توګه موږ پوهېږو چې د روسیې په سلو کې ۵۴ سلنه کارګران، په هغو شرکتونو کې په کار بوخت وو، چې له ۵۰۰ به یې زیات کارګران ګمارل، په داسې حال کې چې په یوه بشپړ پرمختللي هېواد لکه شمالي امریکا کې، په دغه ډول شرکتونو کې یوازې د ټولو کارګرانو ۳۳ سلنه هغو یې کار کاوه. نو فکر نه کوم دا دې زباد ته اړتیا ولري چې یوازې په همدغه شرایطو کې، یوه انقلابي ګوند لکه د بلشویکانو ګوند، کولای شول چې د روسیې کارګره طبقه د هېواد په سیاسي ژوند کې، په یوه ستر ځواک بدله کړي.

ب) د تزاري جلادانو د نه ګالل کېدونکي او سخت زړې پولیسي رژیم سربېره، په فابریکو کې د زېښناک سخت او بوږنوونکي شرایط، هغه شرایط چې د کارګرانو هر ارزښمن کاربندیز (اعتصاب) یې، په یوه ستره سیاسي پېښه بدلاوه او د یو ځواک په توګه یې کارګره طبقه تر پایه انقلابي ساتله.

ج) زموللې (مړاوې) روسي بورژوازي، چې د ۱۹۰۵ ز کال له انقلاب څخه پس، د تزارېزم نوکره او سیده په انقلاب ضد باندې اوښتې وه. د دې لامل چې بورژوازي ولې خپل ځان د تزارېزم غېږې ته اچولی وو، یوازې دا نه وو چې روسي پرولتاریا ډېره انقلابي وه، بلکې اصلي لامل هغه دولتي ټرونونه وو چې دغه بورژوازي پرې ترلې وه.

د) په کليو کې د فيوډالانو د بې کچې ځواک ترڅنګ، د سـرواژ د پېر ډېرې بدرنګې او نه ګالل کېدونکې پاتې شـونې (بقاياوې)؛ هغه شرايط چې بزګران يې د انقلاب غېږې ته په ټوپونو ور غورځول.

هـ) تزارېزم، چې هېڅ ژوندی سری ترې په امان نه وو او په خپل استبداد سره يې د پانګوالو او ځمکوالو ظلمونو لا درنول، هغه شــرايط چې د کارګرانو او بزګرانو مبارزه يې په يو واحد انقلابي بهير کې سره يو ځای کړه.

و) او په پای کې امپرياليسـتي  جګړه چې د روسـيې په سياسي ژوند کې يې دغـه ټول تضــادونه، په يوه ژور انقلابي کړکېچ کې راټول کړل او انقلاب ته يې يو بېساری بريدګر ځواک ور وبښه.

په دغسې شرايطو کې بزګرانو کومې خوا ته مخ اړولای شو؟

له چا څخه يې د ځمکوالو د بې کچې ځواک پر وړاندې، د تزار د زورزياتي پر وړاندې  او د هغې ويجاړونکې جګړې پر وړاندې چې د هغوی اقتصادي هوسـايي يې په بشپړ ډول له منځه وړې وه، مرسته او ملاتړ غوښتلای شو؟ له ليبرال بورژوازي څخه؟ ليبرال بورژوازي خو پخپله د هغوی دوښــمنه ده، دا خبره د دومـا د څلورو جرګو څو کلنو ازمېښــتونو پـه زبـاد رســولې ده. لـه سـوسـياليسـت انقلابيونو (SR) څخه؟ هو سـوسياليست انقلابيون له کادېټيانو څـه نا څه ښـــه دي او د هغوی کړنلاره هم "وړ" او تر ډېره بريده بزګري ده، خو له سـوسـياليسـت انقلابيونو به څه بود شـي، ځکه دوی خو غواړي چې يوازې پـه بزګرانو ډډه ولګوي او پـه ښـــارونو کې، چې دښـــمن له آره خپل ځواکونه له دې ځايه چمتو کوي، کمزوري دي؟ چېرته دی هغه نوی ځواک

چې هيڅ شی يې، نه په ښارونو کې او نه هم په کليو کې مخه نيولای شي؟ هغه چې د تزار او فيوډالانو خلاف په ډېر زړورتوب د مبارزې په لمړۍ ليکه کې حرکت وکړي او وکولای شي چې بزگران لـه مرييتوب، کمځمکۍ، زورزياتي او جگړې څخه خلاص کړي؟ ايا دغه ډول يوه ځواک په روسيه کې شته وو؟ هو بلکل وو. دا هغه روسي پرولتاريا وه چې له ډېر پخوا يانې له هماغه ۱۹۰۵ ز کال پس يې، خپل ځواک او وړتيا په مبارزه، باتورۍ او انقلابي ودرېدنه (استقامت) کې تر پايه ښودلي وه.

په هره توگه. دغه ډول بل ځواک نه تر سترگو کېده او پيداينه يې هم شوني نه وه.

له همدې لامله کله چې بزگرانو کادېټيانو ته شا کړه او بيا يې خپل ځانونه د سوسيالېست انقلابيونو څنگ ته ورسول، ټيک همدلته په دې وپوهېدل چې بايد د روسي پرولتاريا زړه ورې او مېړانې انقلابي سرلارۍ ته غاړه کېږدي.

دا هغه شرايط وو چې د روسيې بورژوازي انقلاب ته يې بېلوونکي ځانگړنې ور کړې وې.

۳ - <u>بزگران د پرولتاري انقلاب پرمهال.</u> دغه پېر د (۱۹۱۷) ز. د فبرورۍ څخه د (۱۹۱۷) ز تر اکتوبر انقلاب پورې رسېږي. دغه پېر په پرتليز ډول لنډ وو او په ټوله کې يې اته مياشتې پايښت وکړ. خو دغه اته مياشتې د سياسي روښاندۍ او د خلکو د انقلابي روزنې له ليده، په بې باکۍ سره کولای شو د مشروطيت د اصولو سره سم، د لسگونو کلونو له دوديز پرمختگ سره پرتله

کړو، ځکه دغه اته میاشـــتې، د انقلاب اته میاشـــتې وې. د دغه پېر بېلوونکې ځـانګړنې دا دي چې بزګران ورو ورو انقلابي کېږي، لـه سـوسـیـالېسـت انقلابیونو څخه ناهیلي کېږي او ترې مخ اړوي. دوی یو ځل بیا له نوي سـره د پرولتاریا ګرد چاپیره سـیده (مسـتقیم) اتحاد ته ور ګرځي، هغه پرولتاریا چې پرلپسـې ترې انقلابي اور پورتـه کېږي او د دې وړتیـا لري چې هېواد د سـولې و خوا ته بوځي. د دغه پېر تاریخ د بزګرانو پر سـر او د هغوی د بشـپړ ډېرى (مطلق اکثریت) د لاس ته راوړلو لپاره، د سـوسـیالېسـت انقلابیونو (وړې بورژوا دېموکراسـي) او بلشـویکانو (پرولتاري دېموکراسـي) ترمنځ د مبـارزې تـاریخ دی. د دغې مبـارزې برخلیـک، ایتلافي مهـالپېر یـانې د کرنسکي د مهال پیښو، د فیوډالانو د ځمکو له ضبطونې څخه د سوسیالېست انقلابیونو او منشـویکـانو ډډې (امتنـاع)، د جګړې د پـایښـت پر سـر د سوسیالېست انقلابیونو او منشویکانو مبارزې، په جبهه کې د جون د میاشتې یرغل، د سرتېرو لپاره د اعدام سزا ټاکل او د کورنیلوف بلوا (بغاوت) وټاکه.

که څه هم له دې پېر وړاندې، د انقلاب بنسـټیزه مسـأله د تزار او فیوډالانو د حکومت را پرځونه وه، خو اوســمهال یانې د فېبرورۍ له انقلاب څخه پس، چې نور نو تزار پـه منځ کې نه وو او یوه نه ختمیدونکې جګړه روانه وه، هغه جګړه چې د هېواد اقتصـاد یې وروسـت کړی وو او بزګران یې په بشپړ ډول ځپلي وو، د انقلاب بنسټیزه مسأله د جګړې د پای ته رسولو په مسألې باندې واوړیده. د ثقل مرکز یا د فشار ټکی په ښکاره له سوچه داخلې مسألې څخه پر بنسټیزه موضوع، یانې د جګړې پر مسألې باندې واوښت.

"جګړه بـایډ پای ته ورســوو" او "بایډ له جګړې ووځو "، همدا له جګړې څخه د ستومانه ملت او له ټولو وړاندې د بزګرانو ټولیزه کوکاره او فریاد وو.
خو لـه جګړې څخـه د خلاصــون لپـاره پکار وه چې لنډمهالی حکومت را پرځول شوی وای، پکار وه چې د بورژوازي حکومت را پرځول شوی وای، پکار وه چې د ســوســیالیســټ انقلابیونو او منشــویکانو حکومت راپرځول شــوی وای، ځکـه یوازې او یوازې هغوی وو چې جګړه یې تر "وروســتي بري" پورې غځوله. د جګړې څخه د وتلو او خلاصــون لپاره د بورژوازي له را پرځولو پرته، په عمل کې کومه بله لاره په نظر نه ښکارېده.
دا یو نوی پرولتاري انقلاب وو، ځکه چې د امپریالیســتي پانګوالۍ تر ټولو وروستۍ او کیڼ ترینه ډلګۍ (فراکسیون) یانې د سوسیالیست انقلابیونو او منشویکانو ګوند یې د ځواک له ګدۍ را وپرځاوه، چې یو نوی، پرولتاري او د شوراګانو حکومت رامنځ ته کړي او د انقلابي پرولتاریا ګوند، د بلشویکانو ګوند، د دېموکراتیکې سولې د ټینګولو لپاره د امپریالیستي جګړې پرخلاف د انقلابي مبارزې ګوند، واک ته ورسوي. ډېری بزګرانو د سولې ټینګولو او د شــوراګـانو حکومـت د رامنځ تـه کولو لپـاره، د کارګرانو مبارزه ځواکمنه او ملاتړ کړه.
بزګرانو له دې پرته کومه بله لار نه درلوده. کومه بله لار وه هم نه.
په همدې بنسټ د کرنسکي مهالپېر، د زیارکښو بزګري پرګنو لپاره یو لوی د عبرت درس شــو، ځکـه چې دې پېر پـه ډېر څرګنـد ډول وښــوده چې د ســوســیالیســت انقلابیونو (SR) او منشــویکانو په حکومت کې به هېواد له

جگړې خلاصون ونه مومي او بزگرانو ته به ځمکه، ازادي او بل هيڅ شی يې ور نه کړل شي، منشويکان او سوسيالېست انقلابيون له کادېټيانو سره يوازې په خوږو خبرو او دروغجنو ژمنو کې توپيرونه لري، خو په حقيقت کې هماغه امپرياليستي او کادېټي سياست مخکې وړي. په پای کې يې دا هم په ډېر څرگند ډول وښوده چې يوازينی حکومت، چې هېواد په سم لوري بېولای شي، د شوراگانو حکومت دی. د جگړې اوږديدلو د دې درس سموالی لا پسې ښه تاييد کړ، د انقلاب حرکت يې چټک کړ او د بزگرانو او سرتېرو ميليونونه پرگنې يې د پرولتاري انقلاب شاوخوا د سيده اتحاد و لور ته ټېل وهلې. د سوسيالېست انقلابيونو او منشويکانو گوښه پاتېدنه (تجريد) يې په يوه نه انکاريدونکي واقعيت بدله کړه. د ايتلافي پېر له څرگندو او عيني درسونه پرته، د پرولتاريا دېکتاتوري ناشوني وه.
همدغه شرايط د دې لامل شول چې، د بورژوازي انقلاب بهير په پرولتري انقلاب بدل شي.
په همدې ډول د پرولتاريا دېکتاتوري په روسيه کې ټينگه شوه.

۴- بزگران د شوروي حکومت له ټينگېدو وروسته. څنگه چې له انقلاب وړاندې اصلي مسأله د تزاريزم را پرځول وو او وروسته د فبرورۍ له انقلاب څخه، لمړنۍ موخه د بورژوازۍ په راپرځولو سره، له امپرياليستي جگړې وتل وو، اوسمهال، يانې د داخلي جگړې له پای ته رسېدو او د شوروي حکومت له ټينگېدو پس، په اقتصادي ودانۍ پورې اړوند مسايل، په لمړۍ ليکه کې ټيکاو لري. د ملي شوي صنعت پياوړتيا او پراختيا، د همدې موخې

لپاره د دولت لخوا د څارل کېدونکي سوداګرۍ له لارې له کرنیز اقتصاد سره د صنعت یوځای کول؛ د جنسي مالیاتو په نغدي مالیاتو باندې اړول، تر هغې چې ورو ورو د دغو مالیاتو د اندازې په تدریجي کموالي سره، وتوانېږو د صنعتي توکو مبادله په کرنیزو پیداوارو (تولیداتو) سره دود کړو؛ د سوداګرۍ را ژوندي کول او کوپراتیفونو ته وده ورکول او دغه کوپراتیف (انډیوالیز) ته د میلیونونه بزګرانو را غوښتل. همدغه د سوسیالېستي اقتصاد د بنسټونو ایښوونې لپاره، د اقتصادي ودانۍ د ورځنیو دندو هغه انځور دی چې لنین یې وړاندې کوي.

ویل کېږي چې دغه دنده ښایي، د روسیې غوندې د یو بزګري هېواد له وسې څخه ډېره لوړه وي. آن ځینې بدویني خلک خو دا هم وایي چې دا یو نړه اټوپیایي او نه پلي کېدونکې اند دی، ځکه چې بزګران، بزګران دي او بزګري پرګنې له کوشنیو تولیدونکیو څخه جوړې شوې دي او په همدې بنسټ شوني نه ده چې له هغوی څخه د سوسیالېستي تولید د بنسټونو ایښوونې لپاره ګټه واخېستل شي.

خو بدویني او شکاکین تېروتنه کوي، ځکه هغوی ځینې هغه ځانګړې شرایط چې په دغه برخه کې ټاکوونکی ارزښت لري، په پام کې نه نیسي.

دلته یې بهترین هغه څېړو:

اول. د شوروي اتحاد بزګران باید د لویدیځ له بزګرانو سره ګډ نه کړو. هغه بزګران چې د انقلاب له دریو ښوونځیو راتېر شوي او د تزار او بورژوازي حکومت پر ضد یې، د پرولتاریا سره اوږه پر اوږه او د هغوی تر لارښوونې

لاندې مبارزه کړې ده، هغه بزګران چې ځمکه او سوله یې د پرولتاري انقلاب په پایله کې ترلاسه کړې او له همدې لامله د پرولتاریا په زړمه باندې اوړیدلي دي. دغه ډول بزګران له هغو بزګرانو سره، چې د بورژوازي انقلاب پرمهال د لیبرال بورژوازي تر لاربنوونې لاندې وجنګېدل او د همدغې بورژوازۍ له لاسونو یې ځمکه لاس ته راوړه او له همدې لامله د هغوی په زړمه ییز لښکر واوښتل، هرومرو توپیر لري. شوروي بزګران چې د پرولتاریا له سیاسي انډیوالۍ او همکارۍ یې زده کړه کړې او خپله ازادي د دغې انډیوالۍ او همکارۍ پوروړې ګڼي، هرومرو له پرولتاریا سره د اقتصادي همکارۍ په برخه کې ګټورې چارې ترسره کولای شي.

اینګلز ویلي:

«د یوه سوسیالیستي ګوند لپاره د سیاسي ځواک ترلاسه کول، د هغې د ترټولو نژدې راتلونکي مسأله ده. »... او «د دې لپاره چې ګوند دغه ځواک لاس ته راوړي، اړینه ده چې تر ټولو لمړۍ له ښارونو څخه د کلیو پر خوا ولاړ شي او هلته ځانونه ټینګ او ځواکمن کړي.» (وګورئ د اینګلز د "بزګري مسألې..." کتاب ۱۹۲۲ ز. روسي چاپ)

نوموړي دغه خبره، د تېرې پېړۍ د نویمې لسیزې لویدیزو کروندګرو ته په کتو سره کړې ده. ایا دا کوم زباد ته اړتیا لري که ووایو چې د روسیې کمونېستانو د دغو دریو انقلابونو په اوږدو کې ډېر بریالیتوبونه خپل کړي او په کلیو کې یې د ځانونو لپاره داسې اغېزه (نفوذ) پنځولي، چې زموږ د لویدیز ملګري یې آن تصور هم نه شي کولای؟ موږ څنګه له دې بې کچې

اسانتيا څخه، چې د دغه شرايطو په پايله کې، د کارګرې طبقې او بزګرانو د اقتصادي انډيوالۍ او همکارۍ د ټينګولو لپاره منځ ته راغلې، انکار کولای شو؟

بدويني خلک په پرلپسې ډول دا خبره کوي چې د کوشنيو بزګرانو له سوسياليزم سره هيڅ وخت جوړه نه کيږي، خو غوږ کيږدئ او واورئ چې اينګلز د لويديزو کوشنيو بزګرانو په اړه څه وايي:

«موږ په غوڅ ډول د کوشنيو بزګرانو ملاتړي يو؛ موږ هر ممکنه کار ترسره کوو، چې هغوی ارام او هوسا ژوند وکړي. د دې لپاره چې دې انډيوالۍ ته د هغوی را ليږدول اسانه شي، نو بايد دوی پخپله پرېکړه وکړي، خو که چيرې دوی تراوسه په داسې دريځ کې نه وي چې دا پرېکړه وکړي، نو موږ به هڅه وکړو چې تر شوني بريده دوی د دې وخت ورکړو، ترڅو د خپلې ځمکې په يوه کوشنۍ ټوټه کې په دې اړه فکر وکړي. موږ دا کار يوازې د دې لپاره نه کوو چې د دغو کوشنيو بزګرانو راتګ، چې په خپلواکه ډول کار کوي، زموږ و لوري ته شونی ګڼو. بلکې پر دې سربېره زموږ د ګوند سيده ګټې دا راته وايي. هر څومره چې د هغو بزګرانو شمېره چې موږ په هماغه بزګري شرايطو کې د ځان خواته را جلب کړي وي او د پرولتاريا کچې ته د ورلوېدلو کابو مو نه وي ورکړي، ډېر واوسي، هغومره د ټولنې بدلون چټک او اسانه پرمخ ځي. که چېرې موږ د ټولنې د دې بدلون لپاره کوم وار (فرصت) ته په تمه شو، چې د پانګوالۍ توليد په ټولو ځايونو کې وده وکړي او آن هغه تر ټولو وروستی کوشنی کسبګر او وروستی کوشنی کروندګر هم

د لويې پانګوالۍ بلهاري شـي، يو بې ګټې کار به وي. د دې کار لپاره هغه مادي قرباني او بلهاري چې بايد د بزګرانو د ګټې په لاره کې سرته ورسيږي او له ټولنيزې شتمنۍ څخه ورکړ شي، ښايي د پانګوالي اقتصاد له انده هسې چټي بود شوي او لرې غورځول شوي پيسې وګڼل شي، په داسې حال کې چې دا له پانګې څخه يوه عالي ګټه اخيستنه ده، ځکه چې په دغې بلهارۍ سره شايد له اړينو لګښتونو څخه د ټولنې د بدلون لپاره، د دې لس برابره سپما شي. له همدې لامله موږ کولای شو د بزګرانو په اړه ډېر لوی زړی (سخاوتمندانه) چلند غوره کړو.» (وګورئ هماغه کتاب)

دا هغه څه دي چې اينګلز يې لويديزو بزګرانو ته په کتو سره وايي. خو ايا دا څرګنده نه ده چې د اينګلز خبرې په بل هيڅ ځای کې، دومره په اسانۍ او بشپړ ډول نه شي پلي کېدای، لکه د پرولتاري دېکتاتورۍ په ټاټوبي کې چې کېدای شي. ايا دا ښکاره نه ده چې يوازې په شوروي روسيه کې هم "د هغو کوشنيو بزګرانو راتګ زموږ پر لور، چې خپلواکه کار کوي" او هم " مادي قربانۍ" چې د دې کار لپاره اړينې دي او هم "د بزګرانو پر وړاندې سخاوت" په بشپړ ډول شونی دی؟ او ايا څرګنده نه ده چې د بزګرانو په ګټه دا او دې ته ورته نورې هڅې همدا اوس هم په روسيه کې روانې دي؟ موږ له دې څنګه انکار کولای شو چې دغه شرايط په خپل وار د شوروي هېواد د اقتصادي ودانۍ په چارو کې اسانتيا راولي او له پرمختګ سره يې مرسته کوي؟

دویم. د روسیې کرنیز اقتصاد باید د لویدیځ له کرنیز اقتصاد سره یو ونه وګڼو. هلته د کرنې پرمختګ د دودیزې پانګوالۍ په ډول، یانې د کروندګرو د سختې ویشنې او جلاکیدنې په چاپیریال کې حرکت کوي، چې د هغې په یوه قطب کې په پانګوالو پورې اړوند لوی خصوصي ملکیتونه او په بل قطب کې د بې وزلۍ، بدمرغۍ او مزد اخېستونکي مریيتوب پر لور حرکت تر سترګو کیږي. ځکه نو دا راپرځېدنه او ځوړتیا (انحطاط) هلته یوه بشپړه طبیعي مسأله ده. خو په روسیه کې خبره دا ډول نه ده. دلته د کرنې پراختیا په دې ډول مخ ته نه شي تللای، ځکه چې د شوروي حکومت شته والی او د تولید د لویو وسایلو ملي کول د دې ډول پرمختګ اجازه نه ورکوي. په روسیه کې د کرنې پرمختګ باید په بل ډول پرمخ ولاړ شي، یانې په انډیوالیزو کوپراتیفونو کې د میلیونونو کوشنیو او منځنیو بزګرانو د راټولولو له لارې، په کلیو کې ولسي کوپراتیفونو ته د ودې ورکولو له لارې او د دولتي ملاتړ په مناسبو شرایطو سره دوی ته د امتیازي پورونو د ورکولو له لارې. د کوپراتیفونو په اړه لنین په خپلو لیکنو کې دا په ډېر ښه ډول وښوده، چې زموږ په هېواد کې باید د کرنې پرمختګ پر یوه نوي لار حرکت وکړي، یانې د کوپراتیفونو په وسیله په یو سوسیالېستي جوړښت کې د ډېری بزګرانو د راټولونې او بیا ورو ورو په کرنه کې د ډله‌ییزتوب (کولېکټویزم) د اصولو ځای پر ځایونې له لارې څخه، چې دغه کار هم باید لمړی د خرڅلاو په برخه کې او بیا د کرنیزو توکو د تولید په برخه کې، پر خپل وخت پلی شي.

ځېنې نوې ځانګړې پېښــې چې په کلیو کې د کوپراتیفي کرنې (ډلـه ییزې تعـاوني کرنې) د چارو په بهیر کې را څرګندېږي، له دې اړخه ډېرې د پاموړ دي. لکه څنګه چې پوهېږو د کرنیزو کوپراتیفي ټولنو[1] په دننه کې د کرنیزو توکو په بیلابیلو څانګو کې د ســنډ (کتان)[2]، الوګانو، کوچو او داســې نورو ځېنې نوي لوی تشـکیلونه منځ ته راغلي چې د یوې ډېرې روښانه راتلونکي لرونکي دي. له هغو څخه یې یوه د لینوسـنټر (د سـنډ ټولنه) ده چې د سـنډ کرلو د تولیدي شــرکتونو یوه ټولیزه شــبکه ســره متحده او یوځای کوي. د لینوسنټر کار دا دی چې بزګرانو ته توخم او د تولید اوزار په لاس ورکوي او بیا له همدغو بزګرانو څخه د سنډ ټول پیداوار پېري، له پېرلو وروسته، هغه په لویه کچه په بازارنو کې خرڅوي او بزګران یې هم په ګټو کې ورشــریکوي او په پای کې د همدې کرنیزو ټولنو له لارې کرنیز اقتصاد، په دولتي صنایعو پورې تړي. د تولید دغه ډول تشکیلونه باید څه وبولو؟

زما په اند دغه سیستم ته د کرنې په برخه کې، د کورني تولید یو لوی دولتي-سـوسـیالېستي سیستم ویلای شو. زه دلته د سوسیالېستي- دولتي کورني تولید په سیستم باندې خبرې کوم، ځکه چې دا د پانګوالۍ له کورني سیستم سره،

---

۱- موخه د ټولې روسـیې د کرنیزو کوپراتیفونو هغه ټولنې دي، چې پر ۱۹۲۱ ز رامنځته او پر ۱۹۲۹ ز بېرته لغوه اعلان شوې.

۲ - سـونډ، سنډ، سوڼ: یو بوټی دی چې ونه یې تر درېو لوېشتو (۷۰ سانتي مترو) پورې جګېږي. ریښې یې اوږدې او لاجوردي ګـل کوي. ګلونـه یې ځېنې طبي ځانګړنې لري، پاڼې یې نرۍ دي، له توخم څخه یې تېل ایســتل کېږي او په درملو کې کارېږي. د دې بوټي ترټولو ګټور توکی د هغې لښــته ده. لښــتې یې چې پخې شـي، ریښـې یې څو ورځې په اوبو کې پرېږدي چې ښـې خیشـتې شـي، بیا یې تار تار کړي. له دغو نریو، پاکو او اوږدو تارونو څخه چې په بیالوجي کې یې زایلم بولي، ټوکران (کپړې) جوړوي. –ژباړن.

د بېلګې پـه توګه د ټوکر اوبدنې (نســاجۍ) د توليد په برخه کې پرتله کوم، چې هلته صنعتګرانو اومه مواد او د کار اوزار له پانګوال څخه رانيول او بيا به هغوی ته د خپلو ټولو پيداوارو په ور ســپارلو، په حقيقت کې هغو نيم اجيره مزدورانو ته پاتېدل، چې په خپلو کورونو کې د پانګوالو لپاره کار کوي.
دا لـه هغو ډېرو بېلګو يوه ده، چې زيـادوي زموږ پـه هېواد کې بـايـد د کرنې پراختيـا پر کومـه لار حرکـت وکړي. زه نور نو دلته د نورو هغو بېلګو په اړه، چې په همدې ډول د کرنې په نورو برخو کې شته، نه غږېږم.
فکر نـه کوم دا دې زيـاد تـه اړتيـا ولري چې ډېری بزګران بـه همدغه نوي د پرمختـګ لار پـه ډېره لېوالتيا غوره کړي او د خصــوصــي پانګوالۍ، مزدي مرييتوب، غربت او بربادۍ لاره و روده به لرې وغورځوي.
د پرولتاري دېکتاتورۍ په شرايطو کې "د پرګنيز تنظيم د نوي اصل" او "نوې ټولنيز نظام" په توګه لنين کوپراتيفونو ته د مالي او داسې نور ډول ډول مرستو ورکولو د اړتيا په اړه، داسې خپلو خبرو ته دوام ورکوي:

«هر ټولنيز نظام يوازې د يوې ټاکلي طبقې په مالي ملاتړ منځ ته راځي. هېڅ اړينه نه ده چې موږ د هغو سلګونو ميليونو روبلو يادونه وکړو چې د "ازادې" پانګوالۍ د زيږون لپاره خرچه شوې دي. دا مهال موږ بايد يوه مسأله وپېژنو او پلي کړو، هغـه دا چې کوم ټولنيز جوړښــت چې بايد ورســره فوق العاده مرسـته وکړو، هماغه انډيواليز (کوپراتيفي) جوړښـت دی. خو دا مرسته بايد موږ د دې کليمې په اصـيله مانا سـرته ورسوو، يانې نه بايد دا ډول وګڼو چې له هر ډول کوپراتيفي معاملو سـره مرسـته وشـي، بلکې د دې عبارت مانا، له

هغو کوپراتيفي معـاملو ســره همکـاري ده، چې پـه حقيقـت کې د خلکو رښتيني پرګنې ګډون پکې کوي.» (وګورئ هماغه ټوک، ۳۹۳ مخ)

دا ټول واقعيتونه څه شی په ډاګه کوي؟

دا په ډاګه کوي چې شکاکين او بدويني تېروتنه کوي.

دا په ډاګه کوي چې حق د لنينېزم پرخوا دی چې زيارکښــو او بزګري پرګنو ته د پرولتاري زېرمو په سترګه ګوري.

دا پـه ډاګـه کوي، چې پرولتـاريا چې د حکومت په ســر کې ځای پر ځای شـوي، دا توان لري او هم مسـوليت لري چې له دغې زيرمې څخه د صنعت او کرنې د نښـلولو لپاره ګټه واخلي، د سـوسيالېستي ودانۍ کار پر مخ يوسي او د پرولتاري دېکتاتورۍ لپاره هغه اړين بنســټونه کيږدي، چې له هغو څخه پرته سوسياليستي اقتصاد ته ور ننوتل، ناشوني دي.

# ۶

## ملي مسأله

له دې بحث څخه دوه اړينې مسألې را اخلم:

الف) د مسألې طرحه؛

ب) د مظلومو ملتونو ازادیپاله غورځنګ او پرولتري انقلاب؛

۱) د مسألې طرحه. ملي مسأله د وروستیو شلو کلونو په اوږدو کې، له یو لړ ارزښمنو بدلونونو سره مخ شوې ده. ملي مسأله د دویم انترناسیونال په پېر کې او ملي مسأله د لنینېزم په پېر کې، هیڅکله له یوه بل سره ورته نه ده.

پخوا ملي مسأله د معمول له مخې په یوه تنګه دایره کې، چې په ټولیز ډول یې په "متمدنو" ملتونو پورې تړاو درلود، ایساره وه. یوازې د ایرلینډیانو، مجریانو، پولینډیانو، فنلینډیانو، صربانو او ځینو نورو اروپایي ملیتونو

برخلیک به د هغو ملتونو په توګه، چې د بشـپړو حقونو درلودونکي نه وو، د دویم انترناسیونال د مشرانو پام ور اړوه.

لســګونو او ســلګونو میلیونو اســیایي او افریقایي ولســونو ته، چې د ملي زورزیاتي له خورا وحشیانه او بېرحمانه بڼو کړېدل، د دوی پام نه ور اوښت. هغوی ټکني ول او ویرېدل چې چېرې ســپین پوســتي او تور پوســتي یا په نورو ټکو "متمدنه" او "نامتمدنه" په یوه کرښه کې را نه ولي. دوه درې بې مانا اعلامیې خپروول چې په ډېر پام به د زبېښـاک ځپلو د ازادۍ پر مسـألې پکې پوښ غوړېدلای وو؛ دا ټول هغه څه ول چې د دویم انترناســیونال ســرلارو پرې ویاړ کولای شـو. خو اوس له ملي مســألې ســره په مخامخېدنه کې دغه دوه مخي او دوه زړي پـای ته رســیدلې. لنینېزم، دغه بوږنوونکی او فاحش واټن جوت کړ او د امپریالېزم دغه د تور پوسـتو او سپین پوستو، اروپایانو او اسیایانو او "متمدنو او "نامتمدنو" وګړو ترمنځ ولاړ دیوال یې ونړاوه او په دې توګه یې ملي مسأله د یو دولت له خصوصي او داخلي مسألې څخه، په یوې ټولیزه او نړیواله مسأله یا د امپریالېزم له منګولو څخه د ناخپلواکو او زبېښاک ځپلو مظلومو ولسونو د خلاصون په مسأله باندې واړوله.

پخوا پر خپل برخلیک د ملتونو د حاکمیت اصـل، د معمول له مخې سـم نه تعبیریـده او ډیری وخـت بـه د هغې مانا، د ملتونو د خپلواکۍ پر حق باندې محدودیده. د دویم انترناسیونال ځینې سرلاري آن دومره مخکې ولاړل چې د خپـل برخلیـک ټاکلو حق یې په فرهنګي خپلواکۍ، یانې د خپلو مدني او فرهنګي بنسـټونو د لرلو په حق باندې واړوه. په داسـې حال کې چې سیاسي

واک بايد په بشـپړ ډول د واکمن ملت په لاس کې پاتې شـي. د دې حالت پـايلـه دا وه، چې پر خپـل برخليک د حاکميت نظريه د دې پر ځای، چې د نورو ولسـونو د ځمکو د الحاق پر ضـد د مبارزې وسېله وګرځي، شـوني وه چې د همدغه الحاق د تصـويب او تاييد وسـېله جوړه شـي. دغه مغشـوش والی نور نو پـای تـه رســيدلی. لنينېزم د برخليک ټاکلو مفهوم پراخ کړ او د هغې مانا يې، د ناخپلواکو او زېښاک ځپلو مظلومو ولسونو د بشپړې جدايی او د نوي خپلواک دولت د رامنځ ته کولو په حق باندې تفســير کړه. په دې توګه د خپل برخليک ټاکلو د حق له لارې د الحاق د توجيه کولو شــونتيا له منځه ولاړه. بلخوا پر خپل برخليک د حاکميت پرنسيپ (اصـل) هم چې د امپرياليسـتي جګړې په بهير کې د سـوسـيال شـوونيسـتانو په لاسـونو کې د خلکو د غولولو په يوې وسېلې بدل شوی وو، د هر ډول امپرياليستي غوښتنو او شووينستي دسيسو د بربنډولو او د انترناسيوناليزم له روح سره مل، د خلکو د سياسي روښانتيا په وسلې بدل شو.

پخوا، په دوديز ډول د مظلومو ملتونو مسألې ته د يوې نرۍ حقوقي مسألې په توګه کتل کېدل. د "ملتونو د حقوقي برابرۍ" له برم او دبدبې سـرشاره ناره او د "ملتونو مسـاوات" په اړه بې شـمېره اعلاميې خپرول، دا هغه هڅې وې چې د دويـم انترناسـيونال ګوندونو پورې بسنه کړې وه، خو ورسره جوخت يې پر دې رښـتيا باندې پرده اچوله چې د امپرياليزم په شتون کې، کله چې د ملتونو يوه ډلـه (لږه کی) د يوې بلې ډلې ملتونو د زېښـــاک پـه بيـه ژوند کوي، "د ملتونو د برابرۍ" ناره (شــعار) پر مظلومو ملتونو له ملنډو وهلو پرته بل څه نه

دي. د ملي مسـألې په اړه دغه بورژوا-حقوقي نظريههم نور نو رسـوا شـوې؛ لنينېزم ملي مسأله د پرتمينو اعلاميو له هسکه ځمکې ته راښکته کړه او اعلان يې وکړ چې د "ملتونو د برابرۍ" اعلاميې، تر هغې چې د پرولتـاري گوندونو له لوري د مظلومو ملتونو په سيده ازادي پاله مبارزې سره څواکمنې نه شـي، يوازې چټې او دروغجنې ويناوې دي. په دې توگه د مظلومو ملتونه مسـأله، د امپرياليزم پر ضد د ملتونو د رښتيني برابرۍ د رامنځته کيدنې  او د خپلواک دولتي شـتون لپاره  د هغوی سره په مبارزه کې د رښتيني او دوامدارې مرستې او همکارۍ په مسأله باندې واوښته.

پخوا ملي مسـألې ته له رېفورميســتي ليدلوري کتل کېدل، لکه يوه خپلواکه مسأله چې د پانگواکۍ له ټوليزې مسألې، د امپرياليزم راپرځيدنې او پرولتاري انقلاب له موضوع سره چې هېڅ تړاو نه لري. په پټه خوله داسې انگېرل کېده چې په اروپا کې د پرولتاريا برۍ، د مسـتعمره سـيمو له ازادي پاله غورځنگ سـره د سـيده اتحاد پرته شـونې دی او د ملي او ښـکېلاکي مسـألې حل، له غوغـا جوړولو پرته او "خپل پخپله" د پرولتاري انقلاب له لويې لارې څخه بهر او د امپرياليزم سـره له انقلابي مبارزې پرته شونې دی. خو اوسمهال دغه انقلابي ضـد نظريه بدنومي شوې ده. لنينېزم  زباد کړه او نړيوالي امپرياليستي جگړې او د روسيې انقلاب هم تاييد کړه؛ چې ملي مسأله يوازې له پرولتاري انقلاب سـره په تړاو لرلو او د هغې پر بنسـټ حليداى شـي او په باختر کې د امپريـاليزم پر وړانـدې د انقلابي بري لار، د زبيښـاک ځپلو او نـاخپلواکو هيوادونو له ازاديپاله غورځنگ سـره، د انقلابي اتحاد له څنگه تيريږي. ملي

مسأله د پرولتاریا د ټولیز انقلاب او د پرولتاري دېکتاتورۍ د مسألې یوه برخه ده.

دغه مسأله په دې ډول مطرح کېږي چې ایا له هغو انقلابي توانزېرمو (بالقوه وړتیاوو) څخه، چې د مظلومو هېوادونو د ازادیپاله انقلابي غورځنګ په ژورو کې پټې دي، نهایي ګټه اخېستل شوې او کنه ؟ که چېرې ځواب منفي وي، نو ایا کومه هیله او اسره شته چې له دغو پټو وړتیاوو څخه د پرولتري انقلاب لپاره ګټه واخلو او دغه ناخپلواک او زېښناک ځپلي هیوادونه، د امپریالېستي بورژوازۍ له زیرمو څخه د انقلابي پرولتاریا په زیرمو او د هغې په متحدینو باندې واړوو؟

لنینېزم دې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکوي، یانې د ملي ازادیپاله غورځنګ په بطن کې د انقلابي وړتیاوو په شته والي باور لري او د ګډ یا ټولیز دښمن د نابودلو او امپریالېزم راپرځولو لپاره له هغې څخه ګټنه شوني ګڼي. د امپریالېزم د ودې میخانیك، امپریالېستي جګړې او د روسیې انقلاب، په دې برخه کې د لنینېزم ټولې پایلې (استنتاجونه) تاییدوي. له همدې ځایه د مظلومو او ناخپلواکو ولسونو له ازادیپاله غورځنګ سره د "واکمنو" ولسونو د پرولتاریا د حتمي او جدي همکارۍ اړتیا په ګوته کېږي.

مګر د دې ټولو خبرو مانا دا نه ده چې پرولتاریا باید له هر ډول ملي غورځنګ څخه، یانې په ټولو ځایونو کې، تل او په ټولو برخو کې همکاري وکړي. دلته مونږ له داسې ملي غورځنګونو سره د مرستې خبره کوو چې هغه د امپریالېزم د کمزورۍ او نابودۍ لامل ګرځي، نه دا چې د هغې د ځواکمنتیا

او ساتنې لامل شي. کله کله داسې پيښږي چې د يو لړ مظلومو هېوادونو ملي غورځنگونه، د پرولتاري غورځنگ له پراختيايي گټو سره ټکر کوي. په دې برخه کې بايد له هغوی سره د همکارۍ خبره هم په خوله را نه وړل شي.

د ملتونو د حقونو مسأله کومه جلا او خپلواکه مسأله نه ده، بلکې د پرولتاري انقلاب د ټوليزې مسألې يو جزء دی. دغه جزء د کُل تابع دی او بايد د کُل له اړخه ورته وکتل وشي. مارکس د تېرې پيړۍ په څلوېښتمو کلونو کې د چک او سويلې سلواکيانو د غورځنگ پر خلاف د پولېنډيانو او مجارانو د ملي غورځنگ پلوي کوله. ولې؟ ځکه چې په هغه وخت کې چکيان او سوېلې اسلاويان "ارتجاعي ولسونه"، په اروپا کې د روسيې گوډاگيان او د مطلقه حکومت مخکښان وو. په داسې حال کې چې پولېنډيان او مجارن "انقلابي ولسونه" وو چې د مطلقه حکومت پر ضد يې مبارزه کوله. ځکه چې د چک او سوېلې سلواکيانو د ملي غورځنگ لاسنيوی، له تزاريزم يانې په اروپا کې د انقلابي غورځنگ له ټرټولو خطرناک دښمن سره مرسته وه.

لنين وايي:

« د ډېموکراسۍ بېلابېلې غوښتنې، د هغو له جملې څخه د خپل برخليک د ټاکلو حق، کوم مطلق شی نه دی، بلکې د نړۍ د ټوليز ډېموکراتيک غورځنگ (اوسمهال: د ټوليز سوسياليستي غورځنگ) يو جز دی. شوني ده چې په ځينو ځانته جلا برخو کې جز له کُل سره په تضاد کې واوسي، په داسې حالت کې اړينه ده چې هغو ته پام و نه شي.» (وگورئ د روسي چاپ ۱۹ ټوک، ۲۵۷ او ۲۵۸ مخونه)

د ځېنو ځانګړو جلا ملي غورځنګونو مسأله او د هغوی د شاتګپاله (ارتجاعي) اړخ امکان، البته په داسې یوه حالت کې چې د رسمي او مطلقه حقونو له اړخه نه، بلکې د انقلابي غورځنګ د ټاکلو ګټو له پلوه په پام کې ونیول شي، هغه وه چې موږ پرې پورته خبرې وکړې.
کټ مټ همدا باید په ټولیز ډول د ملي انقلابي غورځنګونو په اړه هم ووایو.
د ډېریو ملي غورځنګونو بشپړ انقلابي ماهیت همدومره پرتلیز (نسبي) او ځانته ځانګړي بنې لري، لکه څنګه چې د ځېنو جلا ملي غورځنګونو ممکنه ارتجاعي ماهیت پرتلیز او ځانته ځانګړي بنې لري.
د امپریالېزم د فشار په شرایطو کې، د یو ملي غورځنګ انقلابي خصلت په هیڅ توګه دا نه دی چې پرولتاري عناصر دې په دغه غورځنګ کې وي، یوه انقلابي او جمهوریپاله کړنلاره دې ولري او یا دې پر دېموکراسۍ باندې باورمند وي.
د افغانستان د خپلواکۍ لپاره، د افغاني امیر (شاه غازي امان الله خان. ژ) او د ده د ملګرو مبارزه، د سلطنتي نظریې د پالنې سره-سره، له عیني پلوه یوه بشپړه انقلابي او مترقي مبارزه وه، ځکه دغې مبارزې انګرېز امپریالېزم کمزوری کړ، د هغې ځواکونه یې ووېشل او ریښې یې ور ولړزولې، په داسې حال کې چې د نورو تش په نامه سوسیالېستانو، انقلابیانو او جمهوریپالو لکه کرنسکي، تسرتلي، رنول، شیدمان، چرنوف او هندرسن مبارزې د امپریالېستي جګړو پرمهال، ارتجاعي مبارزې وې، ځکه چې د امپریالېزم د بریا او لا ټینګښت لامل شوې. په همدې ډول د مصر د خپلواکۍ لپاره، د

مصـــر د بورژوا تجارانو او روڼ اندو مبارزه، له عيني اړخه انقلابي مبارزه ده، سره له دې چې د مصر د ملي غورځنګ سرلاري د بورژوازي له پوړ څخه دي او د بورژوازي په استازيتوب جنګيږي او د سوسياليزم مخالف دي، په داســې حـال کې چې د مصـــر د ناخپلواک حالت د ســاتلو په لاره کې، د انګليستان د "کارګري" حکومت مبارزه په هماغه پورتني لامل يوه ارتجاعي مبارزه ده، که هر څو د دې حکومت غړي پرولتاري پښت و ټبر او پرولتاري نوم ولري او د سوسياليزم "پلوي" واوسي.

زه د نورو سترو ناخپلواکو او مستعمره هيوادونو، لکه چين او هېندوستان د ملي غورځنګونو په اړه څه نه وايم چې د خلاصـــون په لاره کې د هغوی هر ګام، که هر څو د رســمي دېموکراســۍ له غوښــتنو ســره په ټکر کې وي، د امپريـالېزم په دماغ باندې د څټک د ګوزار مثال لري او بالکل يو انقلابي ګام شمېرل کېږي.

لنين په حقه وو چې ويل يې:

«د مظلومو هيوادونو ملي غورځنګونو ته بايد د تشـــريفاتي دېموکراســۍ له ليده نه، بلکې د هغې د رښتينو پايلو له اړخه وکتل شي او د امپرياليزم پر ضد د ټوليزې مبارزې په تله کې ورته بيه کېښــــول شـــي، يانې "نه په انفرادي او جلا ډول، بلکې په نړيواله کچه.» (وګورئ د روسي چاپ ۱۹ ټوک، ۲۵۷ مخ)

۲) د مظلومو ملتونو ازديپاله غورځنګ او پرولتري انقلاب.

لنینېزم د ملي مسالې په حل کې له لاندې تزونو څخه سرچینه اخلي:

الف) نړۍ په دوو اړخونو وېشل شوې ده: یوې خوا ته د یو لړ متمدنو ملتونو اړخ دی، چې د مالي پانګې خاوندان دي او د خاورینې کُرې ډېرې اوسېدونکي یې تر زبېښاک لاندې نیولي او بلې خوا ته د ناخپلواکو او ښکېللو هېوادونو د مظلومو او زبېښاک ځپلو ولسونو اړخ دی، چې دا یې ډېری هغه جوړوي؛

ب) مستعمره او ناخپلواک هېوادونه چې د مالي پانګې تر ظلم او زبېښاک لاندې دي، د امپریالېستي ځواکونو تر ټولو لویه زېرمه او زښته ارزښمنه سرچینه جوړوي؛

ج) د امپریالېزم پر ضد د ناخپلواکو او مستعمره ولسونو انقلابي مبارزه، له ظلم و زبېښاک څخه د خلاصون یوازېنۍ لاره ده؛

د) د ناخپلواکو او مستعمره هیوادونو له جملې څخه یې ترټولو ارزښمن هغه هم، اوسمهال د ملي ازادیپاله غورځنګ بهیر ته ور ننوتي او دا به هرو مرو نړیواله پانګوالي په یوه ستر کړکیچ کې ښکېلوي.

هـ) په پرمختللو هېوادونو کې د پرولتاري غورځنګ او په مستعمره هېوادونو کې د ملي ازادیپاله غورځنګ ګټې دا حکم کوي چې دغه دواړه انقلابي غورځنګونه، په یوه ټولیزه جبهه کې د ټولیز او ګډ دښمن یانې امپریالېزم پر خلاف سره اتحاد وکړي.

و) پـه پرمختللو هیوادونو کې د کـارگرې طبقې برى او د امپریـالېزم له زنځیر څخه د مظلومو ملتونو خلاصــون، د يوې ټولیزې انقلابي جبهې له جوړېدو او ټینگیدو څخه پرته، شونی نه دی؛

ز) د ټولیزې انقلابي جبهې جوړېدنه، له مظلومو ازادیپاله ولسونو سره د خپل "هیوادني" امپریـالېزم خلاف د ظـالم هېواد د پرولتـاریـا لـه ســیـده او اړینې مرستې پرته ناشوني ده، ځکه "هغه ملت چې يو بل ملت يې تر ظلم و فشار لاندې نیولای وي، په خپله هم ازاد نه شي اوسېدلای." (اینگلز)؛

خ) د یادې شوي مرستې مانا دا ده چې د - هر ملت د جلا کېدلو او خپلواک دولت جوړولو د حق- له شعار څخه پرېکنده پلوي او ملاتړ وشي او دا شعار په عمل کې پلی شي؛

ط) د دې شــعار له پلي کېدا پرته، د يو واحد نړیوال اقتصــاد لپاره، د ملتونو اتحـاد او همکـاري ټینگول چې د نړیوال ســوســیـالېزم د بري لپـاره مـادي بنسټونه هواروي، شوني نه ده.

ی) دا اتحاد يوازې په خپله خوښــه او د دوه اړخیزه باور او د خلکو ترمنځ د وروړگلویزو اړیکو پر بنسټ رامنځ ته کېدلای شي.

له همدې کبله په ملي مسأله کې دوه لوري او دوه تمایله منځ ته راځي: يو له امپریالېستي زنځیرونه څخه سیاسي خلاصون او د يو خپلواک ملي دولت د جوړولو پر لور تمایل دی، هغه تمایل چې د امپریالېستي ظلم او ښـکیلاکي زبېښــاک پـه پـایلـه کې منځ تـه راغلی او بـل هغـه د ملتونو ترمنځ د نژدې

اقتصــادي اړیکو د ټینګېدلو پر لور تمایل دی چې د نړیوال بازار د جوړېدو او نړیوال اقتصاد په پایله کې منځ ته راغلی دی.

لنین وایي:

«د پانګوالۍ په پرمختیایي پېر کې، د ملي مسالې دوه تاریخي حرکتونه لیدل کېږي:

لمړی: د ملي ژوندانه او ملي غورځنګونو را ویښـېدنه، د ټولو ملي زورزیاتیو پر ضد مبارزه او د ملي دولتونو د منځ ته راتلو لپاره هڅې.

دویم: د ملتونو ترمنځ د هر ډول اړیکو وده او زیـاتېـدنـه، د ملي خنـډونو ماتېدنه، د نړیوالې پانګې او په ټولیز ډول د اقتصـادي ژوندانه، سیاست، علم او داسې نورو ترمنځ د یووالي رامنځ ته کېدل.

دغـه دواړه حرکتونـه د پـانګوالۍ د نړیوالو قوانینو ثمره ده. اول هغـه یې ډېر وخـت د پـانګوالۍ پـه لمړنۍ وده کې برلاســـی وي او دویم هغـه د پخې او رسـیدلې پانګوالۍ ځانګړنه ده چې سـوسیالیستي ټولنې ته د اوښتون په حال کې وي، د مارکسـېسـتانو ملي کړنلاره دا دواړه حرکتونه په پام کې نیســـي.»
(وګورئ د روسي چاپ ۱۷ ټوک، ۱۳۹، ۱۴۰ مخونه)

د امپریالېزم لپاره دغه دوه تمایله نه پوخلاکیدونکي تضادونه دي، ځکه چې امپریالېزم نه شـي کولای له زبېښاک او د یوې "واحدې ټولګې" په دایره کې دننه، د مسـتعمره سـیمو له اجباري سـاتنې څخه پرته ژوند وکړي، ځکه چې امپریالېزم کولای شي ملتونه یوازې د الحاق او ښکېلاک له لارې یو بل سره نژدې کړي او له دې څخه پرته د امپریالېزم شتون هم بې مانا دی.

سـرچپـه د کمونېزم لپـاره، دغـه تمـایلـه د یوه لامل دوه خواوې دي، یانې د امپریالېزم له منگولو څخه د مظلومو ملتونو د خلاصـون لامل، ځکه کمونېزم پوهیږي چې په یوه نړیوال اقتصـادي واحد کې د ملتونو راغونډول یوازې د متقابل باور او خپلخوښـي رضـایت پر بنسـټ شـوني دي او د ملتونو د خپل خوښـي اتحاد جوړول د امپریالېسـتي "واحدې ټولگې" څخه د مسـتعمرو سـیمو د جلاکیدنې او په خپلواکو دولتونو د هغې د بدلیدنې له لارې سـرته رسیږي.

له همدې لامله د واکمنو ملتونو (انگلیستان، فرانسې، امریکا، ایټالیا، جاپان او داسې نورو...) د "سوسـیالېستانو" د عظمت پاله شووینېزم پر خلاف چې نه غواړي د خپلو امپریـالېسـتي هېوادونو پر خلاف مبـارزه وکړي او نه غواړي چې د مستعمره مظلومو ولسونو سره د خلاصون او جلا دولت جوړونې لپاره پـه مبارزه کې همکاري وکړي، یوې سـختې، هوډمنې او غوڅې مبارزې ته اړتیا ده.

لـه دغـه ډول مبـارزې پرتـه، د برلاسـو ملتونو د کـارگرې طبقې په رښـتیني انترناسـیونالېستي روحیې سـره روزنه او د مستمعره او ناخپلواکو هېوادونو له زیـارکښـو خلگو سـره د هغوی نژدې کېـدنـه او د پرولتاري انقلاب لپاره د هغوی رښتیني تیاریدنه شوني نه ده.

که چیرې روسي پرولتاریا، د پخوانۍ روسـي ټولواکمنۍ د مظلومو ملتونو له خواخوږۍ او ملاتړ برخمنه نه وای، په روسـیه کې انقلاب نه بریالی کیده او کلچـاک او دنیکین هم مـاتي نـه شـوای خوړلای، خو د دغو ولسـونو د

خواخوږي او مرستو جلبولو لپاره پکار وه چې پرولتاریا له هر څه وړاندې د روسي امپریالېزم زنځیر مات کړي او دغو ملتونه ته له ملي ظلم و زورزیاتي څخه خلاصون ورکړي.

د دې مسألې له سرته رسولو پرته، د شوروي حکومت ټینګول، د رښتیني انترناسیونالېزم د نیالګي کېنول او د ملتونو د همکارۍ هغه عالي تشکیل او سازمان، چې د شوروي د سوسیالېستي جمهوریتونو ټولنه نومیږي او په یو واحد نړیوال اقتصاد کې د راتلونکو ملتونو د اتحاد یوه ژوندۍ بېلګه ده، شوني نه ول.

له همدې ځایه د مظلومو ملتونو د سوسیالېستانو پر خلاف، چې د ملي انزوا پالنې، لنډ اندۍ او بېلونې لاره یې پر مخه کړې او له خپلې تنګې ملي دایرې نه وځي او د واکمنو هېوادونو له پرولتاري غورځنګ سره، د خپل هېواد د ازادیپاله غورځنګ په تړاو باندې ځان نه پوهوي، مبارزه اړینه ده.

له دغه ډول مبارزې پرته، شوني نه ده چې د مظلومو ملتونو پرولتاریا وکړای شي یو خپلواک سیاست او د ګډ او ټولیز دوښمن د را غورځولو او امپریالېزم را پرځولو د مبارزې په لاره کې، د واکمنو هېوادونو له پرولتاریا سره طبقاتي پیوستون وساتي.

له دغه ډول مبارزې پرته انترناسیونالېزم هم شونی نه دی.

همدا په نړیواله انقلابي روحیه، د ظالمو او مظلومو ملتونو د زیارکښو خلکو د روزنې لاره او چاره ده.

دلته لنین په انترناسیونالېستي روحیه باندې د کارگرانو د روزنې په برخه کې، د کمونېزم د دغه دوه گونو دندو په اړه داسې لارښوونې کوي:

«ایا دغه ډول روزنه... شوني ده چې هم د لوی او ظالم ملت په برخه کې او هم د کوشني او مظلوم ملت په برخه کې، هم د الحاق کوونکو او هم د الحاق کېدونکو ملتونو په برخه کې، په څرگند ډول یو شان واوسي؟

ښکاره خبره ده چې نه. یوې ټاکلي موخې ته رسېدنه- یانې بشپړه برابري، ټینگ نژدې والی او بیا د ټولو ملتونو سره یو ځای کول له بېلابېلو لارو سرته رسېږي.

که چېرې د یو لوی، ظالم او الحاق کوونکي ملت سوسیال دېموکرات، چې په ټولیز ډول د ملتونو له ادغام څخه ننگه کوي، یوه شېبه هم دا هېر کړي چې د هغې خپل دویم نیکولای، دویم وېلیم، جورج او داسې نور هم د (الحاق له لارې) د ملتونو د یو ځای کېدا او ادغام پلویان دي، د بېلگې په ډول دویم نیکولای له "گالیسیا" سره او دویم وېلیم له بېلجیم او داسې نورو سره د پیوستون او ادغام غوښتونکي دي- نو په دې حالت کې دغه ډول سوسیال دېموکرات په تیوري کې یو ټوکمار تیورېسن او په عمل کې د امپریالېزم ملگری دی.

په ظالمو او ښکېلاکگرو هېوادونو کې، د کارگرانو د انترناسیونالېستي روزنې د ټینگار ټکی، باید د مظلومو او مستعمره هېوادونو د ازادۍ او خپلواکۍ اخېستني څخه ملاتړ وي. له دې چارې پرته، انترناسیونالېزم شتون نه شي لرلای. موږ دا حق او دنده لرو چې د هر ستمگر هېواد له سوسیال دېموکرات

سـره چې دغه ډول تبليغات نه کوي، د يو امپرياليسـت او رزيل عنصـر په توګه چلند وکړو.

دا يوه مطلقـه غوښـتنـه ده، آن کـه دغـه ډول يوه پېښـــه، يـانې جلا کېـدنه، سوسياليزم ته له رسيدلو وړاندې، د زرهاوو ممکنه موردونو څخه په يوه مورد کې هم شوني او د "پلي کېدا" وړ وي...

مګر سـرچپه د کوشـني ملت سـوسـيال دېموکرات بايد د خپلو تبليغاتو د ټينګـار ټکی، زموږ د عمومي فـارمول پر دويمـه کليمـه يـانې د ملتونو پـه (خپلخوښـي اتحاد) باندې بناء کړي. پرته له دې چې خپلو دندو ته د يو انترناسـيوناليست په توګه شا کړي، په دې مانا چې هم د خپل ملت د سياسي خپلواکۍ پلوی واوسي او هم د دې ملت له يو ګاونډي الف، ب او ج هېواد سـره په يو خپلخوښـي اتحاد کې د ورګډېدو پلوي وکړي. په هره توګه د ده لپـاره پکـار ده چې لـه لنډو ليدو اندونو او ملي ګوښـه‌توب سـره مخالفت وکړي، د ټوليزو موخو ملاتړی او د جزيي ګټو پر ځـای د عمومي ګټو پلوی واوسي.

هغوی چې پر دې مسأله يې فکر نه دی کړی، دا دوه مسايل يو له بل سره په "تضـاد" کې ګڼي، چې د ظالمو ملتونو سـوسـيال دېموکراتان پر "بېلتونپاله ازادۍ" ټينګار کوي او د مظلومو ملتونو سـوسـيال دېموکراتان پر "اتحادي يا پيوسـتوني ازادۍ" باندې ټينګار کوي. خو لږ دقت او ځيرتيا دا په ګوته کوي چې د انترناسيوناليزم او ملتيز يووالي پر لور له دې پرته بله لاره نشته او نه هم شوني ده.» (وګورئ د روسي چاپ ۱۹ جلد، ۲۶۱-۲۶۲ مخونه)

# ۷

# ستراتېژي او تاکتيک

له دې بحث څخه زه شپږ مسألې غوره کوم:

الف) ستراتېژي او تاکتيک د پرولتاريا په طبقاتي مبارزه کې، د رهبرۍ د علم په توگه؛
ب) انقلابي پړاوونه او ستراتېژي؛
ج) د غورځنگ او تاکتيک (لوړتيا و ځوړتيا) جزر و مد؛
د) ستراتيژيکه مشري (رهبري)؛
هـ) تاکتيکي مشري (رهبري)؛
و) ريفورمېزم (سمون پالنه) او انقلابېزم (اوښتونپالنه)

۱) ستراتېژي او تاکتيک د پرولتاريا په طبقاتي مبارزه کې، د رهبرۍ د علم په توګه.

د دويم انترناسيونال د واکمنۍ پېر، تر ډېره د تکامل په يو سوله ييز حالت کې، د پرولتاريا د سياسي ځواکونو د روزنې او جوړونې (تشکل) پېر وو. دغه پېر ته، د پارلمانېزم پېر هم ويلای شو چې د نورو ټولو طبقاتي مبارزو په منځ کې، د مبارزې همدغه بڼه غوره ګڼل کېده. هغه وخت په ښکاره دا فکر کېده چې په لويو طبقاتي ټکرونو پورې تړلي مسايل، د انقلابي اړ دوړ لپاره د پرولتاريا تيارول او د پرولتاري دېکتاتورۍ د لاسته راوړلو لارې چارې، د ورځنيو مسايلو برخه نه ده. خبره تر دغه ځايه غځېده چې له ټولو پرمختلونکو قانوني او علني لارو څخه، د پرولتاري ځواکونو د تشکيل او روزنې لپاره ګټه واخېستل شي او پارلمانېزم هم د شته شرايطو سره سم وکارول شي، خو په دې توګه چې پرولتاريا يوازې د مخالفې ډلې (اپوزيسيون) په دريځ کې پاتې شي. زباد ته اړتيا نه شته چې په دغسې پېر کې او بيا د پرولتاريا د دندې په دغه ډول تشخيص سره، نه بشپړه ستراتېژي شتون لرلای شي او نه کوم دقيق تاکتيک. هغه وخت د ستراتېژۍ او تاکتيک په اړه يوازې خواره واره اندونه شته وو، خو پخپله تاکتيک او ستراتېژي نه وه.

د دويم انترناسيونال ستره ګناه دا نه وه چې پر خپل وخت يې د پارلماني مبارزې د بڼو له تاکتيک څخه ګټه اخېسته، بلکې دا وه چې د مبارزو دغو بڼو ته يې له اندازې زيات ارزښت ورکاوه او هغه يې نږدې د پرولتاري

مبارزې یوازېنی بڼه گڼله او همدا چې د څرگندو انقلابي ټکرونه پړاو را ورسېد او له پارلمان څخه دباندې مبارزو ډېر اهمیت پیدا کړ، د دویم انترناسیونال گوندونو دغو نویو مسایلو ته شا کړه او هغه یې ونه منل.
یوازې له هغې په را وروسته پړاو کې، یانې د پرولتاریا د څرگندو فعالیتونو او د پرولتاري انقلاب په پړاو کې، کله چې د بورژوازي د راپرځولو مسأله د مستقیم عمل مسأله گرځیدلې وه، کله چې د پرولتاریا د زېرمو موضوع (ستراتیژي) په خورا اړینه مسأله واوړیده، کله چې د مبارزې او د تشکیلاتو ټولو بڼو، هم پارلماني او هم غیر پارلماني هغو (تاکتیک) په بشپړ ډول خپل ځانونه را څرگند کړل؛ یوازې په همدغه پړاو کې د پرولتاریا د مبارزې یوه بشپړه ستراتېژي او دقیق تاکتیک برابرول شوني شول. په دقیق ډول همدغه پړاو وو چې د تاکتیک او ستراتېژۍ په اړه د مارکس او اینگلز ځلیدونکي اندونه، چې د دویم انترناسیونال اپرچونېستانو خښ کړې وو، د لنین په لاس بیرته را پورته او وځلیدل، خو لنین د مارکس او اینگلز د ځانگړو تاکتیکي تزونو په بیا را پورته کولو بسنه ونه کړه. ده هغه مخ ته یووړل او په نویو مسالو او اندونو سره یې بشپړ کړل او دا ټول یې د پرولتاریا د طبقاتي مبارزې د رهبرۍ په اړه، د زده کړېزو قوانیونو او اصولو په یو سیستم کې را غونډ کړل. د لنین رسالې لکه "څه باید وکړو؟"، "دوه تاکتیکه..."، "امپریالېزم..."، "دولت او انقلاب"، پرولتاري انقلاب او مرتد کایوتسکي"، "ماشومانه ناروغي..."، به بې له شکه د یوې ارزښمنې زېرمې په توگه، د مارکسېزم ټولیزې خزانې او

انقلابي ډیپو (سلاکوټ) ته ور دننه شي. د لنینېزم ستراتېژي او تاکتیک، د پرولتاریا د انقلابي مبارزې د رهبرۍ علم او هنر دی.

۲) د انقلاب پړاوونه او ستراتېژي. ستراتیژي د انقلاب په یوه ټاکلي پړاو کې، د پرولتاریا د اصلي ګوزار د لوري ټاکل، د انقلابي ځواکونو (اصلي او فرعي زېرمو) د سمبالولو لپاره د مناسبي کړنلارې تیارول او د انقلاب د دغې پړاو په اوږدو کې، د دې کړنلارې د پر مخ بېولو لپاره مبارزې ته وایي.

زموږ انقلاب له وړاندې دوه پړاوونه تېر کړې وو او د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته دریم پړاو ته ور دننه شو. پر همدې بنسټ، ستراتېژي هم په هر پړاو کې بدله شوې ده.

لمړی پړاو. له ۱۹۰۳ زېږیز کال څخه د ۱۹۱۷ ز تر فېبرورۍ پورې. موخه: د تزارېزم را پرځول او په بشپړه توګه د منځنیو پیړیو د پاتې شونو له منځه وړل. د انقلاب اصلي ځواک:- پرولتاریا. د هغې ترټولو نژدې زېرمه:- بزګران. د ګوزار اصلي موخه:- د لیبرال-سلطنتي بورژوازۍ تجریدول چې د ځان پر لور یې د بزګرانو د ور خپلولو او له تزارېزم سره د روغې جوړې له لارې د انقلاب د ماتولو هڅې کولې. د ځواکونو د ګروپ بندۍ نقشه: - له بزګرانو سره د کارګرانو اتحاد.

«پرولتاریا باید له بزګرانو سره په اتحاد کې دېموکراتیک انقلاب سرته ورسوي، تر هغې چې د زور له لارې د استبداد (مطلقه حکومت) مقاومت مات کړي او د بورژوازي بې ثباتي فلج کړي.» (وګورئ د لنین د کلیاتو اتم ټوک، ۹٦ مخ)

دويم پړاو. د ۱۹۱۷ ز له مارچ څخه د ۱۹۱۷ ز تر اکتوبر پورې. موخه:- په روسيه کې د امپرياليزم راپرځول او له امپرياليستي جګړې وتل. د انقلاب اصلي ځواک:- پرولتاريا. د هغې ترټولو نژدې زېرمه:- خورا بې وزلي بزګران او د ګاونډيو هېوادونو پرولتاريا د يوې ممکنه زېرمې په توګه. اوږدمهالې جګړه او امپرياليستي کړکېچ د يوه مساعد ټکي په توګه. د ګوزار اصلي موخه:- د کوشنيو بورژوا دېموکراتانو (منشويکانو او سوسياليست انقلابيانو) تجريدول، چې د ځان و خواته يې د زيارکښو بزګري پرګنو د ور کښلو او له امپرياليزم سره د جوړجاړي له لارې د انقلاب د ماتولو هڅې کولې. د ځواکونو د ګروپ بندۍ نقشه:- له فقيرترينو بزګرانو سره د پرولتاريا اتحاد.

«پرولتاريا بايد سوسياليستي انقلاب سرته ورسوي، په دې ډول چې د خلګو نيمه پرولتاري عناصر له ځانونو سره يو ځای کړي، تر هغې چې د زور له لارې د بورژوازي مقاومت مات کړي او د بزګرانو او کوشنۍ بورژوازي تزلزل او بې ثباتي فلج کړي». (وګورئ هماغه ټوک)

دريیم پړاو. دا پړاو د اکتوبر له انقلاب څخه وروسته پيليږي. موخه: په يوه هېواد کې د پرولتاري دېکتاتورۍ ټينګول او بيا له هغې څخه په ټولو هېوادونو کې د امپرياليزم ماتولو لپاره د يو مورچل په توګه ګټه اخېستل. په دې پړاو کې انقلاب د يوه هېواد له پولو بهر کېږي او د نړيوال انقلاب پېر پيليږي. د انقلاب اصلي ځواکونه: - د پرولتاريا دېکتاتوري په يوه هېواد کې او د پرولتاريا انقلابي غورځنګ په ټولو هېوادونو کې. اصلي زيرمې:- په پرمختللو هېوادونو کې نيمه پرولتاري پرګنې او کوشني بزګران او په مستعمره

او ناخپلواکو هېوادونو کې ازادیپاله غورځنګونه. د ګوزار اصلي موخه: د کوشنيو بورژوا ډيموکراتانو او د دويم انترناسيونال ګوندونو تجريدول (سياسي ګوښه توب) چې له امپرياليزم سره د سازښت کاره سياست اصلي تکيه ځای شمېرل کېږي. د ځواکونو د ګروپ بندۍ نقشه:- د پرولتاري انقلاب اتحاد، د مستعمره او ناخپلواکو هيوادونو له ازادیپاله غورځنګ سره.

ستراتېژي د انقلاب له اصلي و بنسټيزو ځواکونو او د هغوی له زېرمو سره سر و کار لري. ستراتېژي له يوه پړاو څخه بل پړاو ته د انقلاب په لېږديدو سره بدليږي، په داسې حال کې چې د يوه ټاکلي پړاو په ټوله موده کې بنسټيز بدلون نه کوي.

**۳)** د غورځنګ او تاکتيک جزر و مد. تاکتيک د يوه غورځنګ د جزر و مد (ښکته کېدا او پورته کېدا) په لنډه موده کې د پرولتاريا د کړنلارې ټاکنه، د انقلاب پورته کېدنه يا را لوېدنه (صعود او نزول)، د مبارزې د پخوانيو بڼو او تشکيلاتو په نويو بڼو باندې بدلونه، د پخوانيو شعارونو په نويو هغو اړونه او د دغو ټولو بڼو په راغونډولو سره د دغې کړنلارې د مخ ته وړلو او پلي کولو لپاره مبارزې ته وايي. په داسې حال کې چې د ستراتېژۍ موخه له تزارېزم يا بورژوازي سره په جګړه کې بری او له تزارېزم او يا بورژوازي سره تر وروستي بريده مبارزه ده، تاکتيک د ځان مخې ته بې اهميته موخې ږدي، ځکه چې د تاکتيک موخه په ټوليزه توګه د جګړې ګټل نه دي، بلکې موخه يې په دې يا هغې جګړې کې بری او د دغو او يا هغو بريدونو او يرغلونو بريالي سرته رسول دي، چې د انقلاب د لوړتيا او ځوړتيا (صعود او نزول) له

تاکلو موقعیتونو سره سمون ولري. تاکتیک د ستراتېژۍ جزء دی او د ستراتېژۍ د امرونو پلي کوونکی دی.
تاکتیک د جزر و مد (د انقلابي غورځنګ لوړتیا او ځوړتیا) اړتیاوو ته په پام سره بدلیږي. لکه څنګه چې د انقلاب په لومړي پړاو (له ۱۹۰۳ ز څخه د ۱۹۱۷ ز تر فبرورۍ) کې ستراتېژیکه نقشه بدله نه شوه، خو تاکتیک پکې څو واره بدل شو. د ۱۹۰۳ - ۱۹۰۵ ز کلونو په بهیر کې، د ګوند تاکتیک یرغلیز او بریدګر تاکتیک وو، د دې لپاره چې انقلاب خپې وهلې او د غورځنګ لوری مخ پر بره وو، ځکه نو تاکتیک هم باید له دې حقیقت او عینیت سره همغاړی وای. له همدې لامله، د مبارزې بڼې هم انقلابي وې او د انقلاب د را پورته کیدونکو موجونو غوښتنه یې انعکاسوله. سیمه ییز سیاسي اعتصابونه، سیاسي لاریونونه، ټولیز سیاسي اعتصاب، د دوما تحریم، پاڅون، د انقلابي مبارزې شعارونه؛ دا ټولې د مبارزو هغه بڼې وې چې په دې پړاو کې به یې د یو او بل ځای نیوه. د مبارزو د بڼو په بدلون سره به، سازماني شکلونو هم په هغه پړاو کې بدلون مونده. د فابریکو او کارخانو کمیټې، د بزګرانو انقلابي کمیټې، اعتصابي کمیټې، د کارګرانو د استازو شوراګانې او لږ تر لږه علني کارګري ګوند، دا هغه سازماني شکلونه وو چې د دې پړاو په اوږدو کې موجود وو.
د ۱۹۰۷ - ۱۹۱۲ ز کلونو په پړاو کې، ګوند اړ وت چې د شاتګ تاکتیک ته مخه کړي، ځکه په هغه وخت کې انقلابي غورځنګ مخ پر ځوړه وو او تاکتیکونو نه شوای کولای چې دا واقعیت نه لیدونکی وګڼي. له همدې

وضعیت سره سم، د مبارزو بڼو او د سازمان شکلونو هم بدلون وکړ. د دوما د تحریم پر ځای - په دوما کې ګډون؛ له دوما څخه بهر د علني انقلابي هڅو پر ځای، د دوما په دننه کې ویناوې او کار؛ د ټولیزو سیاسي لاریونونو پر ځای- واړه اقتصادي لاریونونه او یا هم اصـــولي چوپتیا. ډاګیزه ده چې ګوند په دې پړاو کې اړ شـــو چې پټ حالت ته ولاړ شـــي او خلقي انقلابي تشـــکیلونه هم هغو تشـــکیلونو ته چې قانون اجازه ورکوي، لکه فرهنګي او مدني تشکیلونه، کوپراتیف، بیمه او داسې نورو ته واړوي.

همدغه مسأله باید د انقلاب د دویم او دریيم پړاو په برخه کې هم ووایو چې هلته هم لســګونه واره تاکتیکونه رد و بدل شـول، په داســې ترڅ کې چې د ستراتېژۍ په تګلارو کې بدلون رانغی.

د تاکتیک ســـر وکار د مبارزو له ډولونو، د پرولتاریا له تشـــکیلاتي بڼو او د هغوی د بـدلولو او همغږي کولو ســـره دی. د انقلاب د یو ټـاکلي پړاو پر بنســـټ، تـاکتیکونـه شـــوني ده چې څو څو واره د جزر و مد د اړتیاوو او د انقلاب لوړتیا او ځوړتیا ته په کتو سره بدل شي.

۴) <u>ستراتیژیکه رهبري.</u> د انقلاب زیرمې په لاندې ډول دي:

<u>سیده (مستقیمې) زېرمې:</u>

الف) د خپل وطن بزګران او په ټولیز ډول د خلکو منځني پوړونه؛

ب) د ګاونډیو هېوادونو پرولتاریا؛

ج) په مستعمرو او ناخپلواکو هیوادونو کې انقلابي غورځنګ؛

د) د پرولتـاري دېکتـاتورۍ بریـاوې او لاس تـه راوړنې- چې پرولتـاریـا د لنډمهال لپاره شـوني ده له دغو یې ځینې ورپرېږدي، خو ورسـره جوخت د خپلو ځواکونو برلاسـي وساتي، ترڅو یې په دې ډول له یو ځواکمن دوښمن څخه د بیا چمتوالي لپاره وخت پېرلای وي.

ناسیده (غیر مستقیمې) زېرمې:

الف) د هېواد په دننه کې د ناپرولتاري طبقاتو ترمنځ تضادونه او ټکرونه چې پرولتـاریـا کولای شـي د دوښـمن د کمزوري کولو او د خپلو زېرمو د ځواکمنولو لپاره ترې ګټه واخلي؛

ب) د پرولتاري دولت د دوښمنو بورژوازي دولتونو ترمنځ تضادونه، ټکرونه او جګړې (لکه امپریالېستي جګړه) چې شوني ده د برید یا مانورې او یا هم اجباري شاتګ پر وخت د پرولتاریا له لوري وکارول شي.

د لومړي ډول زېرمو په اړه سپړنې او شننې ته اړتیا نه شته، ځکه چې د هغې ارزښـت ټولو ته څرګند او روښانه دی. خو د دویم ډول زېرمو په اړه، چې په ډېر بـاور یې ارزښـــت دومره څرګند نه دی، باید وویل شـــي چې کله کله د انقلاب د پرمختګ لپاره اوله درجه ارزښـــت لري. د بېلګې په توګه نه شـــو کولای له هغه ســـتر اهمیت څخه انکار وکړو چې د لمړني انقلاب پر وخت او بیا له هغې وروسته د کوشنیو بورژوا دېموکرتانو (سوسیالېست انقلابیان) او لـیبرال-ســـلطنتي بورژوازۍ (کـادېتیـان) ترمنځ ټکرونـه موجود وو چې د بورژوازۍ له اغېزې څخه یې د بزګرانو په راوېستلو کې ډېر ارزښمن رول ادا کړ. په همدې ډول، د اکتوبر د انقلاب په بهیر کې د امپریالیســتانو د اصـــلي

ډلو ټپلو ترمنځ، د ویجاړونکي جګړې له فوق العاده اهمیت څخه هم انکار نه شــو کولای، هغه وخت چې امپریالیســتان په خپلو منځونو کې په جګړې بوخت وو، ونه توانېدل چې خپل ځواکونه د ځوان شوروي دولت پر خلاف ځای پرځای کړي او په دقیق ډول له همدې لامله پرولتاریا بریالۍ شوه، چې د خپلو ځواکونو ســمبالونه په لاســونو کې واخلي، خپل ځواک په ډاګه کړي او د کلچــاک او دنیکین نــابودۍ تــه لار هواره کړي. اوســـمهــال چې د امپریالیســتي ډلو ترمنځ تضــادونه او ټکرونه ورځ تر بلې په ژورېدو دي او د هغوی په منځ کې د یوې نوې جګړې پېښېدل پوره باوري بریښي، دغه ډول زېرمې به د پرولتاریا لپاره ډېرې ارزښتناکې وي.

د ســـتراتیژیکې رهبرۍ دنــده دا ده چې لــه دغو ټولو زېرمو څخــه د انقلاب بنسټیزې موخې ته د رسـیدو لپاره، د هغې د پرمختګ په یوه ټاکلي پړاو کې سمه ګټه واخلي.

له زېرمو څخه سمه و سهي ګټه اخیستنه څه شی ده؟

دا د ځینو اړینو شــرایطو پلي کول دي چې ترټولو بنســټیز هغه یې په لاندې ډول دي:

<u>اول.</u> په یوه برخلیک ټاکونکې شېبه کې د دوښمن په ترټولو کمزورو ټکو د اصــلي انقلابي ځواکونو راټولول، دا هغه وخت چې انقلاب نور نو پوخوالي ته رســېدلای وي، هغه وخت چې برید مخ پر وړاندې روان وي، هغه وخت چې پاڅون او بغاوت دروازه ټکوي او هغه وخت چې د مخکښو پر لوري د زېرمو راکښل، د بریالیتوب پرېکنده شرط ګرځېدلای وي. د ۱۹۱۷ ز. کال له

اپرېل څخه د دغه کال تر اکتوبر پورې د ګوند سـتراتيژي، له زېرمو څخه د همدغه ډول ګټې اخيستنې يوه بېلګه په ګوته کوي. بېشکه چې په دغه پړاو کې د دوښمن ترټولو کمزورى ټکى، د جنګ ټکى وو او په همدغه بنسټيزه مسأله کې دا کمزورى ټکى وو چې له لامله يې ګوند د هېواد د وګړو پراخې پرګنې، د انقلاب پر مخکښه طبقې يانې پرولتاريا باندې راټولې کړې. په هغه پړاو کې د ګونـد سـتراتيژي دا وه چې مخکښـو ته د لاريونونو له لارې، په کوڅو کې د هڅو څرنګوالى ور زده شـي او پـه ورتـه وخـت کې زېرمې د جبهې شـاته د شـوراګانو له لارې او پخپله په جبهه کې د سرتېرو د کمېټو له لارې د سرلارو (مخکښو) پر لوري را وڅکول شي. د انقلاب پايلې وښوده چې له زېرمو څخه په سمه او سهي توګه ګټه اخېستل شوې ده.

لنين له انقلابي ځواکونو څخه د دې ستراتيژيکې ګټه اخېستنې په برخه کې، د پاڅون په اړه د مارکس او اينګلز د مشـهورو تېزونو پر شـنلو سـره داسـې وايي:

«۱) هېڅکله له پاڅون سـره لوبې مه کوئ، کله مو چې پيل کړ، نو په ټينګه وپوهېږئ چې بايد تر پايه يې پر مخ يوسئ.

۲) اړينه ده چې په يو غوڅ او ټاکونکي ځاى کې، د ځواکونو لويه برلاسـي راټوله شـي، که نه نو دوښـمن به، چې له ښـه چمتوالي او جوړښـت برخمن دى، پاڅونيان له منځه يوسي.

۳) يو ځل چې پاڅون پيل شي، نو بيا په ډېر ستر هوډ عمل وکړئ او هرومرو په ټوله مانا بريد وکړئ. **"دفاع، د هر وسله وال پاڅون مړينه ده."**

۴) پر دوښـــمن غلچکی یرغل (نابېره برید) ور وړئ او له هغې ګړۍ، چې د دوی ځواکونه پکې خواره او پاشلي وي، ګټه واخلئ.
۵) که ډېر کوشـنی هم وي، خو خپل ورځني (که مسـاله له یو ښـار سـره تړاو ولـري نـو هـره ګـړۍ) پرمختلون تـه پـایښـــت ورکړئ. پـه هر ډول چې کېږي،"رواني او اروایي برلاسـي" مو وسـاتئ.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۱ ټوک، ۳۱۹او ۳۲۰ مخونه)

دویم. د پرېکنـده ګوزار کولو او علني پـاڅون د پیلولو لپـاره د وخـت ټاکنه: وروسته له هغې چې پوه شوو، کړکېچ تر خپلې هسکې څوکې (انتها) ورسېد، مخکښان تر خپلې وروستۍ سلګۍ پورې د جګړې لپاره چمتو او زېرمې یې هم ملا ور تړي او په ورته حال کې د دوښمن په لیکو کې هم زیات نه زیات اړودوړ او وېره خواره ده.
لنین وایي:

«برخلیـک ټاکونکي جګړه هغه وخت رارســېدونکي او پاخه و کره ګڼلای شو که چیرې
۱ – زموږ ټول دوښـــمن طبقـاتي ځواکونـه پـه پوره ډول وارخطا او په خپلو منځونو کې سـره ښکېل وي، د نازغموږ مبارزې په پایله کې یې خپل ځانونه پوره بې سېکه کړې وي؛ که چېرې
۲ -ټول دوه زړي، ټکني او منځلاري بې ټیکاوه عناصر، یانې وړه بورژوازي او یا د وړې بورژوازي دېموکراسـي، له بورژوازۍ څخه جلا شـوي، په عمل

کې يې ماتي خوړلې او خپل ځانونه يې پوره د ولس پر وړاندې رسوا او بې پته کړې وي؛ که چيرې

۳ - د پرولتاريا په منځ کې د بورژوازۍ پر ضد، د خورا غوځو او هوډمنو انقلابي هڅو په پلوۍ احساسات را پورته شوې وي او په ډېره ځواکمنتيا سره وده کوي. ټيک همدلته انقلاب را نژدې کېږي... ټيک همدلته زموږ برى، که مو چېرې هغه شرايط چې پورته ياد شول... سم سهي په پام کې نيولې وي او وخت مو هم په سم ډول ټاکلى وي، کره دی.» (وگورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک ۲۲۹ مخ)

د اکتوبر پاڅون د ترسره کېدا شېوه هم د همدغه ډول ستراتېژۍ يوه مخبېلگه (موډل - اُلگو) گڼلای شو.

له دغو شرايطو مخ اړونه، د يوې خطرناکې تېروتنې لامل کېږي چې "د چټکتيا له لاسه ورکول" نومېږي، يانې کله چې گوند د غورځنگ له حرکت څخه وروسته پاتېږي او يا له هغې ډېر مخته ځغلي، نو د ماتي له خطر مخ کېږي. "د گړنديتوب له لاسه ورکولو" بېلگه او دا چې څه ډول د پاڅون د شېبې په غوراوي کې تېروتنه شوني ده، د ځېنو هغو ملگرو هڅه يادولای شو، چې غوښتل يې د ۱۹۱۷ ز. په سېپټمبر کې، پاڅون د دېموکراتيکې شورا په نيولو سره پيل کړي، يانې هغه وخت چې په شوراگانو کې لا هم دوه زړېتوب او ټکنيتوب تر سترگو کېده، لا هم جبهه په دوه لاري کې ايساره وه او زېرمې د مخکښانو پر لوري نه وې را ښکل شوي.

دریم. له ټولو ستونزو او پیچلتیاو سره-سره پر هغه تګلوري غوښ مزل، چې غوره شوی دی، دا ځکه چې مخکښان د مبارزې بنسټیزه موخه له پامه ونه غورځوي او خلک د دغه موخې پر لور د حرکت پر وخت له لارې وا نه وړي او د خپل سرلښکر (مخکښ) پر شاوخوا را ټول شي. د پورته شرایطو له پامه غورځول د سترو تېروتنو لامل کېږي چې ماڼوګان (بېړۍ چلوونکي) ورسره ډېر ښه بلد دي او دوی یې د "تګلوري له لاسه ورکول" بولي. له دېموکراتیکې شورا وروسته زموږ د ګوند ناسم چلند باید "د خپل تګلوري له لاسه ورکولو" یوه همدغسې بېلګه وشمېرو، یانې کله چې ګوند پرېکړه وکړه چې په ابتدایي پارلمان کې ګډون وکړي. ګوند په دې شيبه کې هېر کړي وو چې د ابتدايي پارلمان جوړول هغه هڅه ده، چې د بورژوازي له لوري د شوراګانو له لارې، د هېواد د کړولو او د بورژوازي پارلمانېزم لارې ته د هغه د ور دننه کولو لپاره کېږي. ځکه نو په یوه دغسې مؤسسه کې د ګوند برخه اخېستنه، شوني ده چې ټول هغه کارګران او بزګران چې "د ټول واک و ځواک د شوراګانو لاسونو ته" تر شعار لاندې یې انقلابي مبارزه کوله، بېلاري کړي. دغه تېروتنه له ابتدايي پارلمان څخه د بلشویکانو په وتلو سره سمه شوه.

څلورم. کله چې دوښمن پیاوړی وي او شاتګ اړین وي او د هغې جګړې بې ګټې والی، چې دوښمن یې پر موږ راتپي، له وړاندې څرګند وي، نو د زېرمو او ځواکونو منظم شاتګ، په بله وینا داسې وخت کې چې شاته تګ

د شته ځواکونو تناسب ته په کتو سره، له بريد څخه د مخکښو د خلاصون او د خپلو زېرمو د ساتلو يوازينۍ وسيله وي.

لنين وايي:

«انقلابي گوندونه بايد خپلې زده کړې بشپړې کړي. هغوی يوازې دا زده کړې دي چې څنگه بريد وکړي. اوسمهال بايد هرومرو دغه پوهه په يوې بلې پوهې سره بشپړه کړي، هغه دا چې څنگه سم شاتگ وکړي. بايد چې دې ټکي ته ځير شي او انقلابي طبقه د خپلې ترخې تجربې په پايله کې، په دې ټکي وپوهېږي چې د بريد او شاتگ سمه و سهي لاره نه زده کول، برى ناشونى کوي.» (وگورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۷۷ مخ)

د دې ډول ستراتېژۍ موخه؛ د وخت ترلاسه کول، د دښمن د ځواکونو پاشل او د راتلونکې بريد لپاره د ځواکونو راټولول دي.

د برېست – لېتوفسک[1] د سولې لاسليکول د دغه ډول ستراتېژۍ يوه بېلگه گڼلای شو، ځکه چې گوند ته يې دا کابو په لاس ورکړه چې په امپرياليستي پنډغالي کې له شته ټکرونو څخه گټه واخلي او د دوښمن ځواکونه سره

[1] - د برېست – لېتوفسک سوله ييز تړون د لمړي نړيوال جنگ په ترڅ کې د جرمني ټولواکۍ په مشرۍ، د مرکزي ځواکونو او شوروي روسيې ترمنځ، له څو مياشتو پرلپسې خبرو اترو پس د ۱۹۱۸ ز. کال د مارچ په درېيمه نېټه د برېست په ښار کې لاسليک شو، چې پر بنسټ يې د روسيې او جرمني جگړه پای ورسېده، خو جرمني د خپل جگړه غوښتونکي دريځ په درلودلو سره، د تړون مفادات په ناعادلانه شکل سره ترتيب کړې وو او د روسيې دولت چې خلکو ته يې د جگړې د پای ته رسولو وعده ورکړې وه، مجبوراً دا تړون منلای وو. کله چې د ۱۹۱۸ ز کال په پای کې، جرمني د جگړې په نورو خواوو کې ماتې وخوړه او داخلي ښورښونه پکې زيات شول، بلشويکانو هم دا تړون لغوه اعلان کړ. (ژ.ل.ل)

وپاشي، د بزګري پرګنو ملاتړ را خپل کړي او پر کولچاک او دنیکېن د برید لپاره خپل ځواکونه را غونډ کړي.
لنین هغه وخت ویل:

«موږ د دغې بېلې سولې په لاسلیکولو سره، اوسمهال خپل ځان تر ممکنه بریده د دواړو دوښمنو امپریالېستي ډلو له شره خلاصوو او د هغوی له خپل منځي دوښمنۍ او جګړې څخه- چې زموږ پر ضد معامله د هغوی لپاره ستونزمنوي-، ګټه اخلو او یو ټاکلی پړاو لاس ته راوړو، چې په خلاصو لاسونو سوسیالېستي انقلاب ته پایښت او ټینګښت ورکړو.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۲ ټوک، ۱۹۸ مخ)
لنین د برېست -لېتوفسک له لاسلیکولو څخه درې کاله وروسته هم ویل:

«"اوسمهال یو لېونی هم" پوهېږي چې د "برېست -لېتوفسک تړون" د سولې لپاره یوه امتیازي ورکړه وه، چې موږ یې ځواکمن او امپریالېستي ځواکونه یې مات کړل.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۷ ټوک، ۷ مخ)

همدا هغه بنسټیز اصول دي چې د ستراتیژیک مشرتابه سموالی تضمینوي.

۵) تاکتیکي مشري (رهبري). تاکتیکي مشري، د ستراتیژیک مشرتابه یو جزء دی او د هغې د اړتیاوو او موخو پر لاره مخ ته ځي. د تاکتیکي مشرتابه دنده دا ده چې د پرولتاریا په ټولو مبارزوي او سازماني بڼو واکمن شي او د شته ځواکونو پرتلې ته په کتو سره، زیات نه زیاتو پایلو ته د رسېدلو لپاره له

هغې څخه سـمه گټنه، چې د ستراتیژیک پرمختگ د لمړنیو تیارو لپاره اړینه ده، تامین کړي.

د پرولتاریا له مبارزوي او سازماني بڼو څخه سمه گټه اخېستنه څه ده؟

د ځینو هغو اړینو شـرایطو پلي کول دي، چې ترټولو ارزښـمن هغـه یې پـه لاندې ډول دي:

اول. په لومړي پړاو کې، د مبارزې او تشـکیلاتو هغه بڼو ته ارزښـت ورکول، چې له هرڅه وړاندې د غورځنگ د لوړتیا او ځوړتیا له اوسـمهالو شـرایطو سـره برابر وي او د دې وړتیا ولري، چې انقلابي دریځ ته د خلکو رسـول، د انقلابي جبهې پر لوري د میلیونونـه پرگنو تېـل وهل او په جبهه کې د هغوی ځای پر ځای کول تضمین او کره کړي.

کیسـه دا نه ده چې سرلاري (مخکښ) د پخواني رژیم د پاتېدنې په ناشونتیا او د هغې په هرومرو رانسـکورېدنه باندې پوهه شـوي وي. بلکې کیسه دا ده چې پخپلـه خلـک، د خلکو میلیونونـه پرگنې پـه دې اړتیـا وپوهېږي او د سـرلارو د غوڅ ملاتړ لپاره خپل چمتوالی وښیي. مگر خلک یوازې د خپلو شـخصـي ازمېښتونو له مخې کولای شي، پر دې وپوهېږي. کیسه دا ده چې د خلکو میلیونونـه پرگنو تـه د دې وخـت ورکړو چې د خپلو شـخصـي ازمېښـتونو لـه مخې د پخواني حکومت د له منځه تلنې په اړتیا او اړینوالي باندې وپوهېږي او د مبارزې او تشکیلاتو دغسې بڼې غوره شي، چې خلک په اسانۍ وتوانېږي چې د خپل ازمېښت له مخې، د انقلابي نارو او شعارونو سموالی وپېژني.

که زموږ ګوند پر خپل وخت، په دوما کې د برخې اخیستنې پرېکړه نه وای کړې او دا یې نه وای پټېیلي، چې خپل ځواکونه د کار لپاره پر دوما را ټول کړي او مبارزې ته پر همدې بنسټ پراختیا ورکړي، ترڅو خلک د خپلو شخصي ازمېښتونو له مخې د دوما بې ګټې والی، د کادېتیانو د ژمنو دروغجنوالی، له تزارېزم سره د جوړجاړي ناشونتیا او له کارګرې طبقې سره د بزګرانو د یو ځای کیدنې اړتیا درک کړي، نو هرومرو مخکښ له کارګرې طبقې جلا کیده او کارګرې طبقې هم په ورته ډول له خلکو سره اړیکه غوڅوله. د دوما په پړاو کې د خلکو له ازمېښتونو (تجربو) څخه پرته، د کادېتیانو رسوایي او د پرولتاریا د هېژمونۍ رامنځ ته کېدل ناشوني ول.

د اتزووېزم[1] د تاکتیک خطره په دې کې وه، چې دغه تاکتیک سرلاري (مخکښ) له خپلو میلیونونو زېرمو څخه جلا کول.

که پرولتاریا د "کیڼ اړخو" کمونېستانو له ګروهې څخه چې د ۱۹۱۷ ز. کال په اپرېل کې د پاڅون غوښتونکي ول، پیروي کړې وای، هغه وخت چې منشویکان او سوسیالېست انقلابیان لا تر دې دمه د جګړې او امپریالېزم د پلوۍ په تور نه ول رسوا شوې او خلکو تراوسه د خپلو شخصي لیدنو-کتنو له مخې د سولې، ځمکې او ازادۍ په اړه د منشویکانو او سوسیالېست انقلابیانو د دروغجنو ویناوو په اړه نه ول پوهیدلي، ګوند له کارګرې طبقې

۱ - اتزووېزم (د اتزېوات له کړنومي (مصدره) اخېستل شوې روسي کلیمه ده، چې مانا یې "را غوښتل " ده. دا د وړې بورژوازۍ یو اپرچونېستي بهیر وو چې د بلشویک ګوند په لیکو کې موجود وو او د (۱۹۰۸-۱۹۱۲) د ارتجاع په کلونو کې یې تبارز وکړ. اتزووېستان له دولتي دوما څخه د سوسیال دېموکرات استازو وتل غوښتل او په کارګري ټولنو او نورو کارګري علني سازمانونه کې یې له کار کولو ډډه کوله.

بېلیـده او کارگرې طبقې هم د بزگرانو او ســرتېرو د پراخو پرگنو ترمنځ خپل اغېز بایله. د کرنسکي په مهالپېر کې د خلکو له ازمېښت پرته، منشویکان او ســوســیالیســت انقلابیان نه تجریدیدل (گوښــه پاتې کېدل) او د پرولتاریا دېکتاتوري هم ناشـوني کېدله. له همدې لامله، د وړې بورژوازۍ گوندونو د "صبرناکې څرگندونې" تاکتیک او د شوراگانو دننه د علني مبارزې تاکتیک، یوازینی سم تاکتیک وو.

د "کیڼ اړخو" کمونېســتانو د تاکتیک خطره دا وه، چې گوند یې د پرولتاري انقلاب د لارښوونکي پر ځای، د یو بې گټې او بې بنسټه دسیسه گرو په ډله باندې بدلاوه.

لنین وایي:

«ســوبه یوازې په ســرلارو (مخکښــو) نه ترلاســه کېږي. تر هغې چې ټولې طبقې او پراخو پرگنو خپل ملاتړ له دغو سـرکښـانو څخه نه وي څرگند کړی او د دوی سیده ملاتړ ته یې نه وي رادنگلي او یا یې لږ تر لږه د هغوی په اړه یو روغ نیتی ناپېیلی تمایل نه وي غوره کړی... یوازې ســرکښــان برخلیک ټـاکونکي جگړې تـه ور ټېـل وهـل نـه یوازې لېونتوب، بلکې جنـایت گڼل کېږي، خو د دې لپاره چې په رښتیا ټوله طبقه او د خواریکښو پراخې پرگنې، چې د پانگوالۍ د ظلم او زورزیاتي لاندې ژوند تېروي، تر یو دغسـې دریځ ورسیږي، یوازې پروپاگند او تبلیغ بسنه نه کوي، بلکې په خپله د دغو خلکو سـیاسـي ازمېښــت (زده کړې) هم اړین دی. دا د ټولو سترو انقلابونو بنسټیز (اسـاسـي) قانون دی چې اوسـمهال نه یوازې روسـیې، بلکې جرمني هم په

ډېره ځواکمنتیا او هېښنده څرګندوالي سره د هغې پخلی کړی دی. نه یوازې د روسیې ښار او ښاړل (بې فرهنګه) او زیاتره نالوستي خلک، بلکې د جرمني ډېرلوستي او بشپړ فرهنګیال خلک هم اړ شول، چې د خپل تریخ ازمېښت له لارې، د بورژوازۍ او دویم انترناسیونال د اتلانو د حکومت پر وړاندې، بشپړه بېځواکي، ناتواني، ناچاري او غلامي وڅکي او د پرولتاري دېکتاتورۍ د یوازیني بدل په توګه، د افراطي ښاتګ پالو (مرتجعینو) د دېکتاتورۍ حتمي والی (په روسیه کې د کورنیلوف او په جرمني کې د کاپ[1]) په خپلو سترګو ووینې، چې اېله بېله یې په غوڅ ډول کمونېزم ته پام ور واوړي.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۸۸ مخ)

دویم. په هره ټاکلي شېبه کې د پېښو د زنځیر هغه ځانګړې کړۍ پیدا کول، چې د هغې په نیولو سره ټول زنځیر په لاسونو کې وساتلای شو او ورسره ستراتېژیکو بریاوو ته د رسېدلو شرایط برابر کړو.
یانې د هغو مسایلو له منځه چې د ګوند مخې ته راغلې دي، په ځانګړي ډول هغه د ورځې مسأله بېلول او غوره کول، چې د هغې حل له نورو ټولو هغو ډېر اړین او ډېر مهم وي او د هغې حلاول، د نورو ټولو ورځنیو مسایلو د چټک حل لامل کیږي.

---

۱ - کاپ (۱۸٦٧- ۱۹۲۲)- په جرمني کې د ۱۹۲۰ ز کال د انقلابي ضد کودتا لارښود وو چې په "چټي کاپ" هم مشهور وو، دی په داسې حال کې د نوي حکومت رئیس شو چې د حکومت عمر یې ډېر لږ وو او د جرمني کارګرانو د ټولیز اعتصاب په پایله کې را وغورځید.

د دې اصل اهمیت شوني ده په دوو بېلګو سره څرګند کړو، چې یوه یې له هغو څخه په ډېرو پخوا وختونو (د ګوند د جوړېدو وخت) پورې اړه لري او دویمه هغه یې نومهالي وخت ته د ډېرو نژدې ورځو شپو (د نېپ د پړاو) کیسه ده.

د ګوند د جوړېدو په زمانه کې، هغه وخت چې ګڼې ټولنې- کړی او سازمانونه لا له یو بله سره اړوند (تړلي) نه وو، هغه وخت چې ګوند سر ترپایه لنډه اندیو او ډلبازیو په سر اخېستی وو او هغه وخت چې ایډیالوژیکي او فکري ګډوډیو، د ګوند د داخلي ژوندانه اصلي ځانګړنه جوړوله؛ نو په دغه پړاو کې تر ګردو اړینه دنده، چې د هغه وخت د ورځنیو مسایلو په لړ کې د ګوند مخې ته پراته وه، د ټولې روسېې لپاره، د یوې مخفي ورځپاڼې (ایسکرا) د ایجاد مسأله وه.

ولې؟ ځکه چې یوازې د ټولې روسېې لپاره د یوې مخفي ورځپاڼې له لارې شوني وه، چې د هماغه وخت له شرایطو سره سم، یوه داسې همغږي هسته یا په بله وینا ګوند، چې په یوه واحد کې د ګڼو ټولنو او سازمانونو د راټولونې او نښلونې او د یو ایډیالوژیکي او تاکتیکي یووالي د تیارونې شرایط او په دې توګه د یو رښتیني ګوند د بنسټ ایښوونې وړتیا ولري، رامنځ ته کړي.

له جګړې څخه اقتصادي رغاونې ته د لېږد په پړاو کې، هغه وخت چې صنعت په ډېر بد حالت کې ټپکاو درلود، کرنه د ښاري تولیدي توکو له کمښت سره مخ وه او له کرنیز اقتصاد سره، د دولتي صنعت د نښلونې ایجاد د بریالي سوسیالیستي رغاونې بنسټیز شرط ګرځېدلی وو، په همدغه پړاو کې

د پېښو د زنځیر په لړۍ کې مهمه کړۍ او بنسټیزه دنده د سوداګرۍ پرمختیا وه. ولې؟ ځکه چې د نېپ په شرایطو کې د صنعت او کرنیز اقتصاد ترمنځ نښلون، بې له سوداګریزې لارې په بل ډول شونی نه دی؛ ځکه چې د نېپ په شرایطو کې له پلور (خرڅلاو) پرته تولید، د صنعت د مرګ په مانا دی؛ ځکه چې صنعت یوازې د پلور له پراختیا او د سوداګرۍ له پرمختیا سره وده کوي؛ ځکه چې یوازې د سوداګرۍ په برخه کې د خپل دریځ له ټینګېدو او پر سوداګرۍ له برلاسۍ او کنټرول وروسته، کولای شو صنعت او کرنیز بازار یو له بل سره ونښلوو او ورسره د سوسیالېستي اقتصاد د بنسټونو ایښولو د شرایط لپاره نور ورځني مسایل حل کړو.

لنین وايي:

«انقلابي والی، یا د سوسیالېزم پلوي او یا په ټولیز ډول کمونېست کېدل بسنه نه کوي... باید چې هره ځانګړې شېبه وپېژنې او بیا پکې د زنځیر هغه ځانګړې کړۍ ومومې، چې بیا د ټول زنځیر د لاس ته راوړلو او یوې بلې کړۍ ته د ور لېږدېدو لپاره په خپل ټول ځواک پسې ونښلې»... «اوسمهال... دا ډول کړۍ د کورنۍ سوداګرۍ بیا راژوندي کول او هغې ته پرمختیا او پراختیا ورکول دي، خو په دې شرط چې د دولت لخوا کنټرول او سمې لورې ته یې ته لارښوونه وشي. سوداګري، د تاریخي پېښو د زنځیر هغه "کړۍ" ده، چې باید د ۱۹۲۱-۱۹۲۲ ز کلونو د سوسیالېستي رغاونې د انتقالي شکلونو تر منځ "په خپل ټول ځواک پسې ونښلوو..." » (وګورئ د روسي چاپ ۲۷ ټوک، ۸۲ مخ).

همدا هغه اړین شرایط دي چې د تاکتیکي مشرتابه سموالی تامینوي.

٦) ریفورمېزم (سمونپالنه) او انقلابېزم (اوښتونپالنه).

د انقلابي تاکتیک او ریفورمیستي تاکتیک ترمنځ څه توپیر دی؟

ځینې خلک پـه دې اند دي، چې لنینېزم په ټولیز ډول له ریفورم (سـمون)، روغې جوړې او سازښت سره مخالف دی. دا خبره سمه نه ده. بلشویکان له بل هر چا په دې ښـه پوهیږي چې په یوه ټاکلي جاج (مفهوم) سـره"له نشـته نانې هم ښـې دي" او د ځانګړو شـرایطو لاندې، په ټولیز ډول ریفورم او په ځانګړي ډول روغه جوړه او جوړجاړی اړین او ګټور دی.

لنین وایي:

«ایـا دا خنـداوونکي نـه ده چې د نړیوالې پـانګوالۍ د راپرځونې په لاره کې جګړه کوو، هغه جګړه چې د دولتونو ترمنځ له پېښېدونکو عادي جګړو سل واره سـتونزمنه، اوږده، پیچده او سخته ده او بیا په دې جګړه کې د دوښمنانو ترمنځ د ګټو لـه رامنځتـه کېـدونکي ټکر څخـه ګټـه اخیسـتنـه (که څه هم لنـډمهـالي وي) له پامه غورځوو او د ممکنه متحدینو د جوړجاړي او روغې جوړې شونتیا (که هرڅو دا متحدین لنډمهالي، بې ټیکاوه، ټکني او مشروط هم واوسـي) نه منو؟ ایا دا یوه داسـې کړنه نه ده، لکه د یوه ستونزمن غره سر ته د ختلو په حال کې چې لا ناپېژندە دی او د چا پلونه نه دي ور رسـېدلي، مخکې له مخکې پریکړه کوو چې خپل ځان په کنډو کپرو کې نه اچوو، آن

یو ګام نه اخلو او له هغې لارې څخه چې غوره کړې مو ده، نه ګرځو او د کوم بل لوري لاره هم نه نیسو؟ »
(وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۱۰ مخ)

څنګه چې وینو کیسه پر رېفورم یا سازښت، سولې او روغې جوړې نه ده، بلکې پر هغه ګټه اخېستنه ده چې خلک یې له رېفورم او سازښت څخه کوي.

د یو رېفورمېست شخص لپاره؛ رېفورم هر څه دی، خو انقلابي کړنې یوازې د خبرو اترو او بحثونو موضوع ده، له همدې لامله د بورژوازي حکومت په شرایطو کې، رېفورمېستي تاکتیکونه خامخا د دغه حکومت د ټینګیدو او د انقلاب د دړې وړې کولو په یو اوزار باندې بدلیږي.

خو سرچپه د یو انقلابي لپاره، اصلي موضوع انقلابي کار دی، نه رېفورم. دی رېفورم یوازې د انقلاب یو فرعي پیداوار ګڼي. ځکه نو، انقلابي تاکتیکونه د بورژوازي حکومت په شرایطو کې، په طبیعي ډول د دې حکومت د نړونې، د انقلاب د ټینګښت او انقلابي غورځنګ د لا پراختیا په یوه اوزار باندې بدلیږي.

یو انقلابي شخص، رېفورم د دې لپاره مني چې هغه لکه چنګک له مخفي کار سره د علني کار د نښلونې لپاره وکاروي او له هغې څخه د مخفي کار د پیاوړتیا لپاره د یو سرپوښ په څېر، د بورژوازي د راپرځولو لپاره، د خلکو د انقلابي چمتوالي په پار ګټه اخلي.

همدا له رېفورم او سـازښـت څخه د امپرياليزم په شـرايطو کې انقلابي ګټه اخيستنه ده.

خو سـرچپه يو رېفورمېسـت شخص، رېفورم د دې لپاره مني چې له هر ډول مخفي کـار څخـه ډډه وکړي، د انقلاب لپـاره د خلکو د چمتوالي په کارونو کې خنډ واچوي او د "ډالۍ شوي" رېفورم سيوري ته اوږد او ارام وغځيږي. همدا د رېفورمېستي تاکتيک مانا ده.

د امپرياليزم په شـرايطو کې د رېفورمونو (سمونونو) او جوړجاړيو مسأله هغه ده چې موږ يې پورته په اړه خبرې وکړې.

خو وروســتـه د امپريـاليزم لـه راپرځېـدو او د پرولتـاري دېکتـاتورۍ لـه را ښرګنديدو، کيســه تر يوه بريده بدليږي. شـوني ده چې د پرولتاريا حکومت په ټاکلو شرايطو او ځانګړيو حالاتو کې اړ شي، چې د شته رژيم د بيارغونې انقلابي تګلورې د لنډمهـال لپـاره پرېږدي او د تـدريجي بـدلون تګلورې (رېفورمېســتي تګلورې) پرمخه واخلي، چې لنين په خپله مشــهوره ليکنه "د طلا ارزښت" کې هم ورته اشاره کوي، يانې نامخامخ لاره، ناپرولتاري طبقاتو ته د امتياز ورکولو لاره، ترڅو د دغو طبقاتو د تجزيې لپاره انقلاب ته د سـا اخيسـتلو يوه کابو په لاس ورشـي، چې د ځواکونو يوځای والی وسـاتي او د نوي بريد لپاره شــرايط برابر کړي. له دې خبرې انکار نه شــو کولای چې دا لاره تر يوه ټاکلي بريده "رېفورمېستي" لاره ده. خو دا مو بايد په ياد وي چې يو ډېر بنسـټيز توپير شته او هغه دا دی چې دلته رېفورم د پرولتاري حکومت لـه لوري پلی کيږي، يـا په بله وينا له پرولتاري حاکميته ســرچينه اخلي او د

پرولتاري حکومت د ټينګښــت لامل کېږي او د دې رېفورم موخه د انقلاب تجزيه نه، بلکې د ناپرولتاري طبقاتو تجزيه ده.
ځکه نو د دغه ډول شرايطو لاندې رېفورم، په خپل ضد باندې بدلېږي.
پـه دې توګـه کـه چېرې پخوا د بورژوازي حکومـت پـه پېر کې، رېفورم د انقلاب فرعي پيداوار وو، اوسمهال يانې د پرولتاري دېکتاتورۍ په پېر کې د رېفورم سرچينه، د پرولتاريا انقلابي سوبې (فتوحات) او هغه زېرمې دي، چې د پرولتاريا په لاسونو کې راټولې شوې دي.
لنين وايي:

«يوازې مارکســېزم د رېفورم او انقلاب ترمنځ اړيکې (مناســبات) په ســم او دقيق ډول ټـاکلي دي، خو پـه دې ترڅ کې مارکس يوازې د دغو اړيکو يو لوری لېدلای شـو او هغه داســې حالت وو چې لږ تر لږه په يوه هېواد کې، د پرولتاريا له لمړۍ څه نا څه دوامداره او ټينګې بريا څخه وړاندې موجود وو. په دغسـې شـرايطو کې د رېفورم په اړه د يو سـم ليدلوري بنسټ دا وو، چې هغـه د پرولتـاريـا د طبقـاتي انقلابي مبـارزې يو فرعي محصـــول وګڼو... د پرولتـاريـا لـه بري وروســـتـه، کـه څـه هم په يوه هېواد کې وي، د انقلاب او رېفورم په مناســـباتو او اړيکو کې يو نوی ټکی را څرګندېږي. د اصـــولو له مخې، مسأله په هماغه پخواني حالت پاتېږي، خو د شـکل له مخې پکې يو بـدلون منځ تـه راځي، چې مـارکس پخپله نشـــوای کولای د هغې وړاندېينه وکړي، خو د هغې پېژندنه يوازې د مارکسـېستي فلسفې او سياست پر بنسټ شـــوني ده... د هغه هېواد لپاره چې بريالی شـــوی، دا (يانې رېفورمونه – ج.

ســتـالین)، (پـه داســې حـال کې چې په جهاني کچه بیا هم هماغه "فرعي محصول" واوسي)، دغې بریا ته له رسیدو پس، په هغو حالتونو کې چې کله په ځواکونو باندې زښت ډېر فشـار راشي او نور د دغه یا هغه انقلابي بدلون لپاره پوره ځواک نه وي، د یوې اړینې او روا سـا کښـنـې (تنفس) حکم لري. بریا، د ځواکونو یوه داسې "زېرمه" په لاس درکوي، چې آن د جبري شاتګ پـه وخت کې هم کیدلای شـــي چې ځان هم له مادي پلوه او هم له معنوي پلوه خوندي وساتې.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۷ ټوک، ۸۴-۸۵ مخونه)

# ۸

# ګوند

له انقلابه په وړاندې پېر کې، د څه نا څه سـوله ييزې پرمختيا پېر، هغه وخت چې د دويم انترناسـينوال ګوندونه د کارګري غورځنګ مخکښ او برلاسـی ځواک وو او د پـارلمـاني مبـارزې بڼې د اصـلي بڼو په توګه پېژندل کېدې، ګونـد هغه سـتر او پرېکنده ارزښـت، چې وروسـته يې د علني ټکرونو په شـرايط کې خپل کړ، نه درلود او نه يې هم لرلای شـو. کايوتسـکي پر دويم انترناسـيونال د شـويو بريدونو په دفاع کې وايي، چې د دويم انترناسـيونال ګوندونه د سـولې اوزار دي، نه د جګړې او همدا لامل وو چې په هغوی کې د جګړې او د پرولتـاريـا د انقلابي پاڅونونو په بهير کې د ارزښـمنو ګامونو اوچتولو سـبکه نه وه. دا خو بيخي سـمه ده، خو د دې مانا څه ده؟ مانا يې دا ده، چې د دويم انترناسيونال ګوندونه، د پرولتاريا د انقلابي مبارزې په درد نه لګېږي او د پرولتـاريـا د مبـارزې ګوندونه نه دي چې کارګران د حکومت و

خواته بوځي، بلکې يوازې انتخاباتي ماشــينونه دي چې د پارلماني انتخاباتو او پـارلمـاني مبـارزو لپـاره پنځېدلي دي. دا خبره چې د دويـم انترناســيونال اپرچونېستانو د برلاسی په پېر کې، د پرولتاريا بنسټيز سياسي سازمان، گوند نه وو، بلکې پـارلمـاني فراکســيون (ډلـه) وه، پـه حقيقـت کې د همدې خبرې ښـــکـارنـدويـه ده. دا خو څرگنـده ده، چې گوند په دغه پېر کې په پارلماني فراکسـيون پسـې نښتی او هغې ته لاس په نامه ولاړ توکی وو. نو په دغه ډول شـرايطو کې او د چارو په سر کې د دغسې گوند په شته والي سره، د انقلاب لپاره د پرولتاريا د تيارولو خبرې، هسې چټي باتې ويشتل وو.

مگر د نوي پېر پـه راټوکېـدو ســره کيســې بنســټيز بدلون وکړ. نوی پېر، د څرگنـدو طبقاتي ټکرونو پېر، د پرولتاريا د انقلابي لاريونونو پېر، د پرولتاري انقلاب پېر او د امپرياليزم د راپرځولو او ځواک لاســته کولو لپاره د ځواکونو د ســيده تيارونې پېر دی. دغه پېر د پرولتاريا مخې ته نوي مســايل ږدي: په نوې انقلابي معيـارونو ســره د ټولو گوندي چارو بيا ســمبالول، د حکومت لاسته کولو لپاره د انقلابي مبارزې په روحيه د کارگرانو روزنه، د زېرمو چمتو کول او مارش کول، د گاونډيو هېوادونو له پرولتاريا سـره يووالی، د مستعمره او ناخپلواکو هيوادونو له ازاديپاله غورځنگ ســره د ټينگې اړيکې رامنځته کول او داسـې نور او نور. د دې تصـور مانا چې کولای شو دغه نوي مسايل د پخوانيو ســوســيال دېموکرات گوندونو په ځواکونو ســره حل کړو، هغه گوندونه چې د پارلمانېزم په سـوله ايېزو شـرايطو کې يې وده کړې ده؛ دا ده چې خپل ځانونه په بشــپړې ناهيلی او څرگندې ماتې ســره محکوم کړو. د

دغو مخ ته پراتو دندو ســره ســره، که پرولتاریا د زاړو ګوندونو تر مشــرتایه لاندې پاتېږي، نو مانا یې دا ده چې ځان یې په بشــپړ ډول بې وســلې کوي. بېشکه چې پرولتاریا دغسې حالت ته غاړه نه شي ایښوواې.

لـه همـدې ځـایـه د یو نوي ګونـد د رامنځ ته کېدو اړتیا را پورته کېږي، نوی ګونـد، یو انقلابي ګونـد، یو پوره زړور ګونـد چې وتوانیږي، پرولتـاریـا د حکومت نیونې لارې ته ور وځکوي، یوه پوره ازمېښتکار ګوند، چې سخت او پېچلي انقلابي شرایط وپېژني، پوره نرمښت منونکی (انعطاف پذیر) ګوند، چې موخې ته د رسېدو په لاره کې له ټولو نالېدونکو خنډونو تېر شي.

لـه دغـه ډول ګونـد پرتـه د امپریـالېزم راپرځولو او د پرولتاري دیکتاتورۍ د لاسته راوړلو فکر هم باید ونه کړو.

دغه نوی ګوند، لنینېستي ګوند دی.

خو دا نوی ګوند څه ځانګړنې لري؟

۱) <u>ګونـد، د کارګرې طبقې د مخکښ په توګه.</u> ګوند باید تر ټولو وړاندې د کـارګرې طبقې مخکښ وي. ګونـد بـایـد د کـارګرې طبقې ټول بهترینـه عناصر، د هغوی انقلابي تجربې او بېشانه ځان ځارونه (فداکاري) خپل ځان ته ور جذب کړي. خو د دې لپاره چې ګوند په رښتیني مانا مخکښ واوسي، باید په انقلابي تیورۍ او د غورځنګ او انقلاب د قوانینو په علم مسلح شي. له دې پرته به ګوند د پرولتاریا د مبارزې لارښــوونه او په خپل ځان پســې د پرولتاریا د روانولو وړتیا ونه لري. که ګوند خپلې چارې یوازې د هغو شـیانو ثبتولو ته، چې کارګره طبقه یې ننګېري او فکر پر کوي، را لنډ و تنګ کړي،

د خپلـــــسري غورځنګ پیروۍ ته ور پرېوځي، همدارنګه که ګوند ونه شي کولای چې د دغه خپلســــرو خوځښـتونو پر سـکون او سـیاسـي ناپېیلتوب برلاسـی شـي او د پرولتاریا له سملاسي ګټو پښه وړاندې کېږدي او خلک د پرولتاریا د طبقاتي ګټو د درک کچې ته ور پورته کړي، رښتینی ګوند نه دی. ګونـد بـایـد د کـارګرې طبقې پـه لمړۍ لیکـه کې حرکت وکړي، د کارګرې طبقې څخه وړاندې وویني او پرولتاریا په ځان پسې روانه کړي، نه دا چې د خپلسرو پېښو او بهیرونو په پلونو روان وي. د دویم انترناسیونال ګوندونه چې " پیروي یا په بله نومونه (khvostism)" تبلیغوي، د بورژوازي سـیاســت، یانې د هغه سیاسـت پلي کوونکي دي، چې پرولتاریا د بورژوازي په لاسونو کې یوازې د یو اوزار پـه توګـه محکوموي. دلتـه نو یوازې هغـه ګوند چې د پرولتاریا د مخکښ پر شـرایطو برابر وي او د دې وړتیا ولري چې پرولتاریا د طبقـاتي ګټو د درک کچې تـه ور پورتـه کړي؛ کولای شــي کـارګره طبقه د سـندیکالېزم له لارې راوګرځوي او په یو خپلواک سـیاسـي ځواک یې بدله کړي.

ګوند، د کارګرې طبقې سیاسي سرلاری دی.

مـا لـه مخـه د کـارګرې طبقې د مبـارزې د کړاوونو، ســتونزمنو موقعیتونو، سـتراتېژۍ او تاکتیک، د زېرمو، مانورونو، بریدونو او شـاتګونو په اړه خبرې وکړې. د دغو شـرایطو سـختوالی که له جګړه ییزو شـرایطو ستونزمن نه وي، نو ترې لږ خو نه دی. څوک کولای شــي چې دغه شــرایط په سـهي ډول وپېژني، څوک کولای شــي چې په دغو شــرایطو کې د کارګرانو د میلیونونه

پرګنو سمه لارښوونه وکړي؟ هر هغه پوځ چې نه غواړي ماتې وخوري، باید یو ستر ازمېښتکار درستیز ولري. نو ایا دا څرګنده نه ده چې که پرولتاریا نه غواړي د ده سوګند خوړلي دوښمنان یې پوپناه کړي، د دغسې یو درستیز نه لرلو ته په هېڅ ډول غاړه نه شي ایښوواى؟ خو دا درستیز چېرته دی؟ دا درستیز یوازې د پرولتاریا انقلابي ګوند کېدلاى شي. کارګره طبقه له انقلابي ګوند پرته، لکه یو بې درستیزه پوځ، داسې ده.

ګوند د پرولتاریا ستر درستیز دی.

خو ګوند یوازې د مخکښانو یوه ډله نه ده. هغه باید په ورته حال کې د طبقې مخکښه ډله او هم د طبقې یو داسې جزء واوسي، چې په خپلو ټولو وجودي ریښو ورسره تړلی وي. تر هغې چې طبقې له منځه نه وي تللي او د کارګرو طبقه پرلپسې له هغو خلکو څخه، چې له نورو طبقو وځي، ډکیږي او د کارګرو ټوله طبقه نه وي توانیدلي، چې د مخکښو کچې ته ور پورته شي، د مخکښانو او کارګرې طبقې، د ګوندي او ناګوندي یوګړو اشخاصو ترمنځ توپیر هم له منځه نه شي تللاى. خو که دا توپیر په یوه ستر درز او خلا باندې واوړید او ګوند له خلکو څخه په پوره ډول لرې او ګوښه پاتې شو، نو بیا ګوند هم د ګوندوالي له حالته لرې کېږي او ګوند نه پاتېږي. کله چې ګوند له ناګوندي پرګنو سره نښلون ونه لري او دا پرګنې د دغه ګوند مشري په خوښامندانه (رضاکارانه) ډول قبوله نه کړي او ګوند د خلکو په منځ کې له اخلاقي او سیاسي باوره برخمن نه وي، نو نه شي کولاى چې د طبقې لارښوونه وکړي.

په دې وروستیو کې د کارگرانو له لیکو څخه نږدې دوه سوه زره(دوه لکه) نوي غړي زموږ په گوند کې منل شوي. ډېره پاموړ خبره دا ده چې دا خلک پخپله له گوند سره نه دي یو ځای شوي، بلکې د نورو ناگوندي کارگرانو لخوا، چې د نویو غړو په شاملیدو کې یې کارنده ونډه او لېوالتیا ښودلې، گوند ته ور پېژندل شوې دي. څکه چې د هغوی له پخلي پرته نوي غړي نه شول منل کېدای. دا حقیقت موږ ته د دې حکایت کوي چې د کارگرانو پراخه ناگوندي پرگنې، زموږ گوند خپل گوند گڼي او د زړه له تله د هغې پیاوړتیا او پرمختیا ته لېواله دي او په خوښامندانه ډول خپل برخلیک د هغوی مشرتابه (رهبری) ته سپاري. هیڅ زباد ته اړتیا نه لري چې له دغه ډول نامریي اخلاقي تارونو پرته، چې گوند له ناگوندي پرگنو سره نښلوي، گوند نه شي کولای چې د خپلې طبقې په پرېکنده څواک بدل شي.

گوند د کارگر طبقې نه بېلیدونکی جزء دی.

لنین وایي:

«موږ د یوې طبقې گوند یو او له همدې لامله نژدې ټوله طبقه (او د جگړې پر وخت، یا د کورني جنگ پر وخت بیخي ټوله طبقه) باید زموږ د گوند تر مشرتابه لاندې عمل وکړي او زموږ له گوند سره تر شوني بریده ډېره نژدې وي، خو دا به مانېلوویزم[1] او د (بشپړې پیروی khvostism) فکر وي، که

۱ - څانخوښي (څانته غره)، پوچ خیال پلو. مانیلوف: د گوگل "د مړیو ارواوې" د کتاب یو اتل کرکټر.

په دې اند يو چې د پانګوالۍ تر شرايطو لاندې، ټوله طبقه يا نږدې ټوله طبقه په دې وتوانيږي چې د خپلو مخکښانو (سوسيال دېموکراتانو) د اګاهۍ کچې ته ور پورته شي. هيڅ هوښيار سوسيال دېموکرات لا پر دې مسأله شکمن نه دی، چې د پانګوال رژيم تر شرايطو لاندې، آن د کارګري ټولنو سازمانونه (چې پوهاى يې ډېر بدوي او د وروسته پاتې پوړونو (قشرونو) کچې ته پاتيږي) نه شي کړاى چې ټوله يا نږدې ټوله کارګره طبقه تر پوښښ لاندې راولي. د مخکښانو او ټولو هغو خلکو ترمنځ توپير هېرول، چې د هغوی لور ته ور ماتيږي او د مخکښې ډلې د دې تلپاتې دندې له ياده ايستل، چې د خپل پرمختګ کچې ته د پراخو پوړونو پورته کېدا ده، د خپل ځان غولولو او د دې دندو پر اهميت د سترګو پټولو او کوشني کولو مانا لري.»

(وګورئ د روسي چاپ ٦ ټوک، ۲۰۵-۲۰٦ مخونه)

۲) ګوند د کارګرې طبقې د يوې سمبالوونکې (متشکلې) ډلې په توګه.

ګوند يوازې د کارګري طبقې مخکښه ډله نه ده، که ګوند رښتيا غواړي چې د خپلې طبقې مبارزه رهبري کړي، بايد په ورته حال کې د خپلې طبقې يوه سمبالونکې ډله هم واوسي. د پانګوالۍ په شرايطو کې د ګوند دندې بيخي لويې او رنګارنګ (متنوع) دي. ګوند بايد د داخلي او بهرني تکامل په خورا سختو استثنايي شرايطو کې، د پرولتاريا مبارزه رهبري کړي. هغه وخت چې حالت يرغليز (تهاجمي) وي، پرولتاريا د يرغل او بريد خواته يوسي او هغه وخت چې شاتګ غوره وي، کارګران د ځواکمن دوښمن د ګوزار لاندې

خوندي تېر کړي. همدارنگه په میلیونونو نامتشکله او ناگوندي کارگري پرگنو کې د ډېسپلین (انظباط) روح پو او د نظم، ټيکاو، او ودرېدنې (استقامت) روحیه رامنځ ته کړي. خو گوند یوازې هغه وخت دا دندې سرته رسوای شي، چې پخپله هم د ډېسپلین، نظم او د پرولتاریا د سمبالوونکې ډلې ښکارندوی (تجسم) واوسي. له دې شرایطو پرته د گوند له لوري د میلیونونه پرولتاري پرگنو د رښتینې رهبرۍ په اړه، خوله هم نه شي خوځېدای. گوند د کارگرې طبقې سمبالوونکې ډله ده.

دا اند چې گوند یو سازمان شوی (متشکل) واحد دی، زموږ د گوند د اساسي قانون په لمړۍ ماده کې د لنین د هغه اوڅارې فارمولې پر بنسټ ځای پر ځای شوی او ټینگ شوی، چې وایي گوند د سازمانونو او غړیو یوه ټولگه ده؛ هغه ډول غړي چې د گوند په یو سازمان پورې تړلي وي. منشویکانو چې له هماغه ۱۹۰۳ ز. کال را وروسته یې د دې فارمولې پر ضد اعتراض اعلان کړی وو، پر ځای یې یو بل ډول "په گوند کې د خپلسري داخېلیدنې سیستم" دوداوه، یو سیستم چې هر هغه پوهاند، زده کړیال، خواخوږي او لاریوني کس ته یې د گوندي غړي "لقب" ورکاوه، چې په یو نه یو ډول به یې د گوند ملاتړ کاوه، خو په ورته حال کې به د گوند په هېڅ سازمان کې نه وو دننه شوی او نه به یې هم داسې کومه اراده درلوده. دا خو بې زباده د منلو ده چې که دغه هېښنده "سیستم" زموږ په گوند کې دود شوی وای، نو بې له ځنډه به گوند له پوهاندانو او زده کړیالانو ډک وای او د هغې ماهیت به یوې ناسازمانه، بې انډوله او بې انظباطه "ټولنې" ته اوښتی

وای، یوه داسې "ټولنه" چې د "خواخوږو" په سمندر کې ډوبه، د ګوند او طبقې تر منځ پولې یې نړولي او د مخکښې ډلې کچې ته د نامتشکلو پرګنو د ارتقاء په لاره کې یې د ګوند دندې تر پښو لاندې کړې دي. نور یې یادولو ته اړتیا نه شته چې په داسې یو اپرچونېستي "سیستم" سره، زموږ ګوند نه شوای کولای چې د انقلاب په بهیر کې د کارګرې طبقې د سمبالوونکې هستې رول ولوبوي.

لنین وایي:

«د ملګري مارتوف له انده، د ګوند پولې په بشپړ ډول ناڅرګندې دي، ځکه چې هر "اعتصاب کوونکی خپل ځان د ګوند غړی اعلانولای شي". د دې ناڅرګندوب (ابهام) ګټه څه ده؟ د "لقبونو" ستره پراخیدنه. زیان یې د طبقې او ګوند د ګډولو په اړه د سازمان ماتوونکو اندونو تولید دی.» (وګورئ د روسي چاپ ٦ ټوک، ۲۱۱ مخ)

خو ګوند یوازې د ګوندي سازمانونو ټولګه نه ده. ګوند د دې ترڅنګ د دې سازمانونو یو واحد سیستم او په یوه واحده ټولګه کې د هغوی رسمي راټولونه ده، چې د لوړ پوړو او ټیټ پوړو لارښوونکو مقامونو لرونکی وي. ډېری ته د لږه کي غاړایښوونه او د ګوند پر ټولو غړو یې حتمي پلي کیدونکي پریکړې، رغنده اجزاوې دي. له دې شرایطو پرته، ګوند نه شي کولای چې یو ټولیز متشکل واحد واوسي او د دې وړتیا ولري، چې د کارګري طبقې مبارزه په منظم او متشکل ډول رهبري کړي.

لنین وايي:

«پخوا زموږ گوند په رسمي ډول سره متشکل او يو موټی نه وو، بلکې يوازې له يو بله د جلا ډلو ټپلو ټولګه وه او له همدې لامله د دغو ډلو ټپلو تر منځ اړيکې هم پر يو بل باندې له ايدیالوژيک اغېز پرته بل څه نه شوې کېدلای. اوس، موږ يو سازمان شوی ګوند يو، د دې مانا د ځواک رامنځ ته کېدل، د ايديالوژيک اغېز بدلون د ځواک په اغېز باندې او له لوړ پوړو مقامونو څخه د ټيټ پوړو ګونديانو اطاعت دی.» (وګورې هماغه ټوک ۲۹۱ مخ)

زياتره وخت، ډېری ته د لږه کي د غاړايښوونې اصل او له مرکز څخه د ګوندي چارو لاربښوونه، په "بېروکراسۍ[1]" ، "فورمالېزم[2]" او داسې نورو نومونه تورنيږي او د بې ټيکاوه عناصرو تر بريد لاندې راځي. دا هېڅ زباد ته اړتيا نه لري چې د يوې واحدې ټولګې په توګه د ګوند پرله غښتی (سيستماتيک) کار او د کارګرې طبقې د مبارزې رهبري، د دغه پرنسيپونو له پلي کولو پرته ناشوني ده. لنينېزم، د سمبالونې (سازماندهۍ) په مسأله کې، د دغو پرنسيپونو بشپړه پلي کېدا ده. لنين د دغه اصولو پر ضد چې "روسي نهيلېزم" او "اشرافي انارشېزم" يې بلل ، مبارزه کوله او د مسخرې او شړنې وړ يې بلل.

---

۱ - دوتر‌واکی

۲ - جوليزواله

لنین د دغو بې ټیکاوه عناصـرو په اړه په خپل کتاب "یو گام پر وړاندې، دوه شاته" کې وايي:

«دا اربستوکراتیک انارشېزم په ځانګړي ډول د روسي نهیلېست پېژندنښه ده. دی گوندي تشـکیلونو ته د یوې وېروونکي "کارخونې" په سـترگه گوري، له کل څخه د جزء او ډېرې ته د لږه کي غاړایښـوونه "مریيتوب" گڼي او په دې اند دی چې کولای شـو بې له اصـولو او منشوره هم وخت تېر کړو... د مرکز تر لارښــوونې لانـدې يې د چـارو د وېش له کبله ویرژلي- ملنډیز فریادونه راخيژي... د گوند د سـازماني اصـولو یادونه د دې لامل کېږي چې دی ټنډه تروه کړي او د وېزارۍ او زړه تورۍ اظهار وکړي....»

«زما په اند دا کیسه بیخي څرگنده ده چې د بېروکراسۍ په اړه، دغه دروغجن هـا و هوی او دنگلې، یوازې د مرکزي کمېټې لـه غړو او جوړښــت څخه د ناخوښۍ پر مخ، یو ډول پرده غوړونه ده... ته بېروکرات يې، ځکه چې زما د خوښــې خلاف د مرکزي کمېټې لخوا ټاکل شـوی يې، ته فورمالېســت يې، ځکه چې د مرکزي کمېټې پر رسمي پرېکړو تکیه کوې، نه زما پر موافقې او خوښې سره؛ ته په ډېر زیږ تخنیکي ډول سره کار کوې، ځکه چې د گوند په کنگره کې "تخنیکي" ډېرې (اکثریت) ته مخ کوې او د مشـرتابه سیسـتم ته زما د ننوتلو لېوالتیا په پام کې نه نیسـې؛ ته زورواک (مستبد) يې ځکه چې نه

غواړې واک پخوانۍ ډلې او بانډ ته وسپارې»[1] (وګورئ د روسي چاپ ٦ ټوک، ۲۸۷ او ۳۱۰ مخونه)

۳) ګوند د پرولتاري طبقې، د عالي ترین سازمان په توګه. ګوند د کارګرې طبقې سمبالوونکې ډله ده. مګر ګوند یوازې د کارګرې طبقې سازمان نه دی. پرولتاریا یو لړ نور سازمانونو هم لري، چې له هغو پرته له پانګوالۍ سره بریالی مبارزه نه شي کېدای: کارګري ټولنې، کوپراتیفونه، د فابریکو او کارخانو سازمانونه، پارلماني ډلې، د ښځو ناګوندي ټولنې، رسنۍ، فرهنګي او مدني سازمانونه، د ځوانانو سازمانونه، انقلابي او نظامي سازمانونه د (علني انقلابي کړنو پر وخت) د دولتي جوړښتیزو بنو په توګه د استازو شوراګانې (هغه وخت چې پرولتاریا د حکومت په سر کې وي) او داسې نور. د دې سازمانونو لویه برخه یې ناګوندي دي او یوازې د هغې یوه برخه د ګوند یا د هغې له ځانګو سره مخامخ تړاو لري، دا ټول سازمانونه په ځانګړو شرایطو کې د کارګرې طبقې لپاره خورا اړین دي، ځکه چې له هغو پرته د مبارزې په بېلابېلو برخو کې، د پرولتاریا د طبقاتي دریځونو پیاوړتیا ناشونې ده، ځکه چې له هغو پرته پرولتاریا په داسې یو ځواک باندې نه شي بدلیدای، چې د بورژوازي رژیم په سوسیالیستي رژیم واړوي. خو د سازمانونو د دې ګڼوالي سره به د مشرتابه یووالی څنګه رامنځ کېږي؟ څه شی د دې ژمندویي ورکوي چې د سازمانونو دغه ګڼوالی به، د مشرتابه په چارو کې ګډوډي نه

۱ - دلته د بانډ اشاره د اکسلروډ، مارتوف او پوتروسف لوري ته ده، چې د دویمې کنګرې د پرېکړو پیروي یې نه کوله او لنین یې په بېروکراسۍ تورناوه. - ژ ستالین.

رامنځته کوي؟ کېدای شي وویاست چې هر یو یې په خپله ساحه کې کار کوي او یوه بل ته ستونزې نه جوړوي. البته دا سمه خبره ده، خو دا هم درسته ده چې دا سازمانونه باید پر یوه لوري ور سم یا هدایت شي. ځکه چې دوی ټول د یوې طبقې لپاره چوپړ کوي او هغه طبقه پرولتاریا ده.
پوښتنه را مخې ته کېږي- څوک هغه کرښلاره او ټولیز لوری، چې ټول سازمانونه باید پر هغه لوري وړاندې ولاړ شي، ټاکي؟ چېرته دی هغه مرکزي سازمان، چې د اړینې تجربې په لرلو سره نه یوازې دغه ټولیزه کرښلاره انځور کړي، بلکې برسېره پر دې دومره اغېز هم ولري، چې دا ټول سازمانونه د دغې کرښلارې پلي کېدا ته اړ او په دې توګه د مشرتابه یووالی ایجاد او په چارو کې د ځنډ و خنډ مخه ونیسي؟
دا سازمان د پرولتاریا ګوند دی.
د دې موخې د بشپړاوي لپاره ګوند ټول اړین وسایل په لاس کې لري، لمړی دا چې ګوند د کارګرې طبقې د خورا ارزښمنو عناصرو د ناستې او راټولیدنې ځای دی، چې دا عناصر له ناګوندي تشکیلاتو سره نامخامخ اړیکې لري او ترډېره د هغوی لارښوونکي دي؛ دویم، پر دې بنسټ چې ګوند د کارګرې طبقې د بهترینه وګړو د راټولیدنې ځای دی، نو د کارګرې طبقې د سرلارو (مخکښانو) د روزنې بهترین ښوونځی هم دی، چې د خپلې طبقې د بېلابېلو سازماني بڼو د مشرتابه وړتیا لري. درېیم، دا چې ګوند د کارګرې طبقې د سرلارو د روزنې بهترین ښوونځی دی، نو د خپلې تجربې او اغېز له کبله، یوازینی سازمان هم دی چې کولای شي د پرولتاریا د

مبارزې رهبري راغونډه کړي او د کارگرې طبقې هر ډول ناگوندي سازمانونه په مرستندویه اورگانونو او د گوند او طبقې ترمنځ پر نښلوونکي زنځير بدل کړي.

گوند د پرولتاري طبقې، د تشکیلاتو عالي ترین شکل دی.

البته، دا په دې مانا نه ده چې ناگوندي سازمانونه، لکه د کارگرانو ټولنې، کوپراتیفونه او داسې نور باید په رسمي توگه د گوندي مشرتابه اطاعت وکړي. موخه یوازې د گوند هغه غړي دي، چې په دې سازمانونو کې داخل او د اغېز خاوندان دي، گوند باید د دوی د قانع کولو لپاره خپلې ټولې هڅې وکاروي، چې دا غیر گوندي سازمانونه په خپل کارونو کې د پرولتاریا گوند ته نژدې شي او د رضایت او خوښۍ له مخې د هغې سیاسي رهبري ومني.

همدا لامل دی چې لنین وایي:

«گوند د پرولتاریا د راټولیدنې ترټولو عالي ترین شکل دی او د زیارکښو نور ټول سازماني شکلونه باید د هغه تر سیاسي رهبرۍ لاندې واوسي.»

(وگورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۹۴ مخ)

ځکه نو د ناگوندي سازمانونو د "خپلواکۍ" او "بې پلوۍ" اپرچونېستي تیوري، چې پایله یې د خپلواکو پارلماني غړو او له گونده د ګوښه او منزوي شویو خبریالانو، د کارگري ټولنو د تنگ نظره سرلارو او په وړې بوررژوا د

بدل شویو کوپراتیفانو[1] را پیدا کېدنه ده، په بشپړه توګه د لنینېزم له تیوري او پراتیک سره ناسازګاره ده.

۴) ګوند د پرولتاري دېکتاتورۍ د یوې وسیلې په توګه.

ګوند د پرولتاري سازمانونو عالیترین شکل دی. ګوند د پرولتاریا طبقې په دننه کې او د دې طبقې د سازمانونو په منځ کې، اصلي لارښوونکی ځواک دی. خو دا هېڅکله په دې مانا نه ده چې ګوند په خپل ذات کې د یو ځانبسیا ځواک په توګه وګڼو. ګوند نه یوازې د پرولتاریا د طبقاتي راټولیدنې (ټولنې) عالیترین شکل دی، بلکې په ورته حال کې د پرولتاریا په لاسونو کې، د دېکتاتورۍ د لاسته راوړلو لپاره (هغه وخت چې دا دېکتاتوري لا نه ده ترګوتو شوې) او د هغې د ټینګولو او پراخولو لپاره (هغه وخت چې ترګوتو شوې) یو اوزار دی.

که چېرې د پرولتاریا مخې ته د قدرت نیونې مسأله نه وای پراته، که چېرې د امپریالیزم شرایطو او د جګړو حتمي والي او د کړکیچونو شته والي د دې غوښتنه نه کولای، چې د پرولتاریا ټول ځواکونو په یوه ټکي راټول او د بورژوازي د راپرځونې او د پرولتاري دېکتاتورۍ د ترلاسه کېدا لپاره د انقلابي غورځنګ ټولې برخې په یوه ځای راغونډې شي، نو ګوند دومره لوی ارزښت او اهمیت نه پیدا کاوه او نه شول کېدای چې د پرولتاري سازمانونو نور ټول ډولونه یې، تر خپل سیوري لاندې راوستلي وای. ګوند د

---

[1] Co-operative officials-

پرولتاریا لپاره د یو ستر درستیز په توګه اړین دی، چې په بریالي ډول حکومت لاسته راوړي. دا خبره هېڅ زباد ته اړتیا نه لري چې روسي پرولتاریا د د دغسې یو ګوند له لرلو پرته، چې د پرولتاریا ټول خلقي سازمانونه په خپله شاوخوا راټول او د مبارزې په بهیر کې د ټول غورځنګ لارښوونه راغونډه کړي، نه شول کولای خپله انقلابي دېکتاتوري رامنځ ته کړي.
خو د پرولتاریا لپاره ګوند نه یوازې د دېکتاتورۍ ترلاسه کونې لپاره اړین دی، بلکې د سوسیالیزم د بشپړې بریا په ګټه د دې دېکتاتورۍ د ساتنې، ټینګښت او پرمختګ لپاره لا ډېر و ډېر اړین دی.
لنین وایي:

«دا اوس په غوڅ ډول ټولو ته ډاګیزه شوې ده، چې که چېرې زموږ په ګوند کې یو بې اندازې سخت او رښتینی وسپنیز دېسپلین نه وای او که چېرې زموږ ګوند د ټولې کارګرې طبقې لخوا، یا په بله وینا د ټولو هغو کسانو لخوا، چې په دې طبقه کې د تفکر، شرافت، زړورتیا او اغېز لرونکي دي او د دې وړ دي چې وروسته پاتې طبقې رهبري کړي، په بشپړ او ښرښندانه ډول نه ملاتړ کېدای، بلشویکانو دوه نیم کاله څه چې دوه نیمې میاشتې یې هم نشوای کولای حکومت په خپلو لاسونو کې وساتي.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۷۳ مخ)

خو د دېکتاتورۍ د "ساتنې او پراخونې" مانا څه ده؟ مانا یې دا ده چې په میلیونونو پرولتاري پرګنو کې د نظم او دېسپلین روحیه خواره شي؛ د وړې

بورژوازۍ د ویجاړونکي چاپېریال او عادتونو پر خلاف، د پرولتاري پرګنو په منځ کې یو ځواکمن تکیه‌ځای او مورچل رامنځ ته شـــي؛ د وړو بورژوا پوړونو د ماهیت و لوښـې بدلونې په برخه کې، د پرولتاریا سازماني چارې بیا نوې او ځواکمنې شي؛ له پرولتاري پرګنو سره مرسته او همکاري وشي ترڅو ځـان د داســې ځواک پـه توګه وروزي، چې د طبقاتو د محوه کېدا سـېکه ولري او د سـوسـیالېستي تولید د تنظیم شـرایط چمتو کړي. مګر د دې ټولو چارو پلي کول له یو دغســې ګوند پرته، چې د یووالي او انضــباط له پلوه په بشپړ ډول پیاوړی وي، ناشوني دي.
لنین وایي:

«پرولتـاري دېکتـاتوري، د زړې ټولنې د ځواکونو او دودونو پرخلاف یوه سرسخته، خونړۍ او ناخونړۍ، تاوتریخجنه او سوله ییزه، نظامي او اقتصادي، ښـوونیزه او سازماني مبارزه ده. د میلیونونه میلیونونه انسانان د عادت ځواک خورا وحشـي ځواک دی. له یو داسـې وسـپنیز ګوند پرته چې په مبارزه کې پوخ شـوی او د کارګرې طبقې د ټولو پاک زړو وګړو له باور او وېسا برخمن وي، د خلکو اندونو او دودونو ته ځیر او پکې نفوذ وکولای شي، ناشوني ده چې داسې مبارزه په بریالیتوب سره مخکې بوځي.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۱۹۰ مخ)

ګوند د پرولتاریا لپاره له دې اړخه هم اړین دی چې دېکتاتوري پرې ترلاسه کړي او بیا یې پرې وساتي. ګوند د پرولتاري دېکتاتورۍ اوزار دی.

مگر له دې ځایه دا پایله هم په لاس راځي، چې د طبقو د له منځه تلنې او د پرولتاري دېکتاتورۍ د ژوند په پای ته رسېدو سره، گوند هم له منځه ځي.

۵) ګوند د يو ارادي يووالي په توګه، چې له ډلو ټپلو (فراکسيونونو) سره مخالف دی.

د پرولتاري دېکتاتورۍ لاسته راوړل او ساتل له يوه داسې گوند پرته، چې د خپلې ارادې او وسپنيز دېسپلين له پلوه ځواکمن وي، ناشوني دي. خو په گوند کې وسپنيز دېسپلين د ارادې او ټولو گوندي غړو د بشپړ او بې پوښتنې عمل له يووالي پرته، د تصور وړ نه دی. هرگوره د دې دا مانا نه ده چې په دې توگه د گوند په دننه کې انديزې (فکري) مبارزې ناشوني کېږي. سرچپه وسپنيز دېسپلين، د گوند په دننه کې نيوکه او د اندونو ترمنځ مبارزه او ټکر نه نفي کوي، بلکې د هغې غوښتونکی دی. بيا هم په هماغه ډول، د دې دا مانا نه ده چې دا انضباط او دېسپلين دې "ړندوکی يا ړوند او کوڼ" واوسي. د دې سرچپه، وسپنيز دېسپلين د عقل او منطق پر بنسټ، يوه خپلخوښې غاړايښوونه (اختياري اطاعت) وړاندېزوي، ځکه چې يوازې د عقل او منطق پر بنسټ دېسپلين يو رښتينی وسپنيز دېسپلين کېدلای شي، خو وروسته له هغې چې د اندونو مبارزه پای ته ورسېده، انتقاد او نيوکه ختمه شوه او هوکړه وشوه، نو بيا د ټولو گوندي غړو د ارادې او عمل يووالی اړين دی، چې پرته له هغې نه يوموټی گوند شونی دی او نه هم په گوند کې اوسپنيز دېسپلين.

لنين وايي:

«اوسمهال، یانې د سختې کورنۍ جګړې په شرایطو کې، کمونېست ګوند یوازې هغه وخت کولای شي خپل دنده سرته ورسوي، چې سازمانونه یې تر شوني بریده مرکزیت ولري او پکې د نظامي ډېسلپین سره جوخت، وسپنیز ډېسپلین هم حاکم وي او ګوندي مرکز یې د دومره ځواکمن، برلاسي او پراخو واکونو لرونکی اورګان وي، چې ټول ګوندي غړي پرې باورمن وي.»
(وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۲۸۲-۲۸۳ مخونه)

همدا له ډېکتاتورۍ څخه په وړاندې شرایطو کې، د ګوندي ډېسپلین مسأله وه.

کټ مټ همدا باید په ګوند کې د ډېسپلین په اړه، له ډېکتاتورۍ ترلاسه کېدا وروسته هم یاده کړو.

لنین وایي:

«هر څوک، که د پرولتاري ګوند وسپنیز ډېسپلین په ډېره لږه اندازه هم کمزوری کړي (په ځانګړي ډول د پرولتاري ډېکتاتورۍ پرمهال) عملاً د پرولتاریا پر وړاندې د بورژوازي چوپړ کوي.» (وګورئ ۲۵ ټوک، ۱۹۰ مخ)

له دې ځایه دا پایله ترلاسه کېږي چې په ګوند کې د ډلو ټپلو شتون، هم د ګوند د یووالي خلاف دی او هم د هغې د وسپنیز ډېسپلین. د دې زباد هېڅ اړین نه دی چې د ډلو ټپلو شتون، د څو مرکزونو په شتون باندې پای رسېږي او د څو مرکزونو د شتون مانا، په ګوند کې د یو ګډ مرکز نشتوالی، د ارادي یووالي نړېدنه، کمزوري، ډېسپلین ختمیدنه او په پای کې د ډېکتاتورۍ

تجزیه کېدنه ده. څرګنده ده چې د "دویم انترناسیونال ګوندونه"، چې د پرولتاري دېکتاتورۍ پر وړاندې مبارزه کوي او نه غواړي چې پرولتاریا د حکومت تر پوړونو ورسوي، کولای شي د ځان لپاره دا ډول لیبرالېزم، د یوې پراکسیوني ازادۍ په توګه روا وګڼي، ځکه چې هغوی وسپنیز دېسپلین ته اړ نه دي. مګر د "کمونېست انترناسیونال ګوندونه" چې کړنې یې د دولت ترلاسه کونې او د پرولتاري دېکتاتورۍ د ټینګښت پر مسأله را چورلي، نه دا لیبرالېزم منلای شي او نه هم دا فراکسیوني ازادي.

ګوند د ارادي یووالي استازی دی او د ګوند په دننه کې له هر ډول ډلبازیو او اقتدار وېشنې سره په کلکه مخالفت کوي.
له همدې لامله لنین "د هر ډول ډلبازیو د بشپړې نړونې او له ګونده د ټولو هغو ډلګیو، چې د بیلابیلو تګلارو پر بنسټ جوړې شوي، د حتمي او بېړني لرې کونې غوښتونکی وو. (وګورئ "د ګوند د یووالي په اړه" پرېکړه‌لیک)

٦) ګوند، له اپرچونېستي عناصرو څخه د ځان په پاکسازۍ (تصفیې) سره، ټینګښت مومي.
په ګوند کې د ډلبازیو آره سرچینه، اپرچونېست عناصر دي. پرولتاریا یوه منزوي طبقه نه ده. بزګران، وړه ښاري بورژوازي او روڼاندي چې د پانګوالۍ د پرمختیا او پراختیا په پایله کې په پرولتاریا بدل شوي، پرلپسې زموږ د ګوند لوري ته را روان دي. دې سره جوخت د پرولتاریا لوړ پوړونه، په ځانګړې ډول د کارګري ټولنو سرلاري او پارلماني استازي، چې بورژوازي یې له

مستعمرو سیمو د رایستونکو فوق العاده ګټو یوه نیمه شیمه خولې ته ور اچوي، هم د ځوړتیا پر لور روان دي. لینن وایي:

«د کارګرانو دغه بورژوا شوی پوړ او یا "ارېستوکرات خویه کارګران" چې د خپل ژوند و ژواک، د خپلې اجورې د اندازې او ګروهې له مخې په بشپړ ډول کوشنی بورژوا ګڼل کېږي، د دویم انترناسیونال اصلي تکیه‌ځای او نن ورځ د بورژوازي اصلي ټولنیز (نه نظامي) تکیه‌ځای دی. ځکه هغوی د کارګري غورځنګ په دننه کې د بورژوازي رښتیني لاسپوڅي او د پانګوالې طبقې کارګري ځري دي.... »

(وګورئ د روسي چاپ ۱۹ ټوک، ۷۷ مخ)

د وړې بورژوا دې ټولو ډلګیو له بېلابېلو لارو ګوند ته لاره پیدا کړې او هلته د دوه زړۍ او اپرچونېزم روحیه او د بېلښت (تفرقې) او بې باورۍ روح پو کوي. په ټولیز ډول همدوی د ګوند له دننه څخه د ډلبازۍ، وېشنې، نړونې او اخلال اصلي سرچینه جوړوي. د جبهې شاته د دغسې "متحدینو" په لرلو سره، له امپریالېزم سره جګړه کول، د هغو خلکو سره ورته‌والی لري چې له دوو لوریو- هم له جبهې مخامخ او هم د جبهې له شا- پرې ګوزارونه کېږي. ځکه نو د دې عناصرو پر وړاندې بېرحمانه مبارزه او له ګونده د هغوی شړل، د امپریالېزم سره په مبارزه کې، د بریالیتوب لمړنی شرط دی.

د ایدیالوژیکې مبارزې له لارې، د ګوند په دننه کې پر اپرچونېستو عناصرو د "برلاسۍ" تیوري او د ګوند په لنډ و تنګ چوکاټ کې د دې عناصرو "د له مینځه وړنې" تیوري، یوه شړېدلې او خطرناکه تیوري ده، چې شاید ګوند

شل و شوټ (فلج) او په نه شلېدونکي (مزمنې ناروغۍ) باندې اخته کړي، د ښـــکار او لوټلو لپاره يې د اپرچونېزم ســـتوني ته ور وغورځوي، پرولتاريا له انقلابي گونـد پرتـه په شـــاړه ځمکه پرېږدي او د امپرياليزم پر وړاندې يې د مبارزې له اصلي وسلې بې برخې کړي.

که چېرې زموږ گوند په خپلو ليکو کې مارتوفيان[۱]، دانيان[۲]، پوتريسوفيان[۳] او اکســـلروديان[٤] درلوداى، نه شـــول يې کولاى چې دغومره اوږده لاره په بريـاليتوب تې کړي، دولتي ځواک لاســـتـه راوړي، د پرولتـاريا دېکتاتوري ســـمبـال کړي او له داخلي جنگ څخه په بريالیتوب راووځي. دا چې زموږ گوند د داخلي يووالي او د خپلو ليکو د بې ساري پيوستون په رامنځ ته کولو بريـالى شـــو، ترټولو مخکښ لامل يې دا وو چې په خپل وخت يې وکولاى شـــول، ځان د اپرچونېزم له ککړتيا څخه پاک او بېلتونپالان او منشـــوېکان د گونـد لـه ليکو څخـه وشـــړي. د پرولتـاري گونـدونو پراختيـا او پيـاوړتيـا د اپرچونېســـتانو او رېفورمېســـتانو، ســـوســـيال-امپرياليســـتانو او ســـوســـيال-شوونېستانو، سوسيال - ملتپالانو او سوسيال - پاسفېستانو د پاکسازۍ له لارې ترسره کېږي.

گوند، له اپرچونېســـتي عناصـرو څخه د ځان په پاکســازۍ (تصـفيې) ســره، ټينگښت مومي.

---

۱ Martov

۲ Dan

۳ Potresov

٤ Axelrod

لنین وایي:

«په خپلو لیکو کې د رېفورمسټانو او منشویکانو په لرلو سره، د پرولتاري انقلاب بریا ناشوني او ساتنه یې ناکېدوني ده. دا د اصولو له مخې زبادلې خبره ده او د روسیې او مجارستان دواړو ازمېښتونو ډاګیزه کړه... په روسیه کې، څو ځله داسې ستونزمن شرایط مخې ته راغلل، چې زموږ د ګوند په دننه کې د منشویکانو، ریفورمېستانو او وړو بورژوا دېموکراتانو په پاتېدو سره، د شوروي رژیم ړنګیدل حتمي شوي وو... ټول باوري دي، چې نن ورځ په ایټالیا کې، د دولتي ځواک د لاسته راوړلو لپاره د پرولتاریا او بورژوازي تر منځ، یوه حتمي جګړه پېښیدونکي ده. په دې ترځ کې نه یوازې له ګوند څخه د منشویکانو، رېفورمېستانو او توراتېستانو شړل بشپړ اړین دي، بلکې له مسؤلو دریځونو څخه د ډېرو ښو کمونېستانو لرې کول هم چې ټکني دي او له رېفورمېستانو سره د "یووالي" تمایل او هیله څرګندوي، شاید بې ګټې نه وي... د انقلاب په درشل کې او د انقلابي بري په ترټولو سخته کړکیچنه او اغزنه لاره، په ګوند کې دننه خورا لږ بې زړه توب هم شوني ده ټول مات او انقلاب شنډ کړي او په دې توګه حکومت د پرولتاریا له لاسونو بهر کړي، ځکه چې دا حکومت لا تراوسه ټینګ شوی نه دی او پر هغې لوېدونکی فشار خورا ځواکمن دی. که په دې وخت کې ټکني او متزلزل سرلاري له ګونده لرې هم پاتې شي، دا مسأله د کمزورۍ لامل نه کیږي، بلکې هم ګوند، هم کارګري غورځنګ او هم انقلاب ته ځواکمنتیا وربښي.» (وګورئ د روسي چاپ ۲۵ ټوک، ۴٦۲، ۴٦۳، ۴٦۴ مخونه).

# ۹

# کاري لاره (سبک)

دلته زما موخه ادبي سبک نه، بلکې د کار کولو سبک او په لنېنستي  پراتیک کې هغه ځانته ځانګړنه ده، چې د لنینېزم یو ځانګړی کارنده ډول رامنځته کوي. لنینېزم یو تیوریکي او پراتیکي (نظري، عملي) ښوونځی دی، چې یو ځانګړی فعال ګوندي او دولتي ډول رامنځته کوي او په چارو کې ځانتنی (منحصر بفرد) لنینېست سبک ایجادوي.

د دې سبک ځانګړنې څه دي؟

دا ځانګړنې دوې دانې دي:

الف) روسي انقلابي بهیر

ب) امريکايي ګټورتوب[۱]

لنينيزم په ګونديي او دولتي چارو کې، د دغو دوو ځانګړنو ترکيب دی. روسي انقلابي بهير د زوړپالنې (کهنه پرستۍ)، کاري څنډ، ځانساتنې (محافظه کارۍ)، فکري جمود او زړو دودنو ته سرټيټۍ پر ضد زهردرمل دي. روسي انقلابي بهير، هغه ژوند بښونکی ځواک دی چې فکر را ويښوي او مخې ته يې ځکوي، تېر لرې غورځوي او يو لرليد وړاندې کوي. پرته له دې وړاندې تګ ناشونی دی.

مګر که روسي انقلابي بهير له امريکايي ګټورتوب سره يو ځای نه شي، شوني ده چې په وچ او خالي انقلابي" مانيلوويزم" بدل شي. د دې ډول انقلابي مانيلوويزم بيلګې بېخي ډېرې دي. څوک پر هغه "انقلابي" ميرزايۍ او "انقلابي" نقشې جوړونې خبر نه دي، چې سرچينه يې د پرېکړه ليکونو په ځواک باندې د هر شي د ايجاد او سمون باور دی؟ يو روسی ليکوال ايليا ارنبورګ د "سکومچل" په کيسه کې (بشپړ مخبېلګی کمونيست انسان)، په دې ناروغۍ باندې د يو اخته کس بېلګه انځوروي. دا کس يو "بلشويک" دی چې موخه يې د يو بشپړ ايډيال انسان انځورول ټاکلي... او په دې "کار"

۱ - ګټورتوب (مؤثريت) يو غورځنګ وو چې د شلمې پېړۍ په پيل کې، د امريکا، انګلېستان او ځينې نورو هېوادونو دننه رامنځته شو. دا غورځنګ د اقتصادي، ټولنيزو او پراختيايي چارو په برخه کې، د ګټورو لارو چارو د پلي کېدا او د بې ځايه لګښتونو او ضايعاتو د پېژندنې او د هغې د له منځه وړنې غوښتونکی وو. دې مفهوم يو تخنيکي، اقتصادي او ټولنيز غوره والی په ځان کې رانغاړه. د ګټورتوب د غورځنګ اندونه د شوروي اتحاد د صنعتي کولو په پړاو کې، هلته خورا مشهور وو او په خپل ځای ترې سمه ګټه اخېستل کېده. (ژ.ل.ل)

کې "ښه پوره ډوب شوی". په کیسه کې ډېر مبالغه شویده، خو په دې کې هیڅ شک نه شته، چې نوموړي دغه ناروغي ډېره ښه تشخیص کړې ده. بل هېڅا دغه ناروغي دومره په بېرحمۍ او سختۍ نه ده رېشخند کړي، لکه لنین. لنین په انقلابي نقشه جوړونې او پرېکړه لیکونو دغه ناروغ باور "کمونېستي غرور" باله.

لنین وایي :

«کمونېستي غرور په دې مانا دی، چې د کمونېست گوند هغه غړی، چې لا په گوند کې دننه دی او ترې نه دی ایستل شوی، داسې فکر کوي چې د کمونېستي پرېکړه لیکونو (تصویب نامو) په صادرولو سره، ټول مسایل حل کولای شي.» (وگورئ د روسي چاپ ۲۷ ټوک، ۵۰، ۵۱ مخونه)

لنین زیاتره د تشو "انقلابي" خبرو او وییونو پر وړاندې، ساده دودیزې ورځنۍ کړنې په پام کې نیوې او په دې توگه یې ټینگار کاوه، چې میرزایي او "انقلابي" نقشه جوړونه، د رښتیني لنینېزم له اصالت او ماهیت سره په ټکر کې ده.

لنین وایي:

«لږ خالي او له شور و ځوږه ډکې جملې، ډېر ساده او عادي کار...»

«لږ سیاسي های و هوی، ډېر پام خورا ساده خو ارزښمنو مسایلو او د کمونېستي ودانۍ واقعیتونو ته......» (وگورئ د روسي چاپ ۳۴۳او ۳۳۵ مخونه)

سرچپه امریکایي ګټورتوب د های و هوی له مخې د "انقلابي" مانیلووېزم او دوترواکۍ خلاف زهر درمل دي. امریکایي ګټورتوب- هغه نه ماتیدونکی ځواک دی، چې هیڅ خنډونه نه پېژني، په خپل غوڅ ټینګار سره هر ډول خنډونه له مخې لرې غورځوي، کله چې کار پیل کړي، نو که ډېر کوشنی هم وي، خامخا یې پای ته رسوي او هغه ځواک دی، چې بې له هغې ودانیزې (ساختماني) چاري بې مانا دي.
خو که چیرې امریکایي ګټورتوب، له روسي انقلابي بهیر سره ترکیب او یوځای نه شي، په یو لنډ و تنګ او بې پرنسیپه پراکتېسېزم[1] بدلیږي. څوک به تراوسه د دې تنګ و لنډ ایمپرېسېزم[2] او بې پرنسیپه پراکتېسېزم ناروغۍ په اړه، چې ورو ورو ځینې "بلشویکان" د ماهیت بدلونې او له انقلابي عمله د لرې والي خواته ته ځکوي، خبر نه وي؟ دغه ځانګړې ناروغي د ب. پیلنیاک په کیسه "لوخ کال" کې انځوریږي، دی هلته د روسي "بلشویکانو" یوه بېلګه په ګوته کوي چې د ټینګې ارادې او کلک هوډ څښتن دی، پیاوړتیا لري، خو لرلید نه لري او نه پوهیږي چې د څه لپاره دا دومره لاس و پښې وهي، بالاخره په دې ډول فعالیتونو، خپل انقلابي تګلوری بایلي. د لنین په اندازه بل هېچا د پراکتېسېزم په دغې ناروغۍ باندي ټوکې نه دي کړي. دا

---

۱ Practicalism – هغه تمایل دی چې د انسانانو د تولیدي او ټولنیزو- تاریخي کړنو عملي لوری مطلقوي او د هغې نظري (تیوریکي) اړخ ته ارزښت نه ورکوي. (ژ.ل.ل)

۲ Empiricism – تجربه پالنه: هغه فلسفي تیوري ده چې وایي پوهه په بنسټیزه توګه یوازې د حواسو یا حسي ازمېښت له لارې ترلاسه کیږي. که څه هم د ایمپرېسېزم ټینګار په دې ټکي باندې درست دی، چې پېژندنه (شناخت) په تجربوي پوهې سره پیلیږي او زموږ د ټولوپوهنو آره منشا و سرچینه زموږ حواس دي، خو په یو اړخیز ډول، د حسي پېژندنې پړاو په ټولیز ډول له ټولې پوهې سره یو ګڼي او د سولیزې (عقلي) پېژندنې پړاو، چې له هغې پرته پېژندنه ناشوني ده، په پام کې نه نیسي. (ژ.ل.ل)

ناروغي لنين "لنډ ليدی اېمپرېسېزم" او "بې ماغزو پراکتېسېزم" بولي. دی د چارو د دې لارې و شېوې پرخلاف، په ټولو ورځنیو کارونو کې ژوندی او انقلابي عادي چارې او د یوه انقلابي لرلید درلودل زموږ مخې ته ږدي او په دې توګه ډاګيزوي چې دا بې پرنسیپه پراکتېسېزم هغومره له رښتيني لنينېزم سره ناسازګاره دی، لکه څومره چې "انقلابي" ميرزايي او نقشه جوړونه ده.

د روسي انقلابي بهیر ترکیب له امریکايي ګټورتوب سره، په ګوندي او دولتي چارو کې د لنينېزم اصلي جوهر جوړوي.

یوازې دغه ډول ترکیب دی، چې موږ ته د یو فعال لنينېستي کس بشپړه بېلګه او په چارو کې لنينېستي سبک په لاس راکوي.

# پای

*۱۹۲۴ ز. کال د اپرېل او مې میاشتې: د "پراودا" ۹٦،۹۷،۱۰۳،۱۰۵،۱۰۷، ۱۰۸، ۱۱۱ ګنې.*